Allama Rashad Academy

پښتانه په هندوستان کي:

# غالب جنګ

# غازي نواب احمد خان بنګښ

# او د هغه کورنۍ



علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد

## غالب جنگ

# غازي نواب احمد خان بنگښ

## او د هغه کورنۍ


لیکوال

علامه اکادیمسین پوهاند عبدالشکور رشاد

د کتاب ټول چاپي حقوق په خپروونکي پورې اړه لري

# کتاب پېژندنه


- د کتاب نوم : غالب جنګ غازي نواب احمد خان بنګښ او د هغه کورنۍ
- لیکوال : ................ علامه اکاډیمسین پوهاند عبدالشکور رشاد
- خپروونکی :........... علامه رشاد اکاډیمي ، کندهار - افغانستان
- کمپوز /ډیزاین........................... علامه رشاد اکاډیمي
- چاپ شمېر :............................... (۱۰۰۰) ټوکه
- چاپ کال :............................ ۱۳۸۵ش - ۲۰۰۷ع
- د خپرونو لړ :.................................. (۷)
- چاپ ځای :................................ کندهار

بسم الله الرحمن الرحيم

# یادونه

دا اثر د پښتنو د تاریخ د ځلانده احمد شاهي پېر ( عصر ) د نومیالیو پر هغي ورکي او زمونږ له نظره پټي پاڼي باندي رڼا اچوي، چي په هندوستان کي دلودي، غوري، سوري، کرلاڼیو، بنګښو او بړېڅو پښتنو د واکمنیو د برم او ویاړه ډکه پیښکه ده. دا اثر د پښتنو لویه پېرزوینه او د خپل ټاټوبي او قوم سره ژوره مینه ښیي، لوستل یې ټولو ځېرونکو، د تاریخ مینه والو او لوستونکو ته د ډېر ګټورتوب تر څنګ، ځینو ناسیالو ته، چي د څه بودولو (ترلاسه کولو ) له پاره خپل ورور د پردو چړو ته پرېږ باسي، د عبرت او پند درس هم کېدلای سي.

په دې اثر کي دا هم ښوول کېږي، چي د ډهلي په دربار کي د مغولو پاچاهانو عیش و نوش او د ایراني او توراني ډلو خپل منځي شخړو او لانجو دا دربار دوني کمزوره کړی وو، چي د مرهټیانو، جاټانو، بندیلي سیکانو او انګریزانو د لاسوهنو او برید نېز ( سېل ) ته یې بند نه سوای تړلای. او دا هم ښیي، چي له ډهلي څخه د ختیځ لور ته سل، یونیم سل میله لیري په فرخ آباد او روهیلکهنډ کي د نومیالیو او توریالیو پښتنو نوابانو په مېړانه او تدبیر د برم او عظمت داسي ستري نوابۍ جوړي سوې، چي له ډهلي څخه به پوهان، مشاهیر، حکما او شاعران هغو سیمو ته ور تښتېدل، ځکه خپل پت او عزت یې هلته خوندي لیدئ.

دا اثر په درو قلمي نسخو کي کښل سوی دی، چي لومړۍ نسخه یې ترټولو بشپړه ده او په ۱۳۴۹ لمریز کال کي لیکلې سوې ده، دا نسخه (۱۵۰) یوسلو پنځوس مخه ده، لومړي دوه مخه یې د کتاب نوم، یو مخ یې فهرست، دوه مخه یې ماخذونه، ۱۳۲ مخه یې متن، دوه مخه یې دوې نقشې او اووه مخه

يې پنځه شجرې دي.

قطع يې (۱۷ x ۲۳) سانتي ده، کاغذ يې ژړبخون دی، خط يې تر ډېره حده پوري په تور او شنه نوک اهني کښل سوی، ډېر ياداښتونه په سره رنګ پر زيات سوي، د کتاب نقشې د علامه بابا رحمه الله په خپل لاس کښل سوي دي، په وروستۍ برخه کي يې څو مخه د سړيو او ځايونو دنومونو له پاره سپين پرې ايښي دي.

دوهمه قلمي نسخه له لومړۍ نسخې څخه کاپي سوې نسخه ايسي، بشپړه نه ده، خو تر لومړۍ نسخې يې د اوډلو ترتيب او د ياداښتونو ليکل واضح دي. يو مخ يې د کتاب نوم، يو مخ يې فهرست، اووه مخه يې د پښتو، پارسي، اردو، عربي، انګرېزي او روسي ژبو د ماخذونو له پاره دي، يو مخ يې لومړۍ خبري، يو مخ يې نقشه، يو مخ يې شجره او ۸۳ مخه يې متن دی.

قطع يې (۱۷ x ۲۳) سانتي ده، کاغذ يې سپين بخون دی، خط يې تر لومړۍ قلمي نسخی څه واضح دی، د متن ډېره برخه يې په شنه نوک اهني ليکلې سوې، د بنګښو د سيمي د موقعيت نقشه تر لومړۍ نسخې ډېره واضحه او څه زياتوب پر ليدل کېږي، د کتاب په پای کي دوې پاڼي پر نښلول سوي، چي له لومړۍ نسخې څخه لوېدلي پاڼي ايسي.

درېيمه قلمي نسخه د موضوع په اړه د مقالو کوچنۍ ټولګه غوندي ايسي، د دې نسخې پاڼي لږ دي، قطع يې (۲۱ x ۲۹) سانتي ده.

نومړی اثر پر اوو برخو وېشل سوی دی: د ګنګا پر غاړه د پښتنو ټاټوبي، دبنګښو قبيله، نواب محمد خان بنګښ، نواب قايم خان بنګښ، نواب احمد خان بنګښ، د پاني پت په غزا کي د نواب احمد خان بنګښ برخه، په ۱۸۵۷ ع کال د هندوستان دآزادۍ په جنګ کي د دې کورنۍ برخه.

د دې اثر دا اوسنۍ چاپي بڼه له پورتنيو دريو سرو قلمي نسخو څخه ترتيب سوې ده. ځيني برخي چي بيخي نه لوستلي کېدې، هغو ته (...) يا (؟) ايښوول سوې ده. دغه راز د دې اثر فهرست، د سړيو نومونه، د ځايونو نومونه، کتابښود، د ماخذونو فهرست او دکتاب لنډه پېژندنه په

انگریزي ژبه، د علامه رشاد اکاډیمۍ له خوا ترتیب سوي دي.

علامه رشاد اکاډیمي دداسي سترو او علمي اثارو دچاپ له پاره بشپړه علمي تجربه نه درلوده، هرومرو به دغه لومړنی کار څه تېروتنې او نیمګړتیاوي ولري، خو هیله کوو، خپلي درنې علمي مشورې او پېرزویني پر موږ ولوروئ، څو په راتلونکو کارونو کي ستاسي لارښوونه زموږ د لاري بله ډیوه سي.

په پای کي دخاصي یادوني وړبولم، چي د دې کتاب د چاپ لګښت د سویډن د مالمو د ښار د کلتوري ټولني ادب پالو او هیواد دوستو غړو پر غاړه اخیستی دی، چي له دې لویې پېرزویني څخه یې ډېره- ډېره مننه کوم.

علامه رشاد اکاډیمي
محقق (څېړونکی) شېرشاه رشاد
۱۳۸۵ کال د کب شپږمه، کندهار

# فهرست


۱. لومړي خبري ........................ ۱
۲. په انتربېد کي د گنگا پر غاړه د پښتنو تاتوبي ........................ ۲
۳. قايم گنج ........................ ۶
۴. کاس گنج ........................ ۷
۵. بنگښ ........................ ۱۱
۶. د بنگښ قبيلې شجره ........................ ۱۲
۷. د بنگښو د سيمي موقعيت (نقشه) ........................ ۱۳
۸. د روهيلکهند او فرخ آباد نقشه ........................ ۱۶
۹. نواب محمد خان بنگښ ........................ ۱۹
۱۰. د عين خان شجره ........................ ۲۰
۱۱. د رام چند مرسته ........................ ۲۱
۱۲. مئو ته راستنېدل او له امين خان سره جنگ ........................ ۲۱
۱۳. پاچاهي پوځ ته د محمد خان راتگ ........................ ۲۲
۱۴. د غضنفر جنگ خطاب ........................ ۲۳
۱۵. د فرخ آباد نوابي ........................ ۲۵
۱۶. قايم گنج ........................ ۲۸
۱۷. محمدآباد ........................ ۲۹
۱۸. خداگنج ........................ ۲۹
۱۹. نبي گنج ........................ ۲۹
۲۰. دريا گنج ........................ ۲۹
۲۱. علي گنج ........................ ۲۹

۲۲. کاس گنج ........................ ۲۹
۲۳. یاقوت گنج........................ ۲۹
۲۴. اله دیا (هلدیا) گنج ........................ ۲۹
۲۵. د قایم گنج خطاب ........................ ۳۱
۲۶. د "اله آباد" والي توب........................ ۳۵
۲۷. د بندهیل کهنډ نیول........................ ۳۹
۲۸. د چترسال او مرهتو ګډه حمله ........................ ۴۲
۲۹. د نواب محمدخان خلاصون........................ ۴۴
۳۰. د اله آباد له والي توبه ایسته کېدل ........................ ۴۷
۳۱. د مالوې والي توب ........................ ۴۷
۳۲. د غازي پور جنګ........................ ۴۹
۳۳. د مرهتو مخ نیوی ........................ ۵۰
۳۴. پر ډهلي باندي د افشار نادر یرغل ........................ ۵۲
۳۵. د نواب محمد خان قوم پروري ........................ ۵۳
۳۶. باون هزاري لقب........................ ۵۵
۳۷. مریدي........................ ۵۵
۳۸. مېینه ........................ ۵۹
۳۹. اولاده ........................ ٦۰
۴۰. بي بي صاحبه ........................ ٦۱
۴۱. د قایم خان د مور بي بي صاحبي شجره ........................ ٦۳
۴۲. رابیا ........................ ٦۳
۴۳. دائم خان بنګښ ........................ ٦۵
۴۴. نواب قائم خان ........................ ٦٦
۴۵. د قائم الدوله خطاب ........................ ٦٦
۴۶. د قائم خان او صفدر جنګ پخلا کول ........................ ۷۱
۴۷. د روهیل کهنډ له پښتنو سره جنګ او د قائم خان ........................ ۷۱
۴۸. د ده د کورنۍ پرده او حجاب (ستر) ........................ ۸۳
۴۹. د قائم خان تر مرګ وروسته ........................ ۸۵

۵۰. غالب جنگ نواب احمد خان بنګښ ........................ ۹۰
۵۱. د نواب احمد خان بنګښ شجره ........................ ۹۱
۵۲. د احمد خان پورته کېدل ........................ ۹۲
۵۳. د نول رای وژل........................ ۹۴
۵۴. د صفدر جنګ ماته ........................ ۱۰۰
۵۵. د اله آباد او لکهنو برید ........................ ۱۰۶
۵۶. د صفدر جنګ او مرهټو برید ........................ ۱۰۹
۵۷. د دېوان اتمارام شجره ........................ ۱۱۱
۵۸. د جهل د دربار دوستي ........................ ۱۲۴
۵۹. د اوده په حمله کي ګډون ........................ ۱۲۶
۶۰. د غالب جنګ خطاب ........................ ۱۲۷
۶۱. د پاني پت په غزا کي د نواب احمد خان برخه ........................ ۱۲۸
۶۲. د دې غزا سببونه دا وو ........................ ۱۲۹
۶۳. د لوی احمدشاه بابا حضور ته د نواب احمد خان ........................ ۱۳۱
۶۴. پر فرخ آباد باندي د مرهټو برید ........................ ۱۴۴
۶۵. نواب دلیر همت خان ........................ ۱۵۱
۶۶. خدابنده خان ........................ ۱۵۸
۶۷. خردمند خان ........................ ۱۵۹
۶۸. نواب امداد حسین خان ........................ ۱۶۰
۶۹. نواب خادم حسین خان شوکت جنګ ........................ ۱۶۱
۷۰. د فرخ آباد د نوابۍ رنګېدل ........................ ۱۶۲
۷۱. د ۱۸۵۷ ع په جنګو کي د دې کورنۍ برخه ........................ ۱۶۶
۷۲. نواب تجمل حسین خان ........................ ۱۶۸
۷۳. نواب تفضل حسین خان ........................ ۱۷۰
۷۴. نواب سخاوت حسین خان ........................ ۱۷۷
۷۵. نواب غضنفر حسین خان ........................ ۱۷۹
۷۶. نواب اقبال مند خان ........................ ۱۸۱
۷۷. ناصر خان بنګښ ........................ ۱۸۲

۷۸. د دې کورنۍ نور مشاهیر .......................... ۱۸۴
۷۹. وزیر الملک امین الدوله امداد حسین خان .......... ۱۸۴
۸۰. شہرزمان خان بنگښ .......................... ۱۸۷
۸۱. مولوی بدن خان بنگښ (شیخ بدل خان فرخ آبادي) ........ ۱۸۸
۸۲. شجاعت خان غلجی .......................... ۱۸۹
۸۳. د دې کورنۍ او فرخ آباد په باب لیکل سوي کتابونه ........ ۱۹۰
۸۴. د سړیو نومونه .......................... ۱۹۲
۸۵. د ځایونو نومونه.......................... ۲۰۶
۸۶. ماخذونه .......................... ۲۱۵

# لومړۍ خبري

د هندوستان له هغو درنو پښتنو نوابانو څخه چي د پاني پت په لويه او تاريخي غزا کي يې په ۱۱۷۴ هـ ق کال (۱۷۶۰ ع) ګډون کړئ وو، يو هم امير الامراء، بخشي الممالک، غالب جنګ نواب احمد خان ګاړی بنګښ دی، چي له پښتنونخوا څخه ډېر ليري يې د شمالي هندوستان له پايتخت (ډهلي) څخه لا سل، يو نيم سل ميله شرقي خوا ته د هندوستان د مشهور رود "ګنګا" پر غربي غاړه باندي د فرخ آباد په سيمه کي څو هفتې کم دوه ويشت کاله حکمراني کړې ده او فقط د نامه لپاره د ډهلي د تاج او تخت مطيع وو.

زه باور لرم، که د پښتنو په تاريخ کي ددغه نوميالي پښتانه کارنامې نه وي راغلي او دده د کورنۍ حالات نه وي څېړل سوي، نو د پښتني تاريخ يوه پيڅکه به هرو مرو نيمګړې پاته وي او د هندوستان او پښتنو د سياسي او اجتماعي اړيکيو په ځنځير کي به يوه کړۍ لوېدلې غوندي ښکاري.

زه خوشاله يم، چي نن ددغي نيمګړتيا د پوراينې له پاره قلم را اخلم او د احمدشاهي درنې پاچهۍ د يوه همکار د سياسي او جنګي شخصيت په باب څه ليکم او د پښتنو د واکمنۍ د دې د وياړه ډکي دورې يو معاصر، درونډ او برميالی پښتون مشر لوستونکو ته ورپېژنم.

عبدالشکور رشاد

د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد

خوشال خان مېنه - ۱۳۴۹ هـ ش

# په انتربېد کي د گنگا پر غاړه د پښتنو ټاټوبي

انتربېد د جمنا او گنگا د سيندونو تر منځ مځکه ده ، دغه سيمه د گنگا جمنا دوآبه هم بولي، د سلطان غياث الدين بَلَبَن (٦٦۴ _ ٦٨۵ هـ ق) د پاچهۍ په لومړيو کلونو کي د انتربېد غلو او ياغيانو لاس سره يو کړی و او هغه لويه لار يې چي له بنگال ، بهار او جونپوره څخه ډهلي ته راتلله بنده کړې وه ، کاروانونه يې شکول ، سلطان غياث الدين بريد پر وکړ ، دغه غله او ياغيان يې ښه وځبل ، د گنگا د رود لويديځې غاړي ته نژدې يې په Kampil, Patyāli او Bhojpura کي يې يوه، يوه خورا ټينگه کلا جوړه کړله او په دغو دريو کلاوو کي يې پښتانه سپاهيان مېشته کړل، چي دغه لويه لار د ياغي هندوانو له چپاوه وژغوري او نوموړي سيمي يې دغو پښتنو سپاهيانو ته په جاگير کي ورکړلې[1] .

دغه درې کلاوي چي ښايي تر ٦٧٠ هـ ق کال پخوا به د پښتنو ټاټوبي سوي وي موقعيتونه يې دادي :-

کمپل Kampil يا Kampilya سيمه له فتح گړهـ څخه شمال شرقي لور ته اته ويشت ميله ليري پرته ده ، په لرغونو زمانو کي د

---

[1]. وگ. تاريخ فرشته، ٧٧ مخ - د ضياء برني تاريخ فيروزشاهي، ۵٨ مخ د کلکتې چاپ ١٨٦٦ . په سلطنت افغانها در هند (۵ مخ) کي له دغو دريو ټهانو سره (جلالي) هم راوړل سوېده.

جنوبي پنچالاد پاچهي پايتخت و، د ارجن خسر "درپدا" په دغه ښار کي پاچهي کوله[2] Kampala اوس د .U. P په ولايت کي يوه پرگنه ده، چي له اداري لحاظه د فرخ آباد د اولسوالي د قايم گنج په علاقه داري پوري اړه لري ، شمالي عرض البلد يې ۲۷ درجې ۳۰ دقيقې او شرقي طول البلديې ۷۹ درجې او ۲۰ دقيقې دی.

د برهت سمهيتا، برهت جاتکا، پنچه سدانتيکه او يوگه ياترا مولف ، د هندوستان نامتو منجم پنډت ورهامهيرا(۵۸۷ع مړ) په دغه کمپل کي زېږېدلی دی، دی لومړی معلوم هندوستانی ليکوال دی.چي Avagana (= افغان) کلمه يې د پښتونخوا د اوسېدونکو له پاره کار کړې ده[3]. پتيالی د ETAH سيمه کي د اتاه ختيځ سرحد ته نژدې يو ځای دی.چي له ډهلي څخه تقريباً يو سل و څلوېښت او له علي گړهـ څخه تخميناً څلوېښت ميله ليري جنوب ختيځ لور ته واقع دی ، طوطي هند امير خسرو دهلوي (٦٥١ _ ۷۲۵ هـ ق) په دغه پتيالي کي زېږېدلی دی ، په يوه وخت کي مسلمانانو د پتيالي نوم مومن پور (مومن آباد) کړ، خو رواج يې ونه مونده[4]. پتيالی اوس يو کلی دی د ETAH د علي گنج په

---

[2]. ارجن پانډو د مهابهارت د جنگ اتل پهلوان و. دده ماينه چي "درپدي" نومېدله د پنچال د پاچا لور وه، د مهابهارت په جنگ کي ارجن او ورونو يې چي د پانډو زامن وو ميدان وگاټه او پر خپلو توربرو يې چي د کورو زامن وو برى ومونده، د درپدي سويمبر (د مېړه د ټاکلو غونډه) په دغه کمپل کي سوې ده. د کمپل نوم په مهابهارت کي راغلی دی . يو کوچنی کلی اوس هم د کمپل په نامه د فرخ آباد په سيمه کي سته. (وگورئ. د ډاکټر يوسف حسين خان اېرېدي يادون کي دنيا ۷ - ۱۴ مخ) د سنسکريت شبدارتهـ کوستبهـ په جغرافيايي برخه کي Kāmpilya د درپدي د زوکړي ځای ښوول سوی دی.

[3] The geographical dictionary of Ancient and Mediaeval India P – ۲۱۹.

[4] Amir Khusru p – ۲۱. د ډهلي چاپ.

علاقه داري کي ، له ETAH څخه دوه ویشت میله لیري شمال شرقي خوا ته _ شمالي عرض البلد یې اوه ویشت درجې او دو څلوېښت دقیقې ، شرقي طول البلدیې دو اویا درجې و پنځه دقیقې دی. بهوج پور د ډهلي ختیځ لور ته د ګنګا د رود پر ښی (لوېدیځه) غاړه واقع دی ، له قنوجه څخه یې د شمال خوا ته تقریباً پنځه دیرش میله واټن درلود، په دغه بهوج پور کي په ۱۱۲٦ هـ ق کال پښتانه نواب محمد خان بنګښ (۱۱۵٦ هـ ق مړ) یو ښار ودان کړ[۵]، چې د ډهلي د مغل پاچا فرخ سیر (۱۱۲۵ _ ۱۱۳۱ هـ ق ) د نامه په نسبت یې فرخ آباد نوم پر کښېښوو ، فرخ آباد له دغي زمانې څخه تر ۱۲۷۳ هـ ق کاله پوري یوسل و اووه څلوېښت کاله د بنګښو پښتنو د نوابی مرکز و، د پښتنو د دغه ښار په باب حدیقة الاقالیم مؤلف الله یار عثماني بلګرامي (۱۱۳۳ ه ق زېږېدلی) په (۱۱۹۵ ه ق) کال کي داسي لیکلي دي :- "فرخ آباد نوی ښار دی ، غضنفر جنګ نواب محمدخان بنګښ ودان کړی دی، د ګنګا رود یې له شماله څخه د جنوب شرق خوا ته بهیږي، لوی او آباد ښار دی، هر څه پکښي پیدا کیږي ، د فرخ آباد پیوندي بېري خوندوري، لطیفي او آبداره دي".

د فرخ آباد په باب مفتي ولي الله فرخ آبادي (۱۱٦۵ - ۱۲۴۹ هـ ق) ویلي دي :-

فرخ آباد وه فـــــــرح افزا
در فضا خوش چـــو جنت الماء وا
مـــثل طوبی درخت چـــند هزار
سایه افـــګن بر اهـــل شهر و دیار

---

[۵]. د فرخ آباد د ودانی تاریخي ماده "الله غني" ده چي د فرخ آباد د نوابی د سرکاري کاغذو پر تندي به لیکل کېدله. (وګ. عهد بنګښ ۳۴ مخ ) حسام الدین ګوالیاري (۱۲۱۰ هـ ق مړ) په تاریخ محمدخاني کي د فرخ آباد د ودانی کال ۱۱۲۴ هـ ق لیکلی دی.

آب هر چـاه همـــچو آب گـــهر
خـــوش مـــزه تر ز چشـــمهء کوثر
باد هر کـــــوچه عـــطر و عنبر بو
با نســـیم بهار هـــــم پهلو
چار فـــــصلش با عـــتدال هوا
با خـــط اســـتوا بود هـــمتا
برشـــکالش بوقت بـــارانی [٦]
ابـــر نیسان بـــــگوهر افشانی
مـــیوه اش هـــمسر ثمار بهشت
نازک و خوش مذاق و مشک سرشت
انبه اش ســرخ و سبز و بس شیرین [٧]
همـــچو لـــعل لب بـتان نوشین
سیب بـاشد اگـــــر سمرقندی
بـه بـــود زان کُـــنار پیوندی [٨]
تـربزش جـمله چون قلال کـمهار [٩]
پر ز قـــــند و نبات و آب انار

هـــمه بازار و رســـته گلرویـان
سرو قـــدان و یاســـمن بویان

---

[٦]. برشکال = پشکال، ښښکال، برسات (د بارانو تاپې).

[٧]. انبه = ام.

[٨]. کنار (د کاف په پېښ) = بېري.

[٩]. د قلال مفرد " قله" ده د قله کلمې هغه معنی چي دلته مراد ده، غټ منګی دی او کمهار کلال ته ویل کیږي چي منګي جوړوي، په پښتو متلونو کي کمهار کلمه د کومبار په بڼه راغلې ده، د پښتو قاموس په ۸۰۸ مخ کي چي کومبار لیکلی دی، سهي ضبط نه دی، دغه ناسهي ضبط ظفر اللغات ته هم لاره کړېده، په پښتو روسي سلاور کي کومبار لیکلی دی. (وګ. ۷۰۸ مخ).

قلـــــعه اش بس بلند و بس عالی
سر فـــــراز از مــــــنازل والی
گرد آن قـــــصر های چـند امیر
که به رفـــعت بود به چرخ نـــظیر
شـــــهر از اهــــل ثروت آباد است
فـــــرخ آباد دولت آبـــاد است

حُسام الدین گوالیاري (۱۲۱۰ هـ ق مړ) پـه تـاریخ محمـدخاني کـي لیکلي دي :-

"فرخ آباد دوولس دروازې لـري لـه هـري دروازې سـره یـو کـاروان سرای ودان سوی دی، او د ښار محیط پنځه شپږ کروه راځي".

د کمپل، پټیالي او بهوج پور زړې کلاوي درې سره د فرخ آباد پـه نوابۍ کي راغلي وې او دغه کلاوي لکـه تاسـي چـي وړانـدي ولوسـتل د فرخ آباد تر ودانۍ تقریباً څلورنیم سوه کاله پخوا د پښتنو ټاټوبی و.

د فرخ آباد د نوابۍ په سیمه کـي غضـنفر جـنګ نـواب محمـد خـان بنګښ پر فرخ آباد سربېره نور څو ښاره هـم ودان کـړل، لکـه: قـایم ګـنج، محمدآباد، دریاګنج او هلدیاګنج، خداګنج، نبي ګـنج، علـي ګـنج، کـاس ګنج او یاقوت ګنج په نومونو ښارګي د غضنفر جـنګ نـواب محمـد خـان د حرمسرای ساتونکي یاقوت خان خواجه سرای جوړ کـړي وو، د فـرخ آبـاد په دغو ټولو ښارونوکي اوس دغه دوه ښاره پاته دي :-

## ۱ ـ قایم ګنج :-

څنګ ته یې هغه رېلوې ټېره سوې ده چي د کاس ګنج او فـتح ګـړهـ ټېسنونه سره نښلوي، دقایم ګنج ښار ته نژدې ټېسن د قایم ګـنج دټېسـن پـه نامه یادیږي، دا ښار غضنفر جنګ نواب محمد خان بنګښ پـه ۱۱۲۵ هـ ق کال له رشید آباده څخه یو کروه لیري په چلولي نومي ځـای کـي د خپـل

مشر زوی قایم خان (۱۱٦۲ هـ ق مړ) په نامه ودان کړی دی، ویلیام اروِن انګرېز د قایم ګنج په باب لیکلي دي :-

"قایم ګنج اوس (۱۸۷۲ ع) دسیمي د سوداګرۍ مرکز دی، لس زره تنه پکښې اوسي".

د قایم ګنج ویاړ په دې کې دی، چې د هندوستان د پښتانه رئیس جمهور ارواښاد ډاکټر ذاکرحسین خان اپرېدي (۱۳۱۴ _ ۱۳۸۹ هـ ق) خاص وطن دی، د دغه پښتني ښار شمالي عرض البلد تقریباً اوه ویشت درجې و شپږ دېرش دقیقې او شرقي طول البلد یې تقریباً نه اویا درجې و شل دقیقې دی.

## ۲_ کاس ګنج :-

د فرخ آباد په شمالي برخه کې واقع دی، شمالي عرض البلد یې تقریباً اوه ویشت درجې و پنځوس دقیقې او شرقي طول البلد یې تقریباً اته اویا درجې و څلوېښت دقیقې دی. له قایم ګنج څخه تقریباً پنځوس میله لیرې شمال غربي لورته واقع دی، د علي ګړهـ او کاس ګنج تر منځ تقریباً دېرش میله فاصله ده.کاس ګنج د علي ګړهـ ختیځ لورته پروت دی، د کاس ګنج له رېلوې جنکشن څخه بریلي، متهرا او قایم ګنج ته رېل ځي.

د فرخ آباد تر ودانۍ دمخه د فرخ آباد د نوابۍ په سیمه کې د شمس آباد په نامه یو ښارو، چې د History of Lodi Sultans of Delhi and Agra (۲۵ مخ) مولف ډاکټر عبدالحلیم یې سلطان شمس الدین التمش (٦۰۷ _ ٦۳۳ هـ ق) ته د ودانۍ نسبت کوي. شمس آباد له فرخ آباد ښاره څخه اتلس میله لیري شمال غربي خوا ته پروت و، شمالي عرض البلد یې اوه ویشت درجې و دودیرش دقیقې او شرقي طول البلد یې نه اویا درجې واته ویشت دقیقې دی، د مغل جلال الدین اکبر (۹٦۳ _ ۱۰۱۴ هـ ق)

وزیر ابوالفضل علامي (۱۰۱۱ هـ ق وژلی) په آئین اکبري کي د شمس آباد اوسېدونکي لودي پښتانه بللي دي، خو د حدیقة الاقالیم مولف الله یار عثماني بلگرامي (۱۱۳۳ هـ ق په پېښور کي زېږېدلی) د شمس آباد اوسېدونکي مطلق پښتانه بللي دي، او د لودي قبیلې تخصیص یې کښلی نسته، ددې اطلاق سبب دا دی،چي د حدیقة الاقالیم د تالیف تر زمانې (۱۱۹۰ هـ ق) تقریباً یوسل وشپېته کاله دمخه د روښاني فرقې پیروان،چي زیاتره یې اپرېدي، بنگښ، اورکزي او اورمړ وو، د الله داد رشیدخان روښاني (۱۰۵۸ هـ ق مړ) تر مشرتابه لاندي په شمس آباد کي مېشته سوي وو[11] او یو ښارگی یا د ځینو په قول لوی کلی یې د نوو راغلو پښتنو د اوسېدلو له پاره جوړ کړی و،[12] دغه ښارگی رشیدآباد نومېده،چي ځینو روښاني پیروانو به د ارادت او درناوي له مخي مرشدآباد باله[13] د نواب غضنفر جنگ محمدخان بنگښ پلار عین خان هم په دغو پښتنو کي و،چي د رشیدخان په ملگري او مشرتابه په شمس آباد کي مېشته سوي وو[14].

شیخ فرید بَهکري په ذخیرة الخوانین (د ۱۰۶۰ _ ۱۰۶۱ هـ ق تالیف) کي د رشیدآباد په باب داسي کښلي دي :-

" احداث عمارات و بقاع خیر ازو (رشیدخان) بسیار یادگاري مانده

---

[11]. الله داد خان د جلال الدین روښاني (۱۰۰۹ هـ ق مړ) زوی او د پیر روښان بایزید اورمړ لمسی و . لومړی وار په ۱۰۲٦ هـ ق او دوهم وار په ۱۰۲۹ هـ ق کال جهانگیر مغل (۱۰۱۴ _ ۱۰۳۷ هـ ق ) ته ایل سو. په لومړی پلا ایلېدلو کي د رشیدخان لقب او په دوهمه پلا ایلېدلو کي د گنگا د رود پر غاړه شمس آباد په جاگیر کي ورکړه سو. (وگ. حالنامه ، کابل چاپ، ۵۷۱ مخ).

[12]. وگ. مآثرالامرا (د صمصام الدوله شهنواز خان تالیف) د رشیدخان پېژند گلوي.

[13]. په بنگال کي هم د مرشد آباد په نامه یو لوی ښار و. د گنگا د غاړي مرشدآباد او د بنگال مرشدآباد باید سره گډ نه سي.

[14]. وگ : عهد بنگښ، ۵۰ مخ، دکراچي چاپ.

ازان جمله در شمس آباد دیهي با رونق و باغی با طراوت، مملـو از اثمـار و اشجار وگل رياحين غیر مکرر آباد ساخته .....

درصوبه داري بالاگهاټ در سنه ۱۰۵۸ هـ ق در جوار رحمت ایزدی پیوست ....

نعش او را در شمس آباد برده در باغ احداث کرده‌ء او مدفون ساختند رحمه الله علیه"[۱۵].

د کریمداد روښاني (چي په پارسي شعرونو کي يې عيشي تخلص و) د زوکړي ځای دغه رشیدآباد دی، ده ویلي دي :-

ښه مولد مي شمس آباد دی

(د چاپي دیوان ٦٩ مخ)

کریمداد روښاني د خپلي استوګي ځای رشیدآباد ښيي په دې ډول:-

زما ځای د قناعت رشید آباد دی

که هر څو ښارونه ډېر دي بې شماره

(دچاپي دیوان ۴۱ مخ)

دی په کومه پردېسي کي د رشیدآباد په یاد ژړېږي او داسي د غم بدلي وايي :-

دریغا سیر و گلگشت رشید آباد می خواهم

تماشای پریرویان شمس آباد می خواهم

می و معشوق گلرخسار و آواز خوش مطرب

کنار گنگ و سرو وسوسن آزاد می خواهم

(د چاپي دیوان ۹۸ _ ۹۹ مخونه)

د روښاني طريقت خليفه دولت لواني (تر ۱۰٦۸ هـ ق پوري

---

(۱۵). وګ : تذکرة الخوانین، ۲ ټوک، ۲۲۸ مخ.

ژوندی) هم د رشیدآباد یادونه داسي کړېده :-

په رشید آباد به عـید شي که یو ځل بیا
د دکـــــــن په سفر تللي یاران راشي
د قادر په قدرت هیڅ مشـــکله نه ده
چي رشـید آباد ودان و ، هسي بیا شي

(د کابل چاپ دیوان ۱۷۶ مخ)

د رشیدآباد نوم د څورلسمي هجري سدی تر نیمایي پوري د خلکـو په خولو کي و، د پښتانه شاعر او عالم علامه عبدالغني خـان بـنګښ (۱۳۳۵ هـ ق مړ) زوی عبدالحمیدخان دخزینة المعالي په دیباچـه (۵ مـخ) کـي چي په ۱۳۴۲ هـ ق کال کښل سوېده[۱۶] لیکلي دي:-

"منشاء آن فرخ نژاد (علامـه عبـدالغني خـان ) قصـبهٔ مئـو رشـیدآباد است... نسبش به پنج واسطه به نواب الهدادخان بنګښ که دیـوان نـواب رشیدخان بانی مئو رشیدآباد است مي پیوندد".

---

[۱۶] . د علامه تخلص "غني" و ، د پارسي ژبي پـه شاعري کي یې د کلام متانت او د خیال جګوالي او دقت د ستاینې وړ دی ، علامه شبلي نعماني (۱۳۳۲ هـ ق مړ) د ده د علمي مقام په باب کښلي دي: " از ګران مایه ګي نقد روایات همسنګ ذهبی و ابن حجر است و در میزان اعتدال رواة از سبکی ګران پله تر".
د علامه عبـد الغني خـان بـنګښ مؤلفات دا دي : ارمغـان آصـفي، حوارالعرب، تـذکرة الشعراء، خزینة المعالي (د قصیدو مجموعه).

# بنگښ

په پښتنو کي متل دی:-

"هر څوک له ځانه خوښ، په تېره بیا بنگښ[1]".

بنگښ په کرلانیو پښتنو کي یوه قبیله ده، دا قبیله یو وخت د پکتیا په زرمله (زرمت) کي مېشته وه ، کرار کرار د سپین غره جنوبي لمنو ته ولېږدېدله او په "کورمه" او "شلوزان" کي یې واړوله، څو پېړۍ چي یې هلته تېري سولې ، نوې مېنه هم پر تنگه سوله او نورو پښتني قبیلو هم له لوېدیځ اړخه څخه پسي کښېکښله.

څکه نو بنگښ په نهمه هجري سدۍ کي ورو ورو جنوب شرقي خوا ته وڅکېدل او د کوهاټ په سیمه کي یې د هغه ځای له اوسېدونکو پښتنو (اورکزیو) سره نښتي وسولې.

په دغو نښتو کي چي ختېک هم د بنگښو مله وو، "اورکزي" هغو شمالي غرو ته تر شا سول،چي تر اوسه پوري هلته اوسي او د کوهاټ سیمه بنگښو او ختکو ځني خپله کړه، د لاچي اوگدا خیلو تر منځ غر د ختکو او بنگښو وېش وټاکه سو.

د کوهاټ د سیمي شمالي لور ته تیرا او خوړه واقع دي ، جنوب ته یې بني (بنوں) ختیځ ته یې اباسین (د سندھ رود) او لویدیځ لور ته یې کورمه پرته ده.

---

[1] وگ : متلونه. د محمدگل نوري تالیف - ۱۴۰ مخ - د کابل چاپ ۱۳۲۷ ش.

## د بنگښو شجره :




د بنگښو شجره




د بنگښنو د سيمي موقعيت

د کوهاټ د سیمي ټول غولی (۲۹۷۳) مربع میله دی، په دې کې (۸۸۵) مربع میله مځکه د بنګښو په لاس کې ده او په نوره برخه کې یې چې (۲۰۸۸) مربع میله کیږي خټک مېشته دي.

د بنګښو د سیمي شمالي لور ته اپریدي او اورکزي اوسي، شرقي او جنوبي خواوو ته یې خټک، غربي پلو ته یې توري او اورکزي پراته دي، جنوب غربي ډډې ته،د بنګښو د سیمي یوه پیځکه له درویش خېلو وزیرو سره هم نښلي.

څه بنګښ د شلوزان په دره او کورمه کې هم مېشته دي، چې د برو بنګښو په نامه یادیږي. د تواریخ خورشید جهان ښتون مؤلف د کُلاچي اوسېدونکی شېر محمد خان ګنداپور،چې سل و څو کاله پخوا ایران ته تللی وو، هلته یې د مازندران په سیمه کې (چې د خزر بحیرې پر جنوب شرقي غاړه واقع دی) هم څو کوره بنګښ لیدلي وو[۲].

ده د دغه تاریخ په ۳۱۲ مخ کې دا هم زیاته کړېده:-

" زه نه یم خبر چي دغه بنګښ څه ډول هلته ته تللي او مېشته سوي دي؟"

د ۱۳۹۰ هـ ق کال د رجب په میاشت کې چې زه د فاضل استاد علامه پوهاند عبدالحي "حبیبي" په ملګري مشهد ته تللی وم، هلته د غزنوي پاچهانو په درباروکي د مشهور منشي ابوالفضل محمد بن حسین بیهقي (۳۸۵-۴۷۰ ه ق) د درناوي او یادوني په غونډو کې د ایران د وزارت هنر معین ښاغلی صادق کیا هم ګډون کړی و، یوه شپه یې د افشار نادر (۱۱۴۸-۱۱۶۰ ه ق) په هدیره کې مور ته وویل:-

"د مازندران په سیمه کې مي داسي ښتانه در پیدا کړي دي،چې اوس هم په خپلو منځو کې ښتو وایي، ما یې د ژبې او لهجې په باب

---

[۲] شیرمحمدخان د ۱۲۸۰ او ۱۲۹۰ هـ ق کلونو تر منځ ایران ته تللی و.

ځېرنه کړې ده امید سته چي ژر به خپره سي".

نوموړي دا هم زياته کړه: "دغه مازندراني پښتانه ځانونه بنګښ بولي، شمېر يې زيات دی او په ځو کلو کي مېشته دي".

د ښاغلي صادق کيا له دغه تذکره څخه ماته د پښتانه مؤرخ شیر محمد خان ګنداپور خبره را په زړه سوه او وپوهېدم،چي هغه سل و ځو کاله پخواني ځو کوره بنګښ تر اوسه پوري هلته پاته دي، د مورنۍ ژبې ساتني يې حيران کړم او د دوی پښتني متانت مي په زړه کي ډېر ډېر وستايه. د بنګښو ځو سوه کوره تقريباً دوه نيم سوه کاله پخوا،شمالي هندوستان ته هم تللي دي او هلته د ګنګا د مشهور رود پر لوېديځه غاړه د فرخ آباد په سيمه کي مېشته سوي دي.

د فرخ آباد د پښتنو نوابانو کورنۍ چي زموږ تر بحث لاندي شخصيت (نواب احمد خان بنګښ)هم د هغې يو غړی دی، له دغو بنګښو څخه ده.

د فرخ آباد د بنګښو د هغو ځوانانو شمېر،چي په جنګ کي وسله استعمالولای سي، دوه سوه ديرلس کاله پخوا (په ۱۱۷۷ هـ ق کال) د ډهلي د دربار پښتانه اميرالامراء نجيب الدوله نجيب خان عمر خېل (۱۱۲۰ _ ۱۱۸۴ هـ ق) تر شپږو سوو زيات نه دي بللي[۳] او پښتانه مؤرخ زردار خان ناغر په (۱۲۸۹ هـ ق کال) د صَولت افغاني په ۵۴۴ مخ کي د فرخ آباد د ښار بنګښ څلور سوه کوره بللي دي او زياته کړي يې ده چي د فرخ آباد په شاو خوا (مئو - رای پور) کي ځو کوره نور بنګښ هم سته.

---

[۳] . وګ : حالات نواب نجيب الدوله - د نورالدين حسين خان فخري تاليف. ۲۲ مخ. د علي ګړه چاپ.

# د روهیلکهند او فرخ آباد

## نقشه



په اصلي مېنه (کوهاټ او کورمه) کې د بنګښو شمېر تقریباً سل کاله پخوا شیرمحمد خان ګنداپور او ډپټي حیات خان اتلس زره کوره ښوولي دي[۴].

د پښتونستان نومي کتاب په ۲۷۱ مخ کې کښلي دي:- "ویلیام بارټن په India's north west frontier کې (چې په ۱۹۳۹ ع کال په لندن کې چاپ سوی دی) د بنګښو د مسلحو ځوانانو شمېر شپږ زره تنه ښوولی دی چې څلور زره تنه یې په کوهاټ او دوه زره تنه یې په کورمه کې اوسي".

بنګښ پخپل منځ کې پر دوو لویو څانګو وېشل کېږي، یوې ته یې "ګاړي" او بلې ته یې "سمل" وايي، په اپرېدیو کې ملک دین خېل، زخه خېل، سه پای، اکاخېل، کمر خېل په سمل ګوند کې دي، کوکی خېل، بکرخېل، او آدم خېل په ګاړي ګوند کې دي، ټول اپرېدي اته خېله دي[۵].

په تواریخ خورشید جهان او حیات افغاني کې راغلي دي،چې په اورکزی‌قبیله کې هم د ګاړي او سمل په نامه دوې ګوندی‌سته، د کندهار ګاړي هم ځانونه په سلیمانخېلو ګڼوي،خو ما په لیکلو آثارو کې په سلیمانخېل قبیله کې د ګاړي پښه نه ده لیدلې او د نسابانو په قول د سلیمان په نهو زامنو کې په دغه نامه څوک نسته.

د ګاړو څو کلي د افغانستان په بغلان نومې سیمه کې مېشته دي ، د سمنګان د ولایت د حضرت سلطان په علاقه داري کې هم د ګاړو یو کلی سته ، د مقر د ګیلان په علاقه کې د ولاړو اوبو (آب ایستاده) شمالي خوا ته هم یو کلی د ګاړي په نامه یادېږي.خو اوس ګاړي هلته نسته، تره کي پکښې اوسي او څو کوره ناصر هم ورسره دي ، د دغه کلي شا و خوا ته د چمبر،

---

(۴). وګ : تواریخ خورشید جهان. ۳۱۲ مخ _ حیات افغاني ۴۴۹ مخ.

(۵). وګ : پښتانه، ۲/۲ مخ.

پردل او بلاهیر په نامه د ګاړو کلي پراته دي ،د شینکۍ په اولسوالۍ کي هم د ګاړي په نامه یو کلی سته.

یوه کوڅه د کندهار په احمدشاهي ښار کي هم سته،چي د کاکړو په برج (درېیمه ناحیه) کي واقع ده، مګر د احمدشاهي ښار په هغه نقشه کي چي د غازي لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰ _ ۱۱۸۶ هـ ق) په زمانه کي جوړه سوېده، د ګاړو نوم نسته ، خو د بنګښو د یوې کوڅې نوم راغلی دی[٦].

ګاړي د لوی احمد شاه بابا تر زمانې دمخه هم په کندهار کي مېشته وو د کندهار له دغو پخوانیو ګاړو څخه یو هم د ښادي ګاړي زوی مشهور ستانه ابراهیم خلیفه بابا دی،چي زیارت یې په کندهار کي د ډوری،د رود پوري خوا ته د رېګ په څنډه کي واقع دی او د منلي عارف متي زي شیخ قاسم سلیماني قادري رحمه الله (۹۵۶ _ ۱۰۱۶ هـ ق) له لویو خلیفه ګانو څخه و[٧].

په کندهار کي یو کلی او یو کارېز هم د ګاړو په نامه سته ، کلی یې د ګوشخانې شمال شرق ته واقع دی او کارېز یې د شین غزي بابا د زیارت او احمد شاهي ښار تر منځ تېرېږي.

د ګاړو په څانګه کي "میران زی" او "دُرسمند" مشهوري ښاخلې دي. د میران زو په ښاخله کي د غالب جنګ غازي نواب احمد خان (۱۱۶۳ _ ۱۱۸۵ هـ ق) پلار غضنفر جنګ نواب محمد خان هغه سړی دی،چي د فرخ آباد د نوابۍ خښته یې ایښې ده او په دوولسمه هجري سدۍ کي د هندوستان د سیاسي او حربي تاریخ یو نامتو مېړه دی.

---

[٦] تېمورشاه دراني. (لومړی چاپ) .

[٧] . د شیخ قاسم سلیماني هدیره د هندوستان په چنار نومي ښار کي مشهوره ده. دغه ښار چي د چُنار ګړه په نامه هم یادېږي ، له اله آباد څخه اویا میله شرقي لور ته او له ښارسه څخه شل میله جنوبي لور ته لیري واقع دی. شیخ قاسم د شیخ متي خلیل (کلات بابا) له اولادې څخه و.

# نواب محمد خان بنګښ

ملک عين خان د غضنفر جنګ نواب محمد خان بنګښ پلار و او دی د کوهاټ د سيمي د هنګو نومي ځای اوسېدونکی و، د اورنګ زېب (۱۰٦۸ _ ۱۱۱۸ هـ ق) په پاچهۍ کي له بنګښو څخه هندوستان ته ولاړ او د انصاريانو په پوځ کي شامل سو او د عين خان سرواني په رساله کي و، ملک عين خان چي هندوستان ته ولاړ د مئو په مرشد آباد کي مېشت سو او په دغه ښار کي يې په يوه بنګښه کورنۍ کي واده وکړ. د ملک عين خان ښځه د ملک يسين خان اوسترزي (ستوري زي) بنګښ خوروه (ملک يسين خان په مئو کي د اوسترزو بنګښو مشر و)، له دغي ښځي څخه د عين خان دوه زامن پيدا سوه يو همت خان، بل محمدخان نومېده، محمدخان پر همت خان دوه کاله مشر و، محمدخان چي ۱۱ کلن سو پلار يې ومړ[۱].

د عهد بنګښ په ۴۹ مخ کي کښلي دي :-

عين خان کاغ زی کرلا[illegible] پښتون و، په کاغ زو کي هريه، په هريه کي شامل زی، په شامل زو کي دولت خېل او په دولت خېلو کي حاجي خېل و.

مګر په خورشيد جهان کي کښلي دي چي :-

محمدخان ميران زی ګاړی بنګښ و.

---

[۱] . وګ : عهد بنګښ ۵۰ مخ.

محمدخان چي شل کلن ځوان سو، بندهیل کهنډ ته ولاړ او هلته د خپل ماما یسین خان ستوري زي بنګښ په رساله کي داخل سو. یسین خان بنګښ په دغو وختو کي له ځلورو زرو پلو او سپرو پښتنو سره د بندهیل کهنډ د یوه راجا په دربار کي منصبدار و، محمدخان د ماما په

## د عین خان شجره

ملک سارنګ خان میران زی ګاړی بنګښ

ملک جهان خان

ملک سبزه خان

ملک ګوهر خان

ملک عین خان

همت خان

نواب غضنبر جنګ
محمد خان باون هزاري
(۲۲ زامن[۲] او ۱۸ لوڼي یې درلودې)

---

[۲] د نواب محمدخان بنګښ ۲۲ زامن وو: نواب قایم خان، نواب احمد خان، نواب امام خان شهید، نواب خدابنده خان، نواب اکبرخان، نواب عطاءالله خان، نواب عظیم خان، نواب مرتضیٰ خان، نواب فرید خان، نواب عبدالغني خان، نواب صلابت خان، نواب حسین خان، نواب کریم داد خان، نواب بنایسته خان، نواب منصور خان، نواب بنادي خان، نواب هادي داد خان، نواب فخرالدین خان، نواب منور خان، نواب محمدامین خان، نواب اسماعیل خان، نواب بهادر خان.

لښکرو کي په دلاوری نوم ویوست ، کله چي یې ماما د هرولـي د کلا بنـدیو په وختو کي په ګولی ولګېد او مړ سو او ښادي خـان بـنګښ یـې پـر ځـای کښېناست ، محمدخان د ښادي خان له ډلي ښېل سو او لـه ځـو تنـو غښتلـو سړو سره یې د بندهیل کهنډ په سیمه کي ځان ته ډله جوړه کړه.

ویل کیږي :- یوه ورځ محمدخان له خپلو ملګرو سره یـوې کـلا تـه نژدې تېرېدئ ، د کلا خلکو له خپلي بېري ټک پر وکړ، محمدخان تـه درد ورغی، برید یې پر وکړ او کلا یې ځني ونیوله او ښه الجه په لاس ورغلـه، پـه دغه حمله کـي ۱۲ کسـه د محمـدخان لـه لاسـه ووژل سـوه او محمـدخان پخپله هم ځو ځایه ټپي سو.

## د رام چند مرسته :-

راجا رتهي چي ومړ، مشر زوی یې برتهي سنګه پـر ځـای کښېناسـت، مګر کشر زوی رام چند دا نه منله، جـنګ پېښ سـو او د رام چنـد پـه بلنـه محمدخان له خپل پوځ سره د رام چند مرسته وکړه، د محمدخان له لاسـه برتهي سنګهه وواژه سو او لښکرو یې ماته ومنله، رام چند چي د محمـدخان په مرسته دا بری وموند ډېري روپۍ، سوغاتونه او آسان یې محمـدخان تـه ورکړل.

## مئو ته راستنېدل او له امین خان سره جنګ :-

د برتهي سنګه تر وژلو او د رام چنـد تـر بـري وروسـته محمـدخان لـه خپلو ملګـرو سـره مئـو تـه راسـتون سـو. د سیپري او جـالون یـاغي راجـا مدارشاه په دغو وختو کي،ځلوبښتو زرو پاچـاهي لښکـرو د امـین خـان پـه مشرتابه کلا بند کړی و. مدارشـاد چـي د محمـدخان پـه ورتـګ خبر سو. دستي یې مرسته ځني وغوښتله. محمـدخان لا سـتریا نـه وه اچـولې.چـي

دستي يې د مدارشاه مرستي ته هڅه وکړه، مګر د ده تر وررسېدلو دمخه پاچاهي لښکرو هغه مغلوب کړی و، خو بيا هم د پاچاهي لښکرو او د محمدخان تر منځ څو واره نښتي وسوې، مګر يوې خوا هم بری ونه موند، پای ته پر روغه سره بېل سول.

## پاچاهي پوځ ته د محمدخان راتګ :-

په ۱۱۲۴ هـ ق کال د محمدامين خان تر شخړي وروسته د مغني دربار د اراکينو او د ډهلي د تاج و تخت مدعيانو د محمدخان لورته پام سو، محمدخان ته عبدالله خان او محمدحسين خان بارهه سيدانو د نوکرۍ بلنه ورکړه، محمدخان هم دا بلنه ومنله او له ۷ - ۸ زرو پلو او سپرو سره شاهي پوځ ته ورغی او په سرلاښ (مقدمه الجيش) کي وټاکل سو چي د عبدالله خان تر مشري لاندي به وي.

د ۱۱۱۹ هـ ق کال د لومړۍ خور (ربيع الاول) په اولسمه ورځ شهزاده محمد معظم د پښتنو په مرسته پر خپل ورور اعظم شاه بری وموند او د ډهلي پر تخت کښېناست[۳].

شهزاده محمدمعظم چي اوس نو "شاه عالم بهادرشاه" نومېد، د خپلو مرستيالو پښتنو مشرانو سره ښه و، ځکه يې نو محمدخان ميران زی د

(۳) . د افغانستان د پارسي ژبي محبوب شاعر ميرزاعبدالقادر بېدل (۱۱۳۳ هـ ق مړ) د شاه عالم بهادرشاه د پرتخت کښېنستلو تاريخ داسي ويلی دی:-

جلـوس معدلت انوار پادشـاه زمان
درين مربع اسـرار داده اند نشان
شگوم راءفت يزدان. جلال قدرت شان
۱۱۱۹ ۱۱۱۹
همان خليفهء رحمن. معظم دو جهان
۱۱۱۹ ۱۱۱۹

ډهلي په پوځ کي د يوه واړه منصبدار په توګه شامل کړ، توره او مړانه د محمدخان په خټه اخښلې وه، کرار کراريې ترقي کوله، ښې رتبې ته ورسېد او د لوی نام و نښان تښتن سو.

## د غضنفر جنګ خطاب :-

د محمدخان د منصبدارۍ شپږم کال د اړو دوړ کال و، د دغه کال د محرمي په شروع کي محمدمعظم بهادرشاه عالم مړ سو او مشر زوی يې محمد معزالدين جهاندار شاه پر ځای کښېناست . خو دوهم ورور يې چي عظيم الشان نومېد دده پاچهي ونه منله[4]. جنګ پېښ سو او عظيم الشان ومړ.

د عظيم الشان تر وژلي وروسته يې دوو نورو ورونو (جهان شاه او رفيع الشان) هم د تاج و تخت د ګټلو له پاره خپل بختونه وازمويل او دوی هم په عظيم الشان پسي ولاړل، تر دوی وروسته د عظيم الشان زوی فرخ سير پورته سو، ددغه کال (۱۱۲۴ هـ ق) د لوی اختر د مياشتي په پنځلسمه ورځ يې پر خپل اکا بری وموند او د ډهلي پاچا سو. په دغه جنګ کي چي د لوی اختر پر ۱۴ مه په اوګهړ کي پېښ سو، محمدخان او عبدالله خان د فرخ سير په سرلاري کي وه.

د شوکت افغان مؤلف عبدالحکيم خان لودي کښلي دي :-

"دفرخسير او جهاندارشاه[5] په جنګو کي محمدخان بنګښ د

---

[4] . عظيم الشان د خپل پلار (شاه عالم) او نيکه (عالمګير اورنګ زيب) له خوا د بنګال والي و. ده د پټنې ښار د بنګال د حکومت مرکز وټاکه ، څه وداني يې پکښي وکړلې او د "عظيم آباد" نوم يې پر کښېښود.

[5] . جهاندارشاه د ډهلي پر يوې رقاصې (ناڅګري) زړه بايللی و. دغه رقاصه لال کنور نومېدله. د "خصوصيت" لور او د هندوستان د مشهور سازنده ←

فرخسیر په طرفداري وجنګېد او د ستاینې وړ توره یې وکړله".

د حدیقة الاقالیم مؤلف بلګرامي راوړي دي :-

" په دغو جنګو کي له محمدخان بنګښ سره شل زره سپاره وو".

نوموړي عبدالحکیم خان لودي دا هم زیاته کړېده چي فرخسیر (۱۱۲۴ – ۱۱۳۱ هـ ق) تر پاچا کېدلو وروسته محمدخان بنګښ ته، غضنفر جنګ خطاب او اوه زری منصب (فرقه مشري) ورکړله، د شمس آباد، مهرآباد او بهوج پور سیمي یې (چي د ګنګا د رود پر لوېدیځه غاړه واقع دي) د جاګیر په توګه ورو سپارلې او دوولس کلي یې د بهوج پور په سیمه کي په (آل تمغا) وروبخښل[٦].

د عهد بنګښ په ٦٢ مخ کي کښلي دي :-

د فرخسیر او جهاندارشاه په جنګ کي محمدخان ښه توره وکړه د

---

←——میاتانسین لمسی وه، د سموګړهـ په جنګ کي چي د جهاندارشاه او فرخسیر تر منځ پېښ او د جهاندارشاه په ماته تمام سو ، لال کنور د مغل پاچا جهاندارشاه له غېږي وتښتېدله او د ډهلي د والي محمدبازخان په لاس کښېوتله. (حدیقة الاقالیم ۱۳۱ – ۱۳۲ مخونه. د قاموس المشاهیر د دوهم ټوک ۱٦۷ مخ) جهاندارشاه مغل دغي لال کنور نومي ناڅګري ته ( .... ) زری . ددې پلار خصوصیت ته یې ( .... ) زری او د دې ورور ته یې ( .... ) زری منصب ورکړی و. میرزاعبدالقادر بیدل د ډهلي د دربار د دغو بې ناموسیو په باب په شهر آشوب نومي مخمس کي ویلي دي:

زود برهم می خورد این مجمع آثـار ننګ
قلبتان تا کی بهادر، زن جلب تا چند شاه

(روح بیدل ۴۰۲ مخ)

[٦] . د آل تمغا لغوي معنی سور مهر یا سور فرمان ده څنګه چي د پاچهانو مهر په سره رنګ لګېدی نو د سره فرمان یعني پاچهي فرمان معنی یې پیدا کړه او د مغلو په درباري اصولو کي هغه فرمان آل تمغا باله کېده چي د هغه له مخي به د بخښښ موندونکي اولادې هم د پاچا له بخښلي جایداد څخه ارثاً د استفادې حق درلود.

پوځ د پیلانو مشري چي شېرمحمدخان نومېد په دغه جنګ کي وواژه سو فرخسیر چي لړ پر کراره سو، د عبدالله خان با رهه په واسطه یې محمدخان خپل حضور ته وغوښت، څلورزری منصب، درانه خلاتونه، پیل، آس او مرصع موتی خنجر یې ورکړ او د ایلچ، بهاندیر، کالپي، کونج، سیوندهـ، مونده، سیپري او جالون سیمي یې په جاګیر کي ورکړلې.

په عهد بنګښ کي دا راز کښلي چي غضنفر جنګ خطاب یې هم ورکړ.

محمدخان د کونج او سیونده حکومت دلبرخان د ایلچ و بهاندیر حکومت احمدخان ورکزي او د کالپي حکومت یې د خپلي ماینې اکا پیرخان بنګښ او د سیپري او جالون حکومت یې شجاعت خان غلزي ته ورکړ.

تر دغه بندوبست وروسته د پاچا له خوا وګماره سو چي د انوپ شهر او مبدو یاغي راجاګان وځپي، محمدخان هم د پاچا په امر خپل پوځ هغو سیمو ته ولېږداوه، د مبدو راجا یې ونیو او بندي یې دخپل یو مقرب نوکر داودخان په لاس د دهلي دربار ته ولېږه، او د انوپ شهر راجا یې ښه وتراته.

## د فرخ آباد نوابي :-

د مئو او شمس آباد سیمي د غضنفر جنګ محمدخان تر ورتګ پخوا هم د پښتنو تاتوبی و، د عالمګیر (۱۰٦۸ - ۱۱۱۸ هـ ق) په وختو کي تر دوی پخوا د محمدخان د پلار ملک عین خان بنګښ په مشري څه پښتانه هلته تللي او مېشته سوي وو، د عالمګیر د پلار او نیکه په زمانه کي هم د روښاني بزرګانو ارادت مندان شمس آباد ته لږ نه وو کوچېدلي، دا ځکه چي د بایزید پیر روښان اورمړ (۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) لمسی د جلال الدین

روښاني (۱۰۰۹ هـ ق مړ) زوی، الله داد خان (چي مغلو رشيدخان باله) د ستانه پير زوی، په شمس آباد کي لوی جاګير درلود او د ده په آباد کړي ښار رشيد آباد نومي ښار کي[۷] د ګنګا پر غاړه په ۱۰۵۸ هـ ق کال ښخ سوی و، او د شا و خوا کلي يې د مريدانو او مخلصانو په لمسيو او کړوسيو ډک وو[۸].

د روښاني کورنۍ يوه شاعر چي کريمداد نوميدی او د خوشال خان (۱۰۲۲ – ۱۱۰۰ هـ ق) معاصر و، د دغي دوهمي مېني په بېلتون کي داسي اوښکي بهولي دي:-

دريغا سير و گلـــــــگشت "رشيدآباد" ميخواهم
تماشای پري رويـــــــان "شمس آباد" ميخواهم
می و معشوق و گل رخسار و آواز خـــوش مطرب
کنار "گنگ" و ســـرو و سوســـــن آزاد ميخواهم
ز هجرش بيستون شد سينـــهء انـــدوه زای من
بناخـــن کارهای تيشـــهء فرهـــاد ميـــخواهم

(د ديوان ۹۹ مخ)

---

[۷] . د رشيدخان لقب د جهانګير (۱۰۱۴ – ۱۰۳۷ هـ ق) لـه خـوا الهدادخان روښـاني تـه ورکـړ سـوی و، رشـيدآباد دده پـه نـوم آبـاد سـوی دی. (وګـورئ جهانګيرنامه، ماثرالامرا او حالنامه).

[۸] . په حالنامه کي د رشيدخان د هديرې په باب کښلي دي:-

روضه اش واقع شده بر بحر گنـــگ
لنگرش دائم روان بر کور و لنـــگ
پيش از اين دريا از اين جا رفته بود
در ته اين شـــهر اندک مانده بـــود
خان ما می خواست درحين حيـــات
تا بيارد باز اين بحر حيــــــــات
ليک مقصودش بر آمـــد بعد مـــوت
درته اقدام آن شهـــباز رفـــــت

د رشيدخان روښاني تر زمانې دمخه هم د ابوالفضل علامي (۹۵۸ - ۱۰۱۱ هـ ق) په قول په "جاج مئو" کي لودي پښتانه مېشته وو[۹].

غضنفر جنګ محمدخان بنګښ چي نوي جاګير ته ولاړ، هلته يې په ۱۱۲٦ هـ ق کال د بهوج پور په سيمه کي د ګنګا پر لوېديځه غاړه باندي يو ښار ودان کړ او د ډهلي د مغل پاچا فرخ سير د نامه په نسبت يې د فرخ آباد نوم پر کښېښوو[۱۰].

مفتي ولي الله په تاريخ فرخ آباد کي کښلي دي :-

" الله غني " د دغه ښار د بنسټ ايښوولو تاريخ دی چي د بنګښو د رياست د ټولو رسمي کاغذو پر تندي هم ليکل کېده، (عهد بنګښ ۲۴ مخ).

فرخ آباد له نوموړي شمس آباده څخه چي د حديقة الاقاليم مؤلف د پښتنو مېنه بللې ده[۱۱]، دوولس کروه ليري واقع و، او د شمالي هندوستان له پايتخت (ډهلي) څخه يې د جنوب شرق خوا ته تقريباً يو نيم سل ميله واټن (فاصله) درلوده. دغه ښار د مفتي ولي الله په قول د طول البلد پر ۱۱۵ درجو ۲۴ دقيقو او د عرض البلد پر ۲٦ درجو او ۴۰ دقيقو واقع دی. فرخ آباد ورو ورو لوی ښار سو او په هندوستان کي د بنګښو د نوابۍ مرکز وګرزېد.

ويليام ارون د فرخ آباد د ښار په باب کښلي دي :-

---

[۹]. وګ : آئين اکبري، ۲ ټوک، ۷٦ مخ.

[۱۰]. د ډهلي جنوب غربي لور ته يو بل فرخ آباد هم سته چي کله کله د فرخ نګر په نامه هم ياد سوی دی، په دغه فرخ آباد کي پخوا بلوڅان مېشته وو او د لوی احمدشاه بابا په وختو کي يې کامګار خان بلوڅ زميندار و، تر ده وروسته يې زوی موسی خان زميندار سو. (د ايران په مازندران کي هم د فرخ آباد په نامه يو ښار سته چي لوی شاه عباس (۹۹٦ - ۱۰۳۸ هـ ق) جوړ کړی دی).

[۱۱]. وګ : حديقة الاقاليم، ۱۷۲ مخ.

د فرخ آباد د ښار زياتره وداني د آدم خان نومي معمار په اهتمام جوړې سوې دي او پر يوه دهلېز باندې د ده د نامه يوه کتيبه شته، په دغه کتيبه کې دا هم زياته سوې ده چې مزدور ته دوه فلوسه او عامو بنايانو ته څلور فلوسه مزدوري ورکوله کېدله.

د فرخ آباد کلا د نيکنام خان بنګښ[۱۲] تر سرپرستۍ لاندې جوړه سوېده، دغې کلا شل برجه او ۱۲ دروازې درلودې او د شمال لور ته يې درې دروازې وې، د کلا پر شا وخوا د يوه قد په اندازه ژور خندق راڅرخېدلی و. نيکنام خان په فرخ آباد کې يو حرم سرای، يو مسجد او يوه دېوانخانه (د دفترو دربارځای) جوړ کړی دی ...

غضنفر جنګ نواب محمدخان بنګښ له ودانۍ سره خورا زياته مينه درلوده او د کول (علي ګړه) له سرحده نيولې د ګنګا تر غربي ژۍ پوري يې د خپل جاګير په تقريباً يو نيم سل ميله ساحه کې څو نور ښارونه هم ودان کړل، لکه:-

## قايم ګنج :-

د فرخ آباد جنوب ته واقع و[۱۳] له مئو څخه يو کروه ليري د چلولي نومي ځای څنګ ته (۱۱۲۵ هـ ق) د خپل مشر زوی قائم خان په نامه، دغه ښار محمدخان تر ټولو ښارو دمخه ودان کړی دی.

ويليام اروِن په تاريخ فرخ آباد کې ليکلي دي :-

په دغه ښار کې اوس (۱۸۷۲ ع) لس زره تنه اوسي، د حکومت مرکز دی، له تجارتي لحاظه ښه اهميت لري.

---

[۱۲] . د دغه نيکنام خان زوی فيض الله خان بنګښ په هندوستان کې ډېرې وداني کړې دي.

[۱۳] . د قاموس المشاهير د دوهم ټوک په ۱۳۸ مخ کې کښلي دي چې قائم ګنج د نواب محمدخان زوی قائم خان ودان کړی دی.

**محمدآباد :- ...**

**خدا گنج :-** په خداگنج کې د یوه مسجد بنسټ په ۱۱۵۲ هـ ق کال ایښوول سوی دی (عهد بنګښ).

**نبي ګنج :- ...**

**دریا ګنج :-** له فرخ آباد څخه شل کروه لیري و[۱۴].

**علي ګنج :- ...**

**کاس ګنج :-** له علي ګړهـ څخه د شرق لـور تـه تقریباً څلویښت میلـه لیري واقع و او ایټه د کاس ګنج جنوب غربي لور ته نولس میله لیري واقع ده[۱۵].

**یاقوت ګنج :- ...**

**اله دیا (هلدیا) ګنج :-**

او نور...[۱۶].

مګر دغو ښارو تر ډېره وخته پوري خپله وداني ونه ساتلای سوای او د غضنفر جنګ نواب محمدخان بنګښ د مرګ په اووم کـال (۱۱٦۳ هـ ق) نول رای نومي هندو کنډو کپر کړل.

د حدیقـة الاقالیم مؤلف چې د نوموړي نول رای لـه هـوا خواهـانو څخه و کښلي دي :-

"په ۱۱٦۳ هـ ق کال چې راجا نول رای د صفدر جنګ وزیر لـه خـوا د فرخ آباد د مفتوحه سیمي واکمن سو، د ده په حکـم د نـواب محمـدخان بنګښ ودان کړي ښارونه یو په بل پسي وران کړل سول".

---

(۱۴). خزانهٔ عامره، ۴۴ مخ.

(۱۵). معجم الامکنه التي ذکر في نزهه الخواطر.

(۱٦). حدیقة الاقالیم، ۱۷۲ مخ - احمدشاه بابا، ۲٦۱ مخ.

اوس له دغو ښارو څخه فقط کاس گنج او قايم گنج پاته دي.
د فرخ آباد د نوابۍ سرحدونه د قاموس المشاهير د دوهم ټوک په ۱۸۹ مخ کي داسي کښلي دي:-
"د جمنا او گنگا په دوآبه کي څو سيمي د غضنفر جنگ نواب محمدخان بنگښ په لاس کي وې، د بدايون د حکومت نيمی برخه يې هم ونيوله، انوله او د شاهجهان پور يوه حصه يې هم پخپله حکمرانۍ را کښې ايستله[۱۷]، د هغې زمانې يوه شاعر حسام الدين گواليارې (۱۲۱۰ هـ ق مړ)[۱۸] د دغې نوابۍ د سرحدونو په باب دغه پارسي څلوريځه ويلې ده:-

"ميان دوآب و ميان دو کاف
شده حاصل ملک جمله معاف
شود قصبهٔ "کول" و "کوله" حدود
بدرياى گنگ و جمن انصراف"

سيد الطاف علي کښلي دي :-
"غضنفر جنگ نواب محمدخان بنگښ په ۱۱۲٦ هـ ق کال (۱۷۱۳ ع) په فرخ آباد کي د بنگښو پښتنو حکومت قائم کړ"[۱۹].
انگريز مؤرخ Charls Hamilton د بنگښو د نوابۍ په باب پخپل کتاب Historical relation of the origin, progress and final desolation of the Rohilla Afghans کي چي په ۱۷۸۷ ع (۱۲۰۲ هـ ق) کال په لندن کي چاپ سوی دی کښلي دي :-

---

[۱۷] . د نواب محمدخان له خوا د " انولې" نيول په نورو کتابو کي نه دي راغلي، "انوله" د روهيلکهنډ مرکز و، او د نواب محمدخان په وختو کي يې په فرخ آباد پوري له اداري لحاظه تړل کېدل د تامل وړ دي.
[۱۸] . د تاريخ محمدخان مؤلف دی.
[۱۹] . وگ : حيات حافظ رحمت خان، ۳ مخ.

"بنگښو پښتنو په فرخ آباد کې داسې يو کوچنی هيواد ځان ته جوړ کړ چې د ډهلي د مغلي پاچهۍ د کمواکۍ له امله يې تقريباً د يوه آزاد او خپلواک مملکت حيثيت درلود او د مغلو پاچهۍ ته يې يوه معمولي غوندې ماليه ورکوله".

نجم الغني رامپوري په اخبار الصناديد کې کښلي دي :-

"د ډهلي د پاچا فرخسير تر مرگ (د ۱۱۳۱ - هـ ق کال د دوهمې خور تر اتمې) وروسته د پاچاگرديو په اړودوړ کې نواب محمدخان بنگښ پر بدايون هم غېږ راوگرزوله."[۲۰] او د قطب الملک وزير او د هغه د ورور حسين علي تر وژل کېدلو وروسته يې د نوابۍ حدونه نور هم پسې ارت سول او د شاوخوا ځکې يې پخپل ټک راکښې ايستلې.

## د قايم جنگ خطاب :-

په هندوستان کې د بنگښو د نوابۍ تادای اېښوونکی غضنفر جنگ نواب محمدخان بنگښ د ډهلي د مغل پاچا فرخسير (۱۱۲۴ - ۱۱۳۱ هـ ق) ، د هغه د وزير (قطب الملک سيد عبدالله خان بارهه[۲۱]) او د وزير د ورور سپهسالار حسين علي بارهه له طرفدارانو څخه و[۲۲]. دغو دوو سيدانو

---

[۲۰] . وگ : اخبار الصناديد ، لومړی ټوک، ۴۹ مخ .

[۲۱] . د گنگا او جمنا تر منځ د مظفر نگر په سيمه کې باره گاون (دوولس کلي) د يوه ځای نوم دی ، په دغو کلو کې له ډېرو پېړيو راهيسې سيدان اوسي او په بارهه ساداتو مشهور دي.

[۲۲] . د شاه عالم بهادرشاه (۱۱۱۹ - ۱۱۲۴ هـ ق) او جهاندارشاه (۱۱۲۴ هـ ق) په پاچهيو کې د دغه ځای اوسېدونکی سيدعبدالله خان د اله آباد والي و ، او ورور يې حسين علي د بنگال له والي فرخسير سره په پټنه (عظيم آباد) کې د يوه منصبدار په توگه اوسېدئ. د عظيم الشان تر وژل کېدلو وروسته چې يې زوی فر خسير د جهاندارشاه مقابلې ته لېښي راوغښتلې ، سيد عبدالله او حسين علي ⟵

ورونو (وزیر او سپهسالار) پخپل وخت کي دونه قدرت درلود چي د ډهلي پاچهي د دوی د کور مينځه وه، چا ته چي به یې زړه غوښتله، بخښله به یې او له چا څخه چي به یې خوا بده سوله څني اخیستله یې، هر څوک چي به دوی د ډهلي پاچا کړ هغه پاچا وا وهر څوک چي به یې د ډهلي له پاچهۍ ایسته کاوه هغه ایسته و.

دغو سیدانو ورونو د ۱۱۳۱ هـ ق کال په اتو میاشتو کي درې مغلي پاچهان له منځه یووړل او د دغي کورنۍ درې شهزادهگان یې د نامه له پاره پاچهان کړل. فرخ سیر یې د دوهمي خور په لومړۍ هفته کي وواژه[۲۳]، د ده د اکا (رفیع الشان) پر زوی رفیع الدرجات یې د دوهمي خور په اتمه ورځ د پاچهۍ نوم کښېښوو، درې نیمي میاشتي لا نه وې پوره سوي چي دده خوله هم پټه سوه، د رجب د میاشتي په یوویشتمه ورځ یې د رفیع الدرجات ورور رفیع الدوله تخت ته وخېژاوه، څلور میاشتي لا بشپړي نه وې تېري چي دده کمبله هم توله سوه او د دوی د اکا (جهان شاه خجسته اختر) زوی روشن اختر یې د دغه کال (۱۱۳۱ هق) د میانۍ د میاشتي په پنځلسمه ورځ پاچا کړ او د محمدشاه نوم یې پر کښېښوو[۲۴].

---

←یې مله سول او دده د بري له پاره یې ډېري ويني وبهولي فرخ سير چي پاچا سو سيد عبدالله ته يې د قطب الملک خطاب او د وزارت رتبه ورکړله، حسين علي يې خپل اميرالامراء (سپهسالار) وټاکه او د بخشي الممالک خطاب يې ورکړ.

(۲۳). ميرزاعبدالقادر بيدل د فرخسير د وژلو تاريخ داسي ويلی دی:-

ديدي که چه با شاه گرامی کردند
صد جور و جفا ز راه خامی کردند
تاريخ چو از خرد بجستم، فرمود:
"سادات بوی نمک حرامی کردند"
- ۱۱۳۱

(۲۴). په يوه کال کي د دغو درو مغولي پاچهانو د مرگ تاريخ يوه شاعر داسي ويلی دی:- ←

د سیدانو ورونو (وزیر او سپهسالار) تېرېو او ظلمو د ډهلي په دربار کي د توراني امراوو حوصله تنګه کړله، دوی تول د وزیر او سپهسالار پر ضد د محمدشاه مله سول، محمدشاه په ښکاره د سیدانو ورونو (وزیر او سپهسالار) پر غاړه تیځ، خو په پټه یې د دوی د ایسته کولو له پاره بندونه ترل.

د محمدشاه د پاچهۍ کال لا نه و بشپړ سوی چي سیدانو ورونو د دکن د مغلي نائب الحکومه آصف جاه نظام الملک[25] د ځبلو له پاره ملا وتړله او غوښتل یې چي د توراني امیرانو دغه تر تولو واکمن سړی له منځه وباسي، په ډهلي کي د جنګ تیاری شروع سولې او دکن ته د تګ له پاره سپهسالار حسین علي د خپلو طرفدارو امیرانو په رابللو پیل وکړ.

غضنفر جنګ نواب محمد بنګښ ته هم سپهسالار حسین علي درې لکه روپۍ د جنګي مهماتو د برابرولو له پاره ورولېږلې او په دغه جنګ کي یې خپلې ملګرۍ ته راوباله[26].

د ۱۱۳۲ هـ ق کال د کوچني اختر د میاشتي په پای کي د ډهلي

---

→ کردند سه پادشاه بیکسال وفات
فرخ سیر و دگر رفیع الـــدرجات
بعدش چو شد از جهان رفیع الدوله
تاریخ فغان نوشته شد زین حرکات
۱۱۳۱

(۲۵) . نظام الملک آصف جاه د ډهلي خورا مقتدر امیر (لوی منصبدار) و، دی د لومړي غازي الدین فیروزجنګ زوی د عابدقلیج خان (۱۰۹۸ هـ ق مړ) لمسی کېدئ. د فرخ سیر د پاچهۍ په لومړي کال (۱۱۲۵ هـ ق) د دکن والي مقرر سو، په ۱۱۳۴ هـ ق کال د محمدشاه وزیر سو. په ۱۱۳٦ هـ ق کال بیرته د دکن حکومت ته ولاړ او هلته د ۱۱٦۱ هـ ق کال د ځلرمي خور په ځلرمه ورځ د یو سل او ځلورو کالو په عمر مړ سو.

(۲٦) . وګ. سیر المتاخرین. دوهم ټوک. ۴۳۳ مخ.

لښکري د سپهسالار حسين علي بارهاپه مشرۍ د دکن په نيامت مخ پر اګره وخوځېدلې او غضنفر جنګ نواب محمدخان ته حال ورولېږه سو چي له خپل فوجه سره د اګرې په شاوخوا کي د ډهلي د لښکرو مل سي.

په دې لښکر کښي کي سپهسالار د ډهلي بېوسه مغل پاچا محمدشاه هم ورسره بوت او د ډهلي د پاچهۍ نائب (قطب الملک وزير عبدالله) هم په ښکاره د پاچا د مشايعت په نامه تر اګرې ورسره ولاړ.

کله چي قطب الملک له اګرې څخه ډهلي ته راستنېدئ د ميانۍ د مياشتي په نولسمه ورځ يې پر لاري له غضنفر جنګ نواب محمدخان سره (چي ظاهراً د سپهسالار د ملګرۍ په نيامت له درو زرو سپرو سره له فرخ آباده اګرې ته روان و) وليدل او پنځوس زره روپۍ يې د لښکر د خرڅ په نامه ورکړلې[۲۷].

غضنفر جنګ نواب محمدخان چي د فتح پور په شاوخوا کي د سپهسالار په لښکرو پسي وررورسېدئ، هلته د سپهسالار پر ضد د پاچا او توراني اميرانو توطئه ښکاره سوه او سپهسالار د ميانۍ پر اوه ويشتمه يا د لوی اختر د مياشتي په شپږمه ورځ د حيدرخان نومي سړي په واسطه په چم وواژه سو او هر څه يې پاچا خپل کړل.

د سپهسالار تر وژلو وروسته محمدشاه مغل د قطب الملک سيد عبدالله له لاسه څخه د ډهلي د ايستلو په نيامت لښکري د ډهلي لور ته راستنې کړلې او غضنفر جنګ نواب محمدخان هم له خپل فوجه سره د پاچا مل سو.

د سيرالمتاء خرين د دوهم ټوک په ۴۳۸ مخ کي کښلي دي :-

قطب الملک ته چي د ورور د وژل کېدلو حال ورغئ، دستي يې د لوی اختر د مياشتي په يوولسمه يو مغل شهزاده چي ابراهيم نومېد د

---

[۲۷] . سيرالمتاء خرين، دوهم ټوک، ۴۳۷ - ۴۳۸ مخونه.

ډهلي پر تخت کښېناوه او د ظهيرالدين نوم يې پر کښېښوو،[۲۸] لښکري يې د محمدشاه سره د مقابلې له پاره مخ پر اګره وخوځولې، شاهپور ته نژدې جنګ سو، په دې جنګ کي غضنفر جنګ نواب محمدخان له خپلو درو زرو سپرو سره د محمدشاه د پوځ په ښي غوړي کي ولاړ و.

په دې جنګ کي د قطب الملک ماته په نصيب سوه، د ۱۱۳۳ هـ ق کال د محرمي پر څلرمه ورځ د پاچا په لاس کښېوت او تر څوپوري چي د ۱۱۳۵ هـ ق کال د لوی اختر په مياشت کي مړ کېدئ بندي و.

محمدشاه مغول چي د سيدانو ورونو له منګولو څخه خان او د ډهلي پاچهي خلاصه کړله، خپلو ملګرو ته يې رتبې، خطابونه او بخښښونه ورکړل، غضنفر جنګ نواب محمدخان يې هم د قايم جنګ په خطاب ونمانځه او د اله آباد حکومت يې ورکړ.

## د "اله آباد" والي توب :-

د ۱۱۳۳ هـ ق کال د دوهمي خور (ربيع الثاني) په مياشت کي نواب محمدخان ته د مغل پاچا له خوا د اله آباد والي توب ورکړ سو.

د اله آباد ښار د ډهلي جنوب شرقي خوا ته تقريباً درې سوه اويا ميله ليري پروت دی، د حديقة الاقاليم په ٦٦٧ مخ کي کښلي دي :-

د اله آباد صوبه (ولايت) په هغه وخت کي له سنجهونی څخه تر کوچوره پوري يوسل وشپېته کروه اوږدوالی او د ګنګا له چوسا نومي ګدره څخه تر ګهاتم پوره پوري يو سل وشل کروه پسور درلود.

شرق ته يې د بهادر صوبه، غرب ته يې د اګرې صوبه، شمال ته يې د اودهـ صوبې او جنوب ته يې د ماندوګړهـ سيمي او بندهيل کهند

---

[۲۸] . ظهيرالدين ابراهيم د رفيع الشان زوی او د رفيع الدرجات او رفيع الدوله ورور و.

پروت و، د اله آباد ولایت په هغه وخت کې شپاړس (۱٦) حکومته درلودل لکه :-

چنار، غازي پور، بنارس، کالنجر، اریل، مانکپور، شهزادپور، جونپور، زمانیه، کنوار، میرزاپور او نور ...

کالني عایدات یې اوه دیرش کروړه اوه زره دامه وو[۲۹]. چې له دونوي لکو پنځوسو زرو یو سلو پنځو اویاوو روپو (کلدارو) سره برابرېږي.

## د اله آباد له معزول نائب سره جنګ :-

په ۱۱۳۳ هـ ق کال چې غضنفر جنګ نواب محمدخان د محمدشاه له خوا د اله آباد والي مقرر سو، تر ده دمخه د اله آباد ولایت د مبارزالملک سربلندخان د دوهم زوی شهنوازخان په لاس کې و او د پلار له خوا یې نیابتاً اداره کاوه.

د سربلندخان[۳۰] دا عادت و، له هره ولایته چې به موقوفه سو،

---

(۲۹) . پښتانه ستر تولواک شیرشاه سوري (۹۴۷ - ۹۵۲ هـ ق) یوه مسي سکه راوایستله چې ۳۳۰ ګرینه یې تول و. دغه سکه یې دام بلله. (وګورئ: The Coins of India ۹۰ مخ).

د آئین اکبري شارح سیداحمد پنځه دامه له دوو آنو سره برابر بللي دي (وګورئ: د آئین اکبري د لومړي ټوک ۲۱۲ مخ) - دام په دوولسمه هجري سدۍ کې لا له چلاوه نه و لوېدلی او د صوبو عایدات په دام سره ښوول کېده.

(۳۰) . سربلندخان په ۱۱۳۱ هـ ق کال د ډهلي د پاچهي له خوا د کابل والي مقرر سوی و، مګر دی پخپله په پېښور کې واوسېد او مشر زوی یې چې خانزادخان نومېد له یوه تکړه پوځ سره کابل ته راواستاوه. د ستنېدلو په لار کې پښتنو جګدلک ورته نیولی و. سخت جنګ وسو. مغلو ماته وکړه او خانزادخان له پنځوسو تنو منصبدارانو سره د پښتنو په لاس کې بندي سو. سیرالمتاء خرین دغه جنګ د ۱۱۳۳ هـ ق کال په واقعاتو کې راوړئ دئ.

نوي والي ته به يې بې جنګه هغه سيمه نه ورخوشي کوله، او يو وار به يې زور ورسره آزمويه[۳۱]، په دغه پلا يې هم خپل زوی ته وکښل چې نوي والي نواب محمدخان ته به د اله آباد سيمه بې جنګه نه ورخوشي کوې او شهنوازخان هم د جنګ تياری شروع کړلې. د حديقة الاقاليم مؤلف چې د سربلندخان له ورتېرو خلکو څخه و، په دغه باب يې کښلي دي :-

نواب محمدخان بنګښ چې د شهنوازخان د جنګ په اراده خبر سو، تر خپل ورتګ پخوا يې د اله آباد په سيمه کې د هندويي نومي ځای راجا (چې جسونت سنګه نومېد او د نواب محمدخان له دوستانوڅخه و) د شهنوازخان جنګ ته وګماره.

جسونت سنګه له هندويي څخه "اريل" ته ولاړ، د اريل کلا د اله آباد په جنوب کې د جمنا د رود پر جنوبي غاړه پرته ده او په دغه وخت کې د نوموړي سربلندخان د زوم (ابوالفتح) ورور سيدمحمدخان د دغه ځای حاکم و.

جسونت سنګه چې اريل ته رسېدی، دوه زره سپاره او شل زره توپک والا پلي يې مله سول، د سخي پور راجا لال بکرماجيت يې (چې د جوګ راج کهلوار زوی و) هم ملګری سو او د "اريل" لور ته په ګډه وخوځېدل، شهنوازخان ته چې دا حال ورسېد، د لال جالوه له کلا څخه يې د اريل خوا ته لښکري راستنې کړلې، په يوه روځ يې ديرش کروه لار ووهله او د ګنګا غاړي ته يې ځان راورساوه، د زين خان ترين زوی خالقداد خان يې له شپږو سوو سپرو سره د ګنګا پر غاړه پرېښوو او پخپله

[۳۱]. سربلندخان چې په ۱۱۴۳ هـ ق کال د ګجرات له حکومته معزول سو، د نوي والي راجا ابهي سنګه سره يې خورا سخت جنګ وکړ او بې جنګه يې ګجرات ورپرې نه ښوو.

د کسوندین پر ګدر راپوري ووت او د "اریل" خوا ته په منډه را روان و.

دلته چې جسونت سنګهـ د ګنګا تـر رود د شـهنوازخان پـه راپـوري وتلو خبر سو، نور يې د حملې ځنډ مناسب ونه باله او دستي يې د اريـل پر حاکم سید محمدخان برید وکړ، په لومړۍ حمله کې د سیدمحمدخان د لښکرو ماته په نصیب سوه مګر سیدمحمدخان میدان نه پـري ښـوو او د شهنوازخان د کومک لار يې څارله.

د جسونت سنګهـ د لښکر سپاهیان زیاتره په لوټ اخته سـول، يـوې کوچنـۍ دسـتې يـې شکسـتیان پسـي اخیسـتي وو، پـه دې تـرڅ کـي د شهنوازخان د لښکرو سرلاښ (مقدمـة الجیش) ښکاره سو او د شکستیانو په بدن ساه ننوتله.

بخپله شاهنوازخان هم له کیڼ غوړي څخه د جنګ میدان ته ځـان راورساوه او د جسونت سنګهـ د سوبې رنګ واووښت.

د حدیقـة الاقالیم مؤلف دا هم زیاته کړېده :-

د سیدمحمدخان د لښکرو تر ماتي وروسته راجـا جسـونت سـنګهـ او راجا لال بکرماجیت د شکستیانو د نندارې له پاره لـه خپلـو اسـانو کښتـه سوي وو او اسان يې له شاطرانو څخه وو، د شهنوازخان د لښکرو ږغ چـي پورته سو ، شاطران وارخطا سول له اسانو سره وتښتېدل او راجاګـان پلـي پاته سول، خو بیا هم راجاګانو د ستاینې وړ تـوري ووهلـې او پسـله ډېـرو تلفاتو څخه تر شا سول.

سبا چي د جسونت سنګهـ د پوځ مړي وشمېرل سوه (۱۷۲۰) تنو ته ورسېدل.

## ماتمي خلات :-

د جسـونت سنګهـ تـر مـاتي وروسـته بخپلـه غضـنفر جـنګ نـواب

محمدخان اله آباد ته ولاړ او د اله آباد د والي په توګه يې په کار شروع وکړه.

دوې درې مياشتي وروسته بې د ۱۱۳۳ هـ ق کال د رجب د مياشتي په وروستيو ورځو کي خپل زوی نيو (متبني) (چي دلېرخان نومېد) د بندهيل کهنډ لور ته ولېږه، سودهـ مودهـ نومي ځای ته نژدې د دلېرخان د لښکرو او د هغه ځای د زميندار تر منځ جنګ ونښت په دې جنګ کي دلېرخان له اوو اتو سوو پښتنو سپاهيانو سره شهيد سو.

د ډهلي پاچا محمدشاه چي د دلېرخان او د ده د ملګرو په شهادت خبر سو، نواب محمدخان غضنفر جنګ ته يې ماتمي خلات او يو مرصع سرمېچ ورولېږه[۳۲] او په دې توګه يې د ده وير لږ کړ.

## د بندهيل کهنډ نيول :-

بندهيل کهنډ د اله آباد د صوبې (ولايت) جنوب غربي خوا ته د يوې پراخي سيمي نوم و، د نواب محمدخان بنګښ په وختو کي ددغي سيمي راجا چترسال (۱۱۴۸ هـ ق مړ) و چي د جيت راو (جيت سنګه) بنديله زوی کېدئ.

د حديقة الاقاليم په ۱٦۷ مخ کي کښلي دي:-

د "مدکرساه" بنديله[۳۳] زوی نرسنګه ديو د مغل پاچا اکبر (۹٦۳ - ۱۰۱۴ هـ ق) د نازولي زوی شهزاده سليم (چي د پاچهۍ په وختو کي جهانګير بلل کېده) نوکر و، په ۱۰۱۱ هـ ق کال چي ابوالفضل علامي له دکنه ځخه اګرې ته تئ، د شهزاده سليم په اشاره د نرسنګه ديو بنديله له

---

[۳۲] . وګ : سيرالمتاء خرين، دوهم ټوک، ۴۵۲ مخ.

[۳۳] . د هرديو د زوی " مدکرساهـ" مور مينځه وه، مينځي ته په هندي ژبه "باندي" او د مينځي زوی ته "بانديله" وايي.

لاسه وواژه سو او ددغه خدمت په عوض کي يې د جهانګير د پاچهۍ په وختو کي پنځه زرى منصب او د بندهيل کهنډ سيمه په جاګير کي وموندله.

نرسنګه ديو لوى ډاکوو[۳۴]، د اله آباد د صوبې زياتره ورځرمه ځکي يې د ډاکو په ډول خپلي کړلې او د خپلي واکمنۍ ساحه يې ښه پراخه کړله، له اوړچهـ ځخه يې (چي د جهانسي په جنوب کي واقع دى) د شمال لورته د چمبل د رود تر غاړي پوري خپل ملک ارت کړ، د جنوب خوا ته يې د نربدا تر سينده پوري ځان ورساوه[۳۵] او د منډله ګړهـ کلا يې چي د نربدا پر غاړه واقع وه خپله کړله.

د مغرب له خوا تر نروره ورسېد او د مشرق له خوا نه يې د اله آباد د صوبې تر پياګ نومي ځاى پوري (چي د "اريل" حکومت ته ځرمه واقع دى) خپل ملک اوږد کړ، د دغي پراخي راجواړې نوم بندهيل کهنډ و.

د حديقة الاقاليم مؤلف دا هم زياته کړېده :-

نرسنګه ديو چي مړ کېدئ، د بندهيل کهنډ کلاوي يې پر خپلو اتو زامنو او يوه وراره (جيت راى) ووېشلې، د دهامد له روده ځخه يې تر

---

(۳۴) . دغي کورنۍ ته ډنکها هم ويل کېږي ، ځکه چي په هندي ژبه ډنکها د پښتو ډاکو معنى لري.

(۳۵) . د نربدا ذکرد اشرف خان هجري (۱۱۰۶ هـ ق مړ) په ديوان کي داسي سوى دى:-

د هوسۍ په ښکر برات د وصل مخ شه
چـــي راپوري په ندۍ د نربدا شـــوم
(ديوان ۱۰۳ مخ)

د نربدا د رود جنوبي خوا ته دکن وايي، اشرف خان دغه بيت هغه وخت ويلى دى چي له ګواليارد د عالمګير اورنګزېب په حکم بندي دکن (بيجاپور) ته لېږل سوى و، دا واقعه د (۱۰۹۸ – ۱۱۰٦ هـ ق ) تر منځ پېښه سوې ده.

ترهوان نومي ځايه پوري (چي د اله آباد د صوبې د اريل حکومت ته څرمه واقع دی) د خپل ملک شرقي برخه جيت رای ته ورکړله[٣٦]، جيت رای چي مړ سو، زوی يې چتر سال پر ځای کښيناست او د حديقة الاقاليم د بيان له مخي يې د کالپي، مهوبې، موده او سند سيمي چي پاچاهي سيمي بللي کېدې او د نواب محمدخان په جاګير کي وې ونيولې[٣٧].

د سيرالمتاء خرين د دوهم ټوک په ۴٦۴ مخ کي پر بندهيل کهنډ باندي د نواب محمدخان د حملې په باب کښلي دي:

د اله آباد صوبه دار (والي) نواب محمدخان بنګښ غضنفر جنګ د چترسال د ځپلو او بندهيل کهنډ د نيولو په نيامت له اله آباده څخه رهي سو، له يوه لوی پوځ سره په بندهيل کهنډ ورننه ووت، ډېر ځايونه يې له راجا چترسال ډېر ټکها څخه ونيول، د هغه پايتخت يې خپل کړ.

نواب محمدخان چي پر راجا چترسال بری وموند په بندهيل کهنډ کي يې د پاته کېدلو اراده وکړله او د بندهيل کهنډ په مرکز (د راجا چترسال په پايتخت) کي يې واړول. د حديقة الاقاليم مؤلف په دغه برید کي د نواب محمدخان د پوځ شمېر شل زره سپاره ښوولي دي او زياته کړې يې ده:-

نواب محمدخان چي له اله آباده څخه د شلو زرو سپرو سره وخوځېد او تر جمنا پوري ووت د بندهيل کهنډ راجا چترسال په خبر سو، له شپېتو زرو سپرو، يو لک تنو پلو سپاهيانو او يوې درنې توپخانې سره يې په "اجوني" نومي ځای کي د نواب محمدخان مخه ونيوله، خورا سخت

---

[٣٦]. د جيت ګړه کلا د دغه جيت رای له ودانيو څخه ده، جيت پور يې هم بولي، په ماثرالامرا کي د ګړهي په نامه ضبط ده.

[٣٧]. وګ: حديقة الاقاليم. ١٧٢ مخ.

جنگونه وسول چترسال ماتې وکړه او غرو ته وتښتېد[۳۸].

د حديقة الاقاليم مؤلف دا هم کښلي دي :- دغه جنگونه يو کال پسي اوږده سول او هر ځای بری د نواب محمدخان په برخه و، نواب محمدخان په بندهيل کهنډ کي ډېر پر مخ ولاړ او زياتي سيمي يې د چترسال له منگولو خلاصي کړلې، په جيت پور کي يې چي د چترسال د راجواړې مرکز و، واړول، دوه کاله هلته واوسېد، او له چترسال سره يې روغه وکړله.

## د چترسال او مرهټو گډه حمله :-

د سيرالمتأخرين مؤلف کښلي دي :- د چترسال تر ماتي او ځپلو وروسته نواب محمدخان د خپل پوځ زياتره سپاهيان کورو ته رخصت کړل او يوه لږه اندازه يې له ځانه سره په جيت پور کي وگرزول. چترسال چي د نواب محمدخان د سپاهيانو په رخصتي خبر سو، بيا د بندهيل کهنډ د نيولو هڅه ورولاړه سوه، د ناگپور او اوجين له لارو يې مرهټه پوځونه د لومړي باجي راو په مشري خپلي مرستي ته راوبلل[۳۹]، له څو خواوو يې پر نواب محمدخان يرغل وروړ او له پټو لارو څخه يې پوځونه د جيت گړه شاو خوا ته نابېره ورورسول.

نواب محمدخان د هغه ملک په لارو نه و خبر، او د دغونه لوی پوځ سره يې ميداني جنگ هم په وس نه و پوره، ځکه نو دوې درې ورځي

---

[۳۸]. وگ :- حديقة الاقاليم، ۱۷۲ مخ.

[۳۹]. لومړی باجي راو د لومړي بالاجي (۱۱۲۷ - ۱۱۳۳ هـ ق) زوی و، د پلار تر مرگ وروسته د مرهټو په دربار کي پيشوا سو، په ۱۱۵۴ هـ ق کال د ۳۹ کالو په عمر ومړ، دده د پيشوايۍ په دوره کي مرهټو د شمالي هندوستان لور ته ډېره پيشقدمي وکړه، تر ده وروسته يې زوی دوهم بالاجي د مرهټو پيشوا سو.

وروسته په جيت ګړه (جيت پور) کي کلابند سو، د ازوغ لاري هندوانو پر وتړلې ، د نواب محمدخان د پوځ زياتره ځوانان په هغه کلا بندي کي له لوږي مړه سول.

د حديقة الاقاليم مؤلف کښلي دي:-

له دغي کلابندۍ څخه فقط څلور يا پنځه سوه کسه ژوندي راووتل، نور له لوږي شهيدان سول او په هغه کلا کي يې هديرې جوړي سولې.

په سيرالمتاء خرين کي د دغي مدهشي کلابندۍ موده نه ده ښوولې سوې، مګر په ماثرالامراء کي يې موده څلور مياشتي کښلې ده او د کلا نوم هم د سيرالمتاء خرين د (جيت ګړهـ) او د حديقة الاقاليم د (جيت پور) پر ځاى (ګړهي) ليکلى دى[40].

په حديقة الاقاليم کي د دغي مدهشي کلابندۍ د لوږو تفصيل سته او مؤلف الله يار عثماني بلګرامي (د ۱۱۳۳ هـ ق کال زوکړى) د باوري خلکو له خولې داسي راوړي دي :-

"د نواب محمدخان پوځونه چي د جيت پور په کلا کي کلابند سول، دوى د کلابندۍ له پاره غله او ازوغ نه و تهيه کړى، ډېر ژر د ګرانۍ خبره کاختۍ ته ورسېدله د غنمو يو سير[41] په لس روپۍ نه پيدا کېدى، د شاوخوا خلکو به ميده کړي هډوکي په اوړو ګډول او پر دوى به يې په زياته بيه خرڅول، ورو ورو د کلابندۍ حلقه تنګېدله او د ازوغ لاري لا پر تړلې کېدلې، پاى ته د لوږي خبره دې حد ته ورسېدله چي د حيواناتو په غوښو به کلابندو ځوانانو د لوږي دفعه کوله، حيوانات هم خلاص سول، کله کله به ځينو کسانو په پټه د غلې ګوډي د کلا بېخ ته ورسول ، کلابندو پښتنو به سل روپۍ د پګړۍ په پېڅکه کي ونغښتلې او ورته راوبه

---

(۴۰) . مآثرالامرا – ۳ ټوک ۷۷۲ مخ.

(۴۱) . د هندوستان يو سير د کابل په تول دوه پاوه راځي.

يې ځړولې، سوداګرو به هغه سل روپۍ ځني خلاصي کړې او پر ځای به يې فقط يو سير اوړه وروتړل، له لوړي مړ ژواندو سپاهيانو به په ډېره خوشالي هغه کلا ته پورته کړل او ځو تنو به ځانونه له مرګه په وساتل.

## د نواب محمدخان خلاصون :-

د نواب محمدخان غضنفر جنګ پوځ د حديقة الاقاليم په قول په ډېرو جنګو کي د مرهټو او چترسال پر ګډو پوځو بری ومونډ، مګر کله چي کفارو د ازوغ تولي لاري پر وتړلې ، پښتانه غازيان لوږي له پښو واچول او له مرهټو سره د جنګ توان يې بايلو، د کلا په دېوالو کي له لوږي سره لاس و ګرېوان سول.

د ډهلي په پاچهي کي دونه انتظام ، پېرزوينه او سېک نه و چي د بندهيل کهنډ کلا بند غازيان د لوږي له چپاوه وژغوري، محمدشاه مغل پاچا او د دربار نور اميران په خپلو عياشيو اخته وو، د راګ او رنګ مجلسو دا همت نه ورکښي پرې ايښئ چي د مرهټو او بندهيليو کفارو په منګولو کي د ګير سوو پښتنو د خلاصون څه بند وتړي.

د سيرالمتاء خرين مؤلف کښلي دي:-

د نواب محمدخان غضنفر جنګ د بدي ورځي حال چي فرخ آباد ته ورسېد، د نواب د کورنۍ غړو تر هر چا دمخه د ډهلي له پاچا محمدشاه څخه مرسته وغوښتله ، هيچايې پر عرض غوږ ونه نيو، او د دربار په ساحه کي څوک داسي پيدا نه سول چي زړه يې د نواب محمدخان او د هغه د ملګرو په بده ورځ خوږ سي.

پښتانه وايي :- " مځکه هغه سوځي چي اور پر بليږي".

د نواب محمدخان او ملګرو پر سرويې د مرګ توري په اومږو سپنسو ځوړندي وې او د کورنۍ غړو يې د دوی په غم کي د زړهويني خوړلې

مگر د ډهلي په دربار کي د ساز او سروز او رنګ و راګ مجلسونه یوه روځ هم ناغه نه سول او هیڅا هم د دوی د خسمانۍ په فکر د خپل عیش و نوش کتهوري بدخونده نه کړل.

د نواب محمدخان ماینه راوپاڅېدله، خپل پوړني یې د شاوخوا پښتنو ته ورولېږه، هغو هم ددې پښتنې ننګه ومنله او د نواب د نوي ځلمي زوی قایم خان تر بیرغ لاندي یې په راټولېدلو پیل وکړ. په لږو ورځو کي د پښتنو پوځ تیار سو او د نواب محمدخان مشر زوی قایم خان له دېرشو زرو سپرو سره د پلار د خلاصون او مرستي په نیامت له فرخ آباده څخه مخ پر بندهیل کهنډ وخوځېد.

د مرهټه فوجونو مشر لومړی باجي راو (۱۱۳۳ - ۱۱۵۴ ه ق) چي په خبر سو مخه یې ورته ونیوله ، د قایم خان او مرهټو تر منځ کلک جنګونه وسول، د مرهټو د پوځ یوې برخي د قایم خان لار وتړله او بلي برخي یې د چترسال په ملګر  ىلابندي لا پسي ټینګه کړله او پر نواب محمدخان یې د ازوغ او قاصد لاري له هري خوا بندي کړلې.

نواب محمدخان چي بندهیل کهنډ ته د قایم خان په وررسېدلو ناخبره و ، د ازوغ پر مخ خلاصېدلو روغي ته اړ یوست، د پشکال وخت او د قایم خان پوځ رانژدې سوی و، مرهټو هم له خدایه څخه دغه غوښتله، دستي یې په دې شرط له نواب محمدخانه سره روغه ومنله چي " د چترسال نیولي مځکي به پرېږدي او بیا به د چتر سال پر ملک برید نه کوي" او نواب محمدخان ددې شرط د منلو په عوض کي له چترساله څخه د کالپي، سرونج، کونچي، ګرا، کوهټې او هردي نګر سیمي (چي چترسال او مشرانو یې نیولي وې) خپلي کړې[۴۲].

---

[۴۲] . قاموس المشاهیر، لومړی ټوک، ۱۸۹ مخ. د اجکل مجلې د ۱۹۵۸ ع کال د فرورۍ په ګڼه کي کښلي دي: چترسال د دغي مرستي په صله کي مستـني ←

تر روغي وروسته لومړی باجي راو د.هغه لښکري د کن ته ستنې کړې او چترسال هم د جيت پور له شاوخوا څخه د بندهيل کهنډ غرو تـه تـر شـا سو. نواب محمدخان او سپاهيان يې (چې د حديقة الاقاليم پـه قـول تـر څلورو يا پنځو سوو تنو زيات نه وو) پسله څو مياشتو له کلا راووتل او دهفتو هفتو له شومې خلاص سول.

د حديقة الاقاليم په ٦٧ مخ کي کښلي دي :-

نواب محمدخان چي د توريالي زوی قايم خـان پـه مرسـته د جيـت پور له کلابندۍ خلاص سو اله آباد ته ولاړ ، هلته يې محمداکبرخان پخپل نيابت پرېښوو، پخپله فرخ آباد ته ولاړ.

پر بندهيل کهنډ باندي د نواب محمدخان د حملې او په جيت پـور کي دده د کلابند کېدلو په تاريخ کي څه اختلاف سته.

د حديقة الاقاليم په ۱۷۳ مخ کـي دغـه پيښـي تـر ۱۱۴۳ هــ ق کـال پخوا بللي سوي دي، او د آجکل مجلې د ۱۹۵۸ ع کـال د فـرورۍ پـه ګڼـه کي بندهيل کهنډ ته د مرهټو فوجو سره د باجي راو تـګ او پـه جيـت پـور کي د نواب محمدخان کلابندول په ۱۷۲۹ ع کال ښوول سوي دي. ځکـه چي ددغه عيسوي کـال د اوومـي مياشـتي (جـولای) اووه يشـتمه ورځ د ۱۱۴۳ هـ ق کال له لومړۍ ورځي سره برابـره ده نـو پـه جيـت پـور کـي د څلورمياشتنۍ کلابندۍ شروع بايد د ۱۱۴۳ هـ ق کال په محرمـه يـا صـفره کې يا تر دې دمخه وي او پـر بنـدهيل کهنـډ بانـدي د نـواب محمـدخان حمله د ۱۱۴۱ ه ق کال په شروع يـا ۱۱۴۰ هــ ق کـال پـه پـای کـي اټکـل

---

←—— نومې خپله خاصه رنډۍ (چي په ښکلا او اواز کي يې ساری نه درلود) هم باجي راو ته وبخښله. د باجي راو ناجائز زوی شمشېر بهادر چي د پاني پت پـه غـزا کي د پښتنو غـازيانو له لاسـه مړ سو ددغي مسـتاني زوی و، د بانډې نوابـان ددغـه شمشېر بهادر اولاده ده.

کېږي .

د قاموس المشاهير د دوهم ټوک په ۱۸۹ مخ کې د دغو پېښو تاریخ تر ۱۷۳۲ ع = ۱۱۴۵ هـ ق وروسته ښوول سوی دی، چې دا تاریخ صحیح نه ښکاري، په ځینو کتابو کې دغه پېښې د نواب محمدخان د مالوې د حکومت په دوره (۱۱۴۳ - ۱۱۴۵ هـ ق ) کې هم راوړه سوي دي.

## د اله آباد له والي توبه ایسته کېدل :-

د سیرالمتاء خرین د دوهم ټوک په ۴۶۴ مخ کې کښلي دي :-

د ډهلي په عیش و نوش مدهوشه پاچا محمدشاه مغل چې له مرهټو سره د نواب محمدخان په روغه خبر سو له پښتانه نوابه ځخه یې نازک طبیعت او نازولې خوا بده سوه ، د دې پر ځای چې د کلابندۍ په تنګسو کې یې د ده مرسته کړې وای ، د ده تر خلاصون وروسته یې د اله آباد حکومت ځني واخیست او مبارزالملک سربلندخان ته یې ورکړ.

## د مالوې والي توب :-

مالوې صوبه (ولایت) د هندوستان په منځنۍ برخه کې پرته وه، د دغه ولایت جنوب ته د نربدا رود بهېدئ، شمال ته یې د اګرې صوبه وه، لوېدیځ لور ته یې ګجرات او راجپوتانه ، ختیځ لور ته یې کوچنی ناګپور او بندهیل کهنډ پراته وو.

د اوجین ښاریې (چې د اندور شمال ته تقریباً څلوېښت میله لیري واقع دی) د حکومت مرکز و[۴۳].

---

[۴۳] . د اوجین ښار د مالوې د خلجي پاچهانو (۸۳۹ - ۹۴۱ هـ ق ) له پایتخت ماندو ځخه تقریباً پنځه اویا میله د شمال شرق خوا ته او د میرازي خېلو پښتنو د نوابۍ له مرکز بهوپاله ځخه تقریباً یوسل و پنځلس میله د غرب خوا ته پروت دی.

په ۱۱۳۸ هـ ق کال د ډهلي د دربار له خوا څخه د دغې صوبې والي توب گروهر سنگه نومي راجپوت سردار ته وسپاره سو[۴۴]، په ۱۱۴۲ هـ ق (۱۷۲۹ ع) کال پر گروهرسنگهـ باندي مرهټو یرغل وکړ، دی یې وواژه او مالوه یې تالا ترغه کړله[۴۵].

که څه هم د گروهرسنگهـ تر وژل کېدلو وروسته د ده وراره دیارام څه مقاومت وکړ، مگر هغه هم د مرهټو له لاسه وواژه سو.

د مالوې صوبه د ډهلي د پاچهی تر نورو صوبو د کن ته نژدې وه او هر وخت د مرهټو د حملو سپر و، له مرهټو څخه د دې صوبې ساتل اسان کار نه و، ځکه نو محمدشاه په ۱۱۴۳ هـ ق کال د دغې خطرناکي صوبې والي توب نواب محمدخان بنگښ ته وسپاره.

نواب محمدخان دوه کاله او څو میاشتي د مالوې والي و، په ۱۱۴۵ هـ ق کال له دغه والي توبه څخه ایسته کړه سو او پر ځای یې د جي نگر راجا جي سنگه (۱۱۵٦ هـ ق مړ) د مالوې والي سو[۴٦]، او د ډاکتر

---

(۴۴) . وگ : هندوستان کي حالت، ۱۳۲ مخ.

(۴۵) . وگ : قاموس المشاهیر، ۲ ټوک، ۱٦۲ مخ.

(۴٦) . د دغه جی سنگهـ زوی ایسر سنگهـ سوایي په ۱۱٦۱ هـ ق کال د منوپور په میدان کي د لوی احمدشاه بابا د فوجو په مقابل کي د محمدشاه مغل پاچا په طرفداري وجنگېد او د حاجي جمال خان بارکزي د پوځ له لاسه یې داسي شکست په پښه سو چي له سرهنده یې تر جي نگره پوري تر شا ونه کتل ، د احمدشاهي شهنامې په ۷۵ مخ کي یې مفصل بیان سته. څو بیته یې دا دي:-

د حاجي سپاهیان په شور شوه
مست خوني پیلان په زور شوه
په میدان کي سرا سر
دا گوار د جی نگر
و یو لور ته شوه روان
په مخ راغله د طوفان

سیداظهر علي په قول تر ۱۱۴۵ هـ ق وروسته د مرهټو بریدونه د ژړیو تبو په څېر هر کال تر پشکال (برسات) وروسته پر منځني هندوستان شروع سول[۴۷].

## د غازي پور جنگ :-

د حدیقة الاقالیم په ۶۸۰ مخ کي کښلي دي:-

په ۱۱۴۶ هـ ق کال د کوړه جهان آباد[۴۸] زمیندار بهگونت (د اړاړو زوی) د اټاوې پر مغلي حاکم جان نثار خان باندي (چي د ډهلي د وزیر قمرالدین خان د ماینې ورور و) ناڅاپه برید وکړ، جان نثارخان یې وواژه، ډېري الجې یې په لاس ورغلې او په دې الجو کي د جان نثارخان د کور یوه ښځه هم د بهگونت په لاس کښېوتله چي بیا یې خپل زوی روپ سنگهـ ته کښېنوله.

قمرالدین خان وزیرالممالک ته چي دا حال ورغی، د ډهلي لښکري یې د نوموړي بهگونت د ځبلو له پاره پر کوړه جهان آباد وروبهولې، غضنفر جنگ نواب محمدخان بنگښ هم په دغه لښکر کښي کي د وزیرالممالک مل سو.

---

چي طـوفـان و د بـلا
د دوی مـا ته شـوه پرې ملا
جـی نـگر ته شـوه روان
خـاوري نوسـتې په دا ځـان

[۴۷]. د سفر نامهٔ اندرام مقدمه.

[۴۸]. د کوړه او جهان آباد ښارونه خرمه سره واقع دي ، د کوړه جنوب ته درې څلور کروه لیري د جمنا رود بهېږي او شمال ته یې نه کروه لیري د گنگا سیند تېرېږي ، کوړه له اله آباده څخه شپږ مزله لیري شرقي لور ته واقع ده، د کوړه سیمه چي پخوا چکله هم بلله کېدله د جمنا او گنگا د دوآبې په جنوبي برخه کي پرته ده.

بهگونت چي د میداني جنگ تاب نه درلود، د غازي پور په کلا کي کلابند سو، په دغه وخت کي د امیرالامراء خان دوران خان په لمسون د ډهلي پاچا محمدشاه مغل د اله آباد والي سربلندخان مبارزالملک ډهلي ته وروغوښت او د وزارت آوازه یې خپره سوه.

د وزیر الممالک قمرالدین خان غوږو ته چي دا آوازه ورسېدله د جان نثار خان ننګه یې هېره سوله، په خورا تلواریې خپلي لښکري د ډهلي لور ته ستنې کړې او د غازي پور کلابندي یې غضنفر جنګ نواب محمدخان بنګښ ته ورپرېښووله.

د وزیرالممالک تر ستنېدلو وروسته د بهگونت په زیار بنګښ نواب په روغه راضي سو، خپل لښکر یې فرخ آباد ته ستون کړ او بهگونت له غازي پوره څخه کوږه جهان آباد ته ولاړ[۴۹].

## د مرهټو مخ نیوی :-

د ۱۱۴۹ هـ ق کال د کوچني اختر په میاشت کي د ډهلي دربار خبر سو چي د ډهلي د پاچهی‌له خوا د مالوې د والي (راجا جی سنګهـ) په نیابت مقرره سوئ مرهټه پېشوا لومړی باجي راو (۱۱۳۳ - ۱۱۵۴ هـ ق) د ګنګا او جمنا پر دوآبه باندي د یرغل له پاره تیاری نیسي.

د ډهلي د پاچا محمدشاه مغل له خوا د ډهلي د دربار امیرالامراء (سپهسالار) وزیرالممالک، د اودهـ نائب الحکومه برهان الملک او د فرخ آباد نواب محمدخان بنګښ وګمارل سوه چي له خپلو خپلو پوځو

---

[۴۹] .. په سیر المتاءُ خرین کي د دې بغاوت د سر سړی "اروړا" ښوول سوی دی او دا یې هم زیاته کړېده پخوا تر هغه چي وزیرالممالک د اروړا ځبلو ته پخپله ورووزي خپل اخښی (د خور مېړه) عظیم اله خان یې د اروړا جنګ ته وګماره مګر عظیم اله خان څه ونه کړه او اروړا په درو ځني ننوت.

سره له خپلو سیمو څخه د مرهټو د ځبلو په نیامت د مالوې پر لور وخوځي او په ګډه د دغي بلا دفعه وکاندي. د میانۍ د میاشتي په اوومه ورځ امیرالامراء خاندوران له څلوېښتو زرو سپرو سره له ډهلي څخه ووت او اګرې ته یې ځان ورساوه. په ده پسې وزیرالممالک قمرالدین خان هم خپل پوځونه له ډهلي څخه د اګرې په نیامت وایستل، برهان الملک سعادت خان هم له اودهـ څخه مخ پر اګره وخوځېد.

د سیرالمتأ خرین په ۴۷۴ مخ کي کښلي دي :-

غضنفر جنګ نواب محمدخان بنګښ هم په دغه مقابله کي د برخي اخیستلو په نیامت له خپل پوځ سره له فرخ آباده مخ پر اګره روان سو، د میانۍ د میاشتي په دوه ویشتمه ورځ د مرهټو د سرلاري پوځ چي د بیلاجادو مرهټه او ملهار راو هولکر[50] په مشرۍ د دوآبې لوټلو ته ګمارل سوئ و، د اودهـ د والي برهان الملک سره نښته وسوه، په دې نښته کي ملهار راو هولکر تېپي سو او د مرهټو لښکر په تېښته باجي راو ته (چي ګوالیار ته نژدې یې په کوټله نومي ځای کي اړولي و) ستون سو.

باجي راو ددغي ماتي په عوض کي د لوی اختر په اتمه ورځ له غلیو لارو څخه خپل پوځونه د ډهلي شاوخوا ته ورسول او ځیني کلي یې چور کړل.

د ډهلي هغه پوځونه چي د باجي راو ځبلو ته وتلي وو د باجي راو دغي چابکدستۍ ته هېښ پاته سول او له نیمو لارو یې د ډهلي لور ته په راستنېدلو پیل وکړ.

---

[50] . ملهار راو هولکر (۱۱۰۵ - ۱۱۸۰ هـ ق ) د مرهټو له نومیالیو جرنیلانو څخه و، د اندور د راجاګانو کورنۍ د ده اولاده ده، دی د پاني پت په جنګ کي له خپلو درو زرو سپرو سره حاضر و، په تېښته یې ځان خلاص کړ او د غازیانو په لاس کښېې نه ووت.

د اوده والي برهان الملک د اختر په اتمه ورځ له اګرې څخه د ډهلي په نيامت راووت، دريمه ورځ په لار کي د نواب محمدخان پوځونه هم ورسره مله سول او په ګډه يې ځانونه د ډهلي شاوخوا ته ورسول، مګر له مرهټو سره جنګ پېښ نه سو، باجي راو بيرته مالوې ته خپل پوځونه ستانه کړل او هلته به يې خپلي محبوبي رنډۍ مستاني ته هرومرو د خوشال خان د غه بيت د نامه په تحريف ترجمه کړی وي :-

مرګ لره يې واړه د ډهلي لښکر راغلی
ته لا د خوشال په مرګ ځان روغ نه ګڼې ننګ کړې
(۱۴۳ مخ – د کندهار چاپ ديوان)

## پر ډهلي باندي د افشار نادر يرغل :-

د پښتونخوا تر نيولو او لوټلو وروسته افشار نادر (۱۱۴۸ - ۱۱٦۰هـ ق) چي خوني نادر يې هم بولي د ۱۱۵۱ هـ ق کال د کوچني اختر د مياشتي په اته ويشتمه ورځ له لاهور څخه د ډهلي په نيامت خپلي لښکري وخوځولې او د ميانۍ د مياشتي په اتمه ورځ تر سرهند تېر سو.

د ډهلي مغل پاچا محمدشاه چي د (ډهلي هنوز دور است) په للو للو درباريانو په درانه خوب بيده کړی و، د دې بدمرغه خبر په اورېدلو نابېرد ويښ سو، په تلوار تلوار يې لښکري راټولي کړې او د خوني نادر د مخ نيوي له پاره يې د کرنال لور ته (چي د ډهلي شمال ته پنځه اتيا ميله ليري واقع دی) وخوځولې.

د ماثرالامراء د مؤلف په قول نواب محمدخان ته په دغه پوځ کي د چنداول وظيفه سپارلې سوې وه[51].

---

[51]. وګ : مآثرالامراء، ۳ ټوک، ۷۷۲ مخ.

چنداول په هغو وختو کې هغه پوځ ته ویل کېده چې د تولو پوځو تر شابه تئ او د شا له لوري به یې د دښمن د غلي حملې دفعه کوله[۵۲].

مګر د حدیقة الاقالیم مؤلف کښلي دي چې د کرنال په لښکرکښي کي نواب محمدخان ته د حرم سرای ساتنه سپارلې سوې وه، او د ۱۱۵۲ ه ق کال د صفري پر اوومه چې خوني نادر خپلي لښکري له ډهلي څخه د افغانستان په نیامت وایستلې، د محمدشاه له خوا نواب محمدخان فرخ آباد ته رخصت کړه سو[۵۳].

د حدیقة الاقالیم مؤلف د دغي لیکني په ترڅ کي دا هم زیاته کړېده:-

" زه په دغه کال د فرخ آباد له لاري ډهلي ته تلم ، په فرخ آباد کي مي له نواب محمدخان بنګښ سره د لیدلو نیکمرغي په نصیب سوه".

## د نواب محمدخان قوم پروري :-

د تاریخ ګنجپوره په ۸ مخ کي کښلي دي :-

نواب نجابت خان غورغښتی[۵۴] د ۱۱۴۵ هـ ق کال په شاوخوا کي د محمدشاه ګورګاني (۱۱۳۱ - ۱۱۶۱ ه ق) په حکم په ډهلي کي بندي و، نواب محمدخان چې ډهلي ته ولاړ، د نجابت خان په بند خبر سو ، دستي یې د محمدشاه څخه د ده د خلاصون غوښتنه وکړه ، پاچا هم د

---

[۵۲] . وګ : غیاث اللغات. ۲۱۳ مخ.

[۵۳] . وګ : حدیقة الاقالیم. ۱۷۳ مخ.

[۵۴] . د نجابت خان غورغښتي نیکه ګان له کندهاره د اباسین غاړي ته راغلي و ، د غورغښتو کلي چې د اټک کلا او حسن ابدال تر منځ د اټک کلا ته نژدې واقع دي. د دغو غورغښتیو کندهاریو مېنه وه. نجابت خان د اټک له غورغښتو څخه هندوستان ته تللی دی. (وګورئ تاریخ ګنجپوره ۱ مخ) .

نواب محمدخان خبره ومنله ، نجابت خان غورغښتي ته يې د نوابی خطاب ، خلاتونه ورکړل او د ګنجپورې په شاوخوا کي يې (۵۷) کلي په آل تمغا سره د جاګير په توګه ورکړل.

په ۱۱۵۳ ه ق کال چي د ډهلي پاچا محمدشاه مغل (۱۱۳۱ - ۱۱۶۱ ه ق) راجه هرنند ته د روهيل کهند د حکومت فرمان ورکړ او د علي محمدخان بريڅ ځبلو ته يې وګماره ، راجه هرنند مرادآباد ته د خپلو لښکرو سره ځان ورساوه او د قمرالدين خان وزيرالممالک اراده وه چي خپل يو زوی هم د هرنند مل کړي، د مليح آباد عبدالنبي خان (د شاهجهانپور او بريلي حاکم) هم د راجه هرنند ملا وتړله، د عبدالنبي ورور چي دليل خان (دليرخان) نوميده له پخوا څخه د راجه هرنند د پوځ غټ افسر و، علي محمدخان عبدالنبي خان ته خطونه ولېږل او د هرنند له مرستي يې منعه کړ او دغه راز يې د وساطت يا مرستي له پاره نواب محمدخان ته هم ځوک ولېږل، په دغه باب نواب محمدخان يو ليک خپل زوی قايم خان ته (چي په ډهلي کي و) وليکه، چي قمرالدين خان ته ورسه او دا زما ليک وروړسوه ، نواب محمدخان په دغه خط کي وزير ته ليکلي وه :-

"تاسي خپل زوی معين الملک د راجه هرنند مرستي ته مه لېږئ، علي محمدخان ياغي نه دی، د ډهلي پاچهی ته اېل دی او هر کال دربار ته له سوغاتونو سره درځي".

قايم خان بنګښ چي د ۱۱۵۴ هـ ق کال د محرمي په ځلورمه کوم خط خپل پلار ته لېږلی دی په هغه کي يې ليکلي دي چي :-

"وزير په دې هڅه کي دی چي خپل زوی د پاچا له حضوره د راجه هرنند په پلوی د علي محمدخان سره جنګ ته ولېږي".

د شوکت افغان په ۲۶۴/۲ مخ کي ليکلي دي :-

وزیر خپل زوی معین الملک د هرنند مرستي ته ولیږه خو پښت یې ورته وویل جنګیږې به نه (ښایي دا به د نواب محمدخان د غوښتني اغیزه وه).

د شوکت افغان مؤلف عبدالحکیم لودي کښلي دي :-

" افشار نادر چي له ډهلي څخه ایران ته ستنیدئ، پیښور ته چي ورسید ډیر یوسفزي ځوانان یې د برمتې په توګه بندیان ورسره بوتلل، نواب محمدخان چي په خبر سو، درې لکه روپی یې افشار نادر ته ولیږلې او یوسفزي بندیان یې ځني خوشي کړل"[55].

## باون هزاري لقب :-

غضنفر جنګ نواب محمدخان بنګښ په هندوستان کي په باون هزاري (دوپنځوس زري) نواب محمدخان سره مشهور و، دا له دې امله چي ده د خپلو دوستانو، خپلوانو او اشنایانو په پالنه او پېرزوینه کي نوم ایستلئ و، د خپلي کورنی، قبیلې او قوم ډیر مړونه یې منصبو او رتبو ته رسولي وو، څوک د پنځو سوو سپاهیانو مشران و، څوک د زرو او څوک د څو زرو، او په دغه اندازه یې جاګیرونه هم درلودل، د ده د دغو ټولو دوستانو او اشنایانو د منصبو شمیر د سپاهیانو په حساب دوپنځوسو زرو ته رسیدی، ځکه چي په هندي ژبه دوپنځوسو ته باون وایي، نو یې دی باون هزاري باله.

## مریدي :-

پښتانه نواب محمدخان له دغه برم او دبدبې سره د نفس تزکیه هم

---

[55]. وګ : شوکت افغان، ۳۳۵ مخ.

نه وه هېره کړې.

شيخ يارمحمد د خپلي انشأ په ۹۵ مخ کي کښلي دي :-

" نواب محمدخان د اله آباد د مشهور ستانه او منلي بزرگ شاه خوب الله مريد و".

شاه خوب الله چي د ۱۱۴۴ ه ق کال د درېيمي خور په يوولسمه ورځ مړ دی، د خپل اکا او خسر شيخ محمدافضل اله آبادي (۱۰۳۸ - ۱۱۲۴ ه ق) خليفه و[۵۶]، که څه هم شيخ محمدافضل له خپل پير سيدمحمدکالپوي څخه د چشتيې، قادريې ، سهرورديې، نقشبنديې او مداريې طريقو د ارشاد اذن موندلی و، مگر د ده ميل نقشبنديې طريقې ته زياتۍ و او د دغې طريقې ارشاد يې ډېر کاوه[۵۷].

د نواب محمدخان پير شاه خوب الله ډېر کتابونه کښلي دي په هغو کي : القول الصحيح في الصلوة والتسبيح، الکلام المفيد في مايتعلق بالشيخ والمريد، خلاصه الاعمال او اظهار حقيقت تصوف زيات مشهور دي.

د شاه خوب الله زامن شيخ محمد فاخر (۱۱۲۴ - ۱۱٦۴ هـ ق) او شاه محمد ناصر (۱۱٦۳ هـ ق مړ) هم د مؤلفاتو تښتنان[۵۸] او په ښه سرېتوب مشهور وو، د اذکار قلندري په ۱٦۹ مخ کي د شاه خوب الله د

---

(۵٦) . د شيخ محمدافضل اله آبادي هديره په اله آباد کي ده ، زيارت يې ډېر مشهور دی مسجد او خانقاه يې هم هلته سته . د ده په مؤلفاتو کي شرح الفصوص علي وفق النصوص او فتح الاغلاق ډېر مشهور دي، (تذکرهٔ علماي هند ۱۸۱ مخ) .

(۵۷) . د شيخ محمدافضل پير په کالپي کي ښخ دی. د کالپي ښار د کانپور په سيمه کي د جمنا پر غاړه د اگرې جنوب شرقي خواته واقع دی.

(۵۸) . وگ : د قاموس المشاهير لومړی ټوک ۲۲۹ مخ . تذکرهٔ علماي هند ۲۰٦ - ۲۱۷ مخونه.

**ارشاد چشتیه سلسله داسي راوړه سویده:-**

قــطب خدا، هــادي برنا و پیر
حضرت خوب الله روشن ضمیر
افــضل اقطاب شـــــه دوسرا
او ز جـــناب شـــرف اولیا
مـــرشد او بـــود شه کالپی
واقــف اســـرار جلي وخفی
ســید اقــطاب محمد که بود
زیب ده مسند کشف و شـهود
مــرشد او بــود شه دین جمال
کــوروی آن قــبله ارباب حــال
مــرشد او بــود براه ســداد
حــضرت مخدوم جــهان رشاد
او زبهای حــق و دین نامدار
شــد بمراد دل خــود کامگار
کـــرده زوی سرور خیل کرام
حـــضرت سالار حصول گرام

مــرشد او بود شـــه جونپور
شیــخ بها حــق دین عین نور
او ز دو پیران ولایت شــعار
یافته این ســـلسله نامدار
ره دین رشـــــاد
شیخ محــــمدبن عیسی راد

مرشد او حضرت فتح اله است
انکه بر اقلیم ولایت شه است
اوست ز صدر کرما صدر دین
راهمنای ره حق الیقین
یافته او از شه عالی مکان
شیخ نصیر حق و دین کام جان
مرشد راهش شرف اولیاست
انکه بحق راهبر اصفیاست
شیخ نظام دل و دین آنکه بود
عاشق و معشوق جناب ودود

او د ده د نقشبندیې سلسلې په باب د اذکار قلندري مؤلف فرح بخش فرحت (۱۲۵٦ ه ق مړ) داسي کښلي دي :-

وزو خواجه بهای دین و ملت
که بود از وی ضیای دین و ملت
وزو آن خواجه یعقوب عالی
سریر آرای ملک بي مثالي
وزو آن خواجه احرار افاق
عبید اله شه اخیار افاق
وزو عبد الحق آن خاص الهی
مهین داناي راز لا تناهی
وزو قطب ولایت خواجه یحیی
پی احیای دل همسنگ عیسی
وزو عبدالله آن کان کرامت
محیط کشف شان کرامت

وزو آن شـــاه ایوان هـدایت
امـــیر بوعلي قطب ولایت
وزو سیـد محمد قـطب دوران
امـــام خـطه دین غوث یزدان
وزو قـطب دو عالم شیخ افضل
اخـص خاصگان سرخیل اکمل
وزو خـوب الله ما قطب اقطاب
شـــه یحیی امام عبد اواب

**مړینه :-**

**تر ډېرشو کالو نوابۍ وروسته غضنفر جنګ باون هزاري نواب محمدخان بنګښ د ۱۱۵٦ هـ ق کال د درېیمي خور (جماد الاولی) په میاشت کي (۱۷۴۳ ع) مړ او د فرخ آباد په حیات باغ کي خاورو ته وسپارل سو ، " نواب محمدخان والي مړ سو" د ده د مرګ تاریخي ماده ده[۵۹].**

**د عهد بنګښ د مقدمې په ۱۲ مخ کي کښلي دي د ډهلي مغل پاچا محمدشاه چي د محمدخان په مرګ خبر سو ډېر خواشینی سو او پخپله یې د ده د مرګ تاریخ له دغي جملې څخه راوایستی:-**

ستون باب هند من افتاد
۱۱۵٦

---

[۵۹] . دا چي عزیزالدین خان پوپلزي د تیمورشاه دراني د کتاب د دوهم ټوک په ۴۴۸ مخ کي کښلي دي: " از والیان آنجا (فرخ آباد ) که در آوان سلطنت احمدشاه و تیمورشاه حکومت کرده اند محمدخان بنګښ و احمدخان پسر آن است". د تامُل وړ خبره ده ځکه چي نواب محمدخان بنګښ د لوی احمدشاه بابا تر پاچا کېدلو ( ۱۱٦۰ هـ ق) څلور پنځه کاله پخوا مړ دی.

په شوکت افغان کې کښلي دي چې د مرګ په وخت کې د نواب محمدخان عمر اتیا کالو ته نژدې و، د شوکت افغان د مؤلف له دې اټکل څخه کېدای سي دده د زوکړې کال د (۱۰۷۸ ه ق = ۱٦٦۵ ع) کال په شاوخوا کې وټاکو.

د عهد بنګښ د ۵۱ مخ په حاشیه کې هم دغه مطلب تائید سوی دی مګر د اتیا کالو عمر یې پر عیسوي سنه برابر کړی دی او ۱٦٦۳ یې د زوکړې تاریخ ټاکلی دی څکه چې په هغه وخت کې شمسي او عیسوي سنې په دغو سیمو کې رواج نه درلود نو زما په خیال د ۱٦٦۳ ع پر ځای ۱٦٦۵ صحیح ښکاري.

## اولاده :-

د اخبارالصنادید د لومړي ټوک په ۱۲۵ مخ کې کښلي دي:-

"د نواب محمدخان اته زامن پاته سول".

د فرخ آباد تاریخ د نجم الغني رامپوري دغه خبره ماتوي، ویلیام ارون د دغه تاریخ په ۱۵٦ مخ کې کښلي دي:-

" د نواب محمدخان دوه ویشت زامن پاته سول".

د ځینو نومونه یې دا دي :-

۱. نواب قایم خان قایم الدوله قایم جنګ
۲. نواب احمدخان غالب جنګ
۳. احمدزمان خان طالب جنګ
۴. دائم خان "دائم"
۵. حسین خان
٦. خدابنده خان
۷. فخرالدین خان

۸. اسماعیل خان

۹. امام خان[٦٠]

۱۰. دلیل خان[٦١]

۱۱. اعظم خان

۱۲. کریمداد خان

۱۳. مرید خان

۱۴. اله دیا خان (؟)

۱۵. عبدالنبي خان

۱٦. هادي داد خان

۱۷. مرتضی خان

۱۸. بهادرخان

۱۹. د محمدخان یوه لور دولت خاتون ده چې د روح تاریخ مؤلف منورعلي خان بخشي د دې کړوسی و.

## بي بي صاحبه :-

بي بي صاحبه د نواب محمدخان بنګښ ماینه وه ، د دې پلار قاسم خان د مئو په رشید آباد کي مېشت و ، ده دوه درې سوه پلي او سپاره درلوده او د راجاګانو په درباروکي به یې نظامي نوکري کوله.

د فرخ سیر (۱۱۲۴ - ۱۱۳۱ هـ ق) د پاچهۍ په لومړیو کلو کي قاسم

---

[٦٠] . د عهد بنګښ په ۴۳۵ مخ کي کښلي دي چي امام خان د قائم خان تر مرګ وروسته د فرخ آباد نواب سو ، خو ژر صفدر جنګ ونیو او په زندان کي یې وواژه.

[٦١] . د دلیل خان د آس د ځل په ستاینه کي د اردو ژبي یوه شاعر ویلي دي

جهول تاش بادلې برای رنګ رنـــګ هی
هری پیری شویتو بینجنی کرنګ هی

خان له خپلي نوکرۍ څخه رشيدآباد ته راستنېدی، اميتهي ته نژدې د دغي سيمي راجپوتو هندوانو لار ورته ونيوله ، قاسم له خپلو ملګرو سره بريد پر وکړ، په دغه جنګ کي قاسم خان شهيد سو. د قاسم خان د شهادت پر ځای باندي محمدخان يو باغ جوړ کړ او قاسم باغ يې ونومه.

محمدخان د خپل خسر د کسات کښلو له پاره ډهلي ته ولاړ او له پاچا څخه يې د اميتهې د راجپوتو د ځپلو اجازه واخيستله، په دغه وخت کي مغل پاچا فرخسير يو بيرغ ، يوه نغاره او نور خلاتونه ورکړل او د ګواليار حکومت يې هم ورکړ.

د دغي بي بي صاحبې اکا پيرخان بنګښ و چي په ۱۱۲۵ هـ ق کال د محمدخان له خوا د کالپی حاکم مقرر سو.

د محمدشاه (۱۱۳۱ - ۱۱۶۱ ه ق) د پاچهۍ په لومړي کال دغه پير خان او يو زوی يې چي امير خان نومېد د کالپي د سرکښانو له خوا ووژل سول ، محمدخان د سرکښانو تر ځپلو وروسته د کالپي حکومت هم هغه دليرخان ته وسپاره چي په ۱۱۲۵ هـ ق کال د محمدخان له خوا د کونج او سيوندهـ حاکم کړل سوی و.

د بي بي صاحبې نوم د عهد بنګښ په ۱۰۸ مخ کي مالحه بانو کښلی دی، ارون يې نوم مالحه بانو يا وسيعه با نو بللی دی (تاريخ فرخ آباد ۱۵۲ مخ) او حسام الدين ګواليارې هم ماليه بانو کښلی دی (تاريخ محمدخان ۷ مخ)، بي بي صاحبه يې لقب و.

د محمدخان مشر زوی قايم خان د دې زوی و، د دې يو بل زوی و چي دائم خان نومېد او مړاني لا نه و وهلی چي ومړ. يوه لور يې وه چي روشن جهان نومېدله چي د روشن خان ستورئ زي بنګښ څخه وه، د روشن خان اولاد نه سو پاته. بي بي صاحبه د ۱۱۸۲ هـ ق کال د ميانۍ د مياشتي پر ۲۸ مړه سوه.

## د قايم خان د مور بي بي صاحبي شجره *

...

پيرخان بنگښ
(د نواب محمدخان بنگښ
لخوا د کالپي حاکم و)

امير خان
(دی او پلاريې دواړه په ۱۱۳۱ هـ ق کال
په جنګ کې د ياغيانو له لاسه ووژل سول)

قاسم خان بنگښ
(د اميټهي له هندوانو سره په جنګ کې
وواژه سو، تر ۱۱٦۲ هـ ق لږ دمخه)

بي بي صاحبه
(د نواب محمد خان بنگښ مېرمن)

نواب قايم خان

**رابيا:-**

د واقعات دارالحکومت دهلي د دوهم ټوک په ۱٦۸ مخ کې کښلي دي:-

د نواب محمدخان بنگښ ګرانه ماينه رابيا (رابعه) نومېدله، د دې غيرتمنې ښځې خير و خيرات ورکول ډېر خوښ و، د خيريه ځايو له

---

* وګ: عهد بنگښ، ٦۲، ٦۳، ٦٥ مخونه.

جوړولو سره يې خاصه مينه درلوده، د نيکنام خان د زوی فيض الله خان بنګښ په سرپرستي يې ډېر مسجدونه ، پلونـه، کـاروان سـرايونه، رباطونـه جوړ کړل، چي له هغو څخه تر اوسه پوري لا چي ۱۳۳۸ ه ق (۱۹۱۹ ع) کال دی ځيني ځيني پاته دي او پسله دوو سوو کالو څخه د دې نـوم پـر يادېږي(٦٢).

د هندوستان په پايتخت (ډهلي) کي د بنګښ کمرې پـه نامـه يـوه عالي شانه ودانۍ سته چي هغه هم دغه فيض اله خان بنګښ ودانه کـړې ده، بنګښ کمره د زاړه ډهلي په هغـه بـازار کـي واقـع ده چـي د جـامع مسجد له جنوبي دروازې څخه د متيامحل ، چتلي قبر او تيراهابيرم خان له لاري ډهلي دروازې ته وزي.

د بنګښ کمرې په باب د اثارالصناديد په ضميمه کي کښلي دي:-

د جامع مسجد جنوبي بازار له چتلي قبـر څخـه چـي تېـر سـي دوه ښاخه کېږي ، يـو ښـاخ يـې شـمالي دروازې تـه ځـي او بـل يـې ډهلـي دروازې ته، دغه وروستی بازار د اميرخان بازار بلل کېږي.

د اميرخان په بازارکي راسته لاس ته د فيض اله خان بـنګښ کمـره واقع ده چي فيض ا له خان په زرهاوو روپۍ په خرڅي کړي وې.

دکمره بنګښ ښۍ خوا ته د پولاد خان کوڅـه ده چـي د ډهلـي د مشهور کوتوال حبش خان لمسی کېدئ(٦٣).

په زاړه ډهلي کـي پخـوا د فتحپـورې مـسجد لوېـديځ څـنګ تـه د

---

(٦٢) . په نوي ډهلي کي د خواجه نظام الدين اوليا زيارت تـه نژدې د بـاره کهمبې څنګ ته فيض الله خان بنګښ د ځان له پاره هديره جوړه کړې وه، خو بشپـړه سـوي لا نـه وه چي دی مړ سو، دغه هديره د هغـه سـړک پـر غـاړه واقـع ده چي د همـايو ن او صفدر جنګ هديرې سره نښلوي، (واقعات دهلي ٧٤٧/٢) .

(٦٣) . د ډهلي پاټک حبش خان د دغه کوتوال په نامه مشهور دی.

سرای بنګښ (حویلي بنګښ) په نامه یوه بله ودانی هم وه چې لویه دروازه یې د کهاري بهاولي بازار ته را خلاصېدله او په دوولسمه هجري سدۍ کې د بنګښو پښتنو د شپې تېرې ځای و(٦٤).

پل بنګښ : په ډهلي کې سبزي منډیي ته نژدې واقع دی.

## دائم خان بنګښ

د ګلزار ابراهیم په ٥٦ مخ کې کښلي دي :-

دائم خان بنګښ د نواب قایم خان کشر ورور و، په لکهنو کې اوسېدئ، د اوده د نواب اصف الدوله (١١٨٨ _ ١٢١٢ هـ ق) په وختو کې د فیل خانې افسر و. دائم خان کله کله په اردوژبه کې شاعري هم کوله، دائم یې تخلص و، ښه طبعه یې درلوده.

---

(٦٤) . په ١٣٣٨ هـ ق کال (١٩١٩ ع) چې بشیرالدین د واقعات دهلي کتاب لیکه، د بنګښو سرای د لاله نراین داس په لاس کې و او هغه د غنمو ګنج ځنې جوړ کړی و (واقعات دهلي ٢/٢٦٦).

# نواب قائم خان

د غضنفر جنگ نواب محمد خان تر مرګ وروسته په ۱۱۵٦ هـ ق کال د ډهلي د پاچا محمدشاه مغل له خوا څخه د ده مشر زوی قائم خان ته د پلار منصب، د فرخ آباد نوابي او د قائم جنګ خطاب ورکړه سول.

د حيات حافظ رحمت خان نومي کتاب په څلوېښتم مخ کي کښلي دي :-

نواب قائم خان بنګښ د درست شمالي هندوستان په نوابانو او راجاګانو کي د دولت او برم له مخي ممتاز و.

## د قائم الدوله خطاب :-

د قائم جنګ نواب قائم خان د نوابۍ دوه کاله لا نه و پوره سوي چي د ډهلي پاچا محمد شاه مغل د ۱۱۵۸ هـ ق کال د محرمي د مياشتي په درويشتمه ورځ د صفدر جنګ په لمسون د نواب علي محمد خان روهيله (پښتانه)[1] د ځپلو په نيامت له ډهلي څخه خپلي لښکري د روهيلکهنډ خوا

---

[1] . علي محمدخان د داود خان برېڅي زوی نيو (متبنی = فرزندي) و . په ۱۱۳۵ يا ۱۱۳۹ هـ ق کال چي نوموړي داودخان د کمايون د راجا ديبي چند له خوا په تېګي وواژه سو. پښتنو سردارانو ګورلس کلن علي محمدخان خپل مشر ومانه. نواب علي محمدخان د ۱۱٦۲ هـ ق کال د کوچني اختر په درېيمه ورځ د روهيلکهنډ په مرکز انوله کي مړ او هلته ښخ کړه سو.

ته وخوځولې[۲].

قائم جنګ نواب قائم خان د پښتنوالي په حکم د روغي زيار ويوست او خپل وکيل يې چي کشن چند نومېد د نواب علي محمد خان روهيله د لښکر له يوه لوی منصبدار سره د پاچاهي عفوي د غوښتني له پاره د ډهلي د وزير قمرالدين خان دربار ته وليږه.

د ۱۱۵۸ هـ ق کال د لومړی خور (ربيع الاول) په نهمه ورځ د ډهلي پاچا محمدشاه مغل د ګنګا پر ختيځه غاړه اړولي و، چي نوموړی کشن چند او د نواب علي محمدخان نماينده د وزير المما‌لک قمرالدين خان په واسطه د پاچا حضورته ورغلل او د روغي او عفوي هيله يې وکړله، خو پاچا دغه غوښتنه و نه منله او قائم جنګ نواب قائم خان ته يې فرمان ورولېږه، هر څونه ژر چي کېدای سي بايد د نواب علي محمدخان سره د جنګ له پاره د پاچاهي لښکرو مل سي.

نواب قائم خان قائم جنګ ته چي دغه پاچاهي فرمان ورسېد، مجبور سو چي له خپلو لښکرو سره د پاچاهي پوځ مرستي ته وخوځي.

انندرام مخلص (۱۱۱۱ _ ۱۱۶۴ ه ق) چي په دغه لښکرکښي کي د پاچاهي لښکرو مل و، د دغه سفر په سفرنامه کي يې کښلي دي :-

د دوهمي خور (ربيع الثاني) په لومړی ورځ مغل پاچا محمدشاه له

---

[۲] . د هندوستان د مشهور رود ګنګا ختيځ لور ته يوه سيمه وه چي پخوا يې "کټه هېر" بلله _ د دولسم هجري قرن له شروعه څخه کټه هېر ته د پښتنو کډي شروع سوې، هلته داودخان بړېځ د کټه هېر پښتانه سره تنظيم کړل د يوې نوابۍ تادای يې کښېښود چي دغه نوابي او ددوی تر تسلط لاندي سيمه روهيلکهنډ بلله کېدله. د روهيلکهنډ لغوي معنی د روهيليو (پښتنو) مځکه ده - د روهيل کهنډ شمال ته د هماليې د غرو سلسله پرته ده ، غرب ته يې د ګنګا رود او شرق و جنوب ته يې د اودهـ نوابي واقع وه.

سنبهل څخه دوه کروه ليري د سوت نومي سيند پر غاړه اړولي و،[۳] خبريالانو خبر کړ چي قائم جنگ نواب قائم خان له خپل پوځه سره د پاچاهي لښکرو چونۍ ته را رسېدونکی دی، محمدشاه خپل وزير قمرالدين خان وگماره چي د نواب قائم خان مخي ته ووزي.

له پاچاهي امره سره سم په دغه ورځ وزيرالممالک قمرالدين خان له خپلو دوو زامنو (معين الملک او انتظام الدوله) دوو خوريانو (يحيي خان او حيات الله خان) خانجهان ، سربلندخان او ځو نورو مغلي سردارانو سره د نواب قائم خان مخي ته ورووت.

انند رام ليکلي دي:-

په دغه استقبال کي د سپارلۍ د پيلانو شمېر ځلويښتو ته رسېدی او يوه رساله هم ورسره وه چي د سپاهيانو شمېر يې تر دوو زرو زيات وو.

وزيرالممالک چي د نواب قائم خان خېمې ته ورنژدې سو، نواب قائم خان يې د خېمې تر خولې پوري مخي ته راغی، وزير د غېږي روغبړ ورسره وکړ او په خېمه کي چي سره کښېنستل د نواب قائم خان ورونه (چي پنځلس شپاړس تنه وو) او د پوځ منصبداران لکه: شجاعت خان غلجی او نور د وزير حضور ته راغلل او وزير ونازول.

په دې مجلس کي نواب قائم خان د وزير الممالک حضور ته د جواهراتو ډکه يوه خونچه، د نفيسو ټوکرانو له اوو خونچو، اوو اسانو او دوو پيلانو سره د سوغات په نامه وړاندي کړل، مگر وزيرالممالک فقط يوه

---

(۳) . سنبهل: په کټه هېر (روهيل کهنډ) کي د يوه پخواني ښار نوم دی. په دغه ښار کي د پښتنو مشهور پاچا سلطان سکندر لودي (۸۹۴ _ ۹۲۳ هـ ق) له ۹۰۵ څخه تر ۹۰۹ هـ ق کال پوري مېشت و او د شمالي هندوستان د پايتخت حيثيت يې درلود، د سنبهل د ښار شمال ته امروهه او مرادآباد واقع دي. ختيځ ته يې بريلي او پهيلي بيت او غرب ته يې د گنگا رود او جنوب ته يې د بدايون سيمه واقع ده.

خونچه نفیس ټوکران ځني واخیستل. په دغه روځ مازدیگر نواب قائم خان قائم جنگ د مغل پاچا محمدشاه حضور ته ورغی او یو زر اشرفۍ (طلاوي) يي د نذر په نامه وړاندي کړلې او پاچا د شپږو ټوکرانو خلات، یوه توره او یو پیل وروبخښل او په دغه لښکرکښي کي يې د عمدة الملک امیر خان (۱۱۵۹ هـ ق مړ) د پوځ سرلاړ (هراول) مقرر کړ[۴].

نوموړي انندرام دا هم زیاته کړیده :-

په هغه ورځ چي نواب قائم خان د پاچا حضور ته ورتئ، دده مخي ته په دربار کي خاص انتظام سوی و، د گلالبار[۵] له لومړۍ دروازې څخه د دیوان خاص تر جالۍ پوري د لاري دواړو خواوته د توپخانې مینگباشیان (غندمشران) ولاړ وو، جوغې يې په سرو کي ټومبلي وې او رنگه بیرغونه يې د جزائرو پر خولو ریږدل[۶] نواب قائم خان که څه هم په ښکاره د نواب علي محمدخان روهیله په مقابل کي د پاچاهي لښکرو مل سو، مگر زړه يې نه غوښتی چي د روهیل کهنډ سیمه دي د پاچاهي رسالو تر سوو لاندي څو رنگه سي، ځکه يې نو د عفوي او روغي له پاره ډېر زیار ویوست.

انند رام مخلص کښلي دي :-

د ۱۱۵۸ هـ ق کال د دوهمي خور (ربیع الثاني) په پنځمه ورځ (چي پاچاهي لښکرو ته د نواب قائم خان د وررسېدلو پنځمه ورځ سي) عمدة

---

(۴) وگ : د انندرام سفرنامه، ۵۲ مخ.

(۵) . گلالبار:-هغه سور تناو دی چي د پاچهانو د خېمې او دربار پر شاوخوايې په سفر کي راگرزوي او د کروغ سیمي حدونه په ټاکي.

(۶) . جزائر یا جزائل:- یو راز توپک و چي اوږده به يې اوو یا اتو لوېشتو ته رسېدل، دغه جزائر سپاهیانو اخیستل، درانه جزائر هم وو چي پر اوښانو یا پیلانو به بارېدل. حمید ماشوخېل په نیرنگ عشق کي د میني په باب ویلي دي:-

که هر څو يې پټوې لا څرگندیږي
جزائل چي واخلي اور کله پټیږي؟

الملک امیر خان او نواب قائم خان قائم جنګ د روغې په باب د سلا او خبرو له پاره د وزیرالممالک قمرالدین خان خیمې ته ورغلل او پسله ډېره بحثه يې پر دې سلا سوه چي د نواب علي محمد خان نماينده ګان به راغواړي او مخامخ به خبري ورسره کوي، ځکه نو د وزیرالممالک د پوځ یو جمادار چي عاقل خان نومېد د نواب قائم خان د پوځ له يوه باوري جمادار سره نواب علي محمدخان ته ولېږل سوه.

دریيمه ورځ (د دوهمي خورپر اتمه) د نواب علي محمد خان نمايندګان (پاینده خان بړېځ، فتح خان خانسامان او شاه معصوم) نواب قائم خان ته راغلل[۷].

سبا عمدة الملک امیر خان، نواب قائم خان او د نواب علي محمد خان نمايندګان د وزیرالممالک خیمې ته ورغلل او د روغې او عفوي خبري شروع سوې، د وزیرالممالک شرطونه ډېر درانه وو، ځکه نو د نواب علي محمد خان نمايندګانو هغه رد کړل او د روغې مجلس مات سو.

سبا ته پاچاهي پوځونه د بن ګړهـ لور ته (چي د نواب علي محمد خان او د روهيلکهنډ د پښتنو سپاهيانو مامن و) وخوځېدل[۸]، او د دوهمي خورپه دوه ويشتمه ورځ يې له بن ګړهـ څخه څلور کروه ليري واړول.

د دريیمي خور په لومړۍ ورځ د نواب قايم خان په زيار او د وزیرالممالک په خوښه روغه وسوه او نواب علي محمد خان د پاچا حضور ته وروستل سو.

د حديقة الاقاليم په ۱۴۱ مخ کي کښلي دي :-

نواب علي محمد خان چي د پاچا حضور ته ورپېښېدئ، د نواب قائم

---

[۷] . شاه معصوم د پښتنو د پیرزاده سیداحمد زوی و.

[۸] . بن ګړهـ :- له بدايون څخه څلور پنځه فرسخه ليري دي، (قاموس المشاهير ۹۸/۲).

خان ورور ورسره و.

تر روغي وروسته چي محمدشاه مغل د دريېمي خور په پنځمه ورځ له بن ګړهـ څخه مخ پر ډهلي وخوځېد، عمدة الملک او نواب قائم خان يې وګمارل چي له خپلو پوځو سره د چنداول وظيفه اجرا کړي او د شا له حملو څخه پاچاهي لښکر وساتي.

په دغه وخت کي د محمدشاه له خوا نواب قائم خان قائم جنګ ته د قائم الدوله خطاب ورکړ سو[٩].

## د قائم خان او صفدر جنګ پخلا کول :-

انندرام مخلص د خپلي سفرنامې په ۵۹ مخ کي کښلي دي:-

"له څه مودې راهيسي نواب قائم خان او صفدرجنګ ميرآتش سره خوابدي وو، د ۱۱۵۸ هـ ق کال د دوهمي خور په اولسمه ورځ چي محمدشاه مغل د سنبهل په شاوخوا کي اړولي و، وزيرالممالک قمرالدين خان دوی دواړه د پاچا د ديوان خاص په خيمه کي سره پخلا کړل او يو له بله يې د غيږي روغبړ وکړی.

## د روهيل کهنډ له پښتنو سره جنګ او د قائم خان وژل کېدل :-

نوموړی نواب علي محمد خان روهيله چي قائم الدوله نواب قائم خان يې د عفوي له پاره ډېر زيار ايستلی و، د ۱۱٦۲ هـ ق کال د کوچني اختر په دريېمه ورځ د روهيل کهنډ په مرکز (انوله) کي مړ سو.

د ډهلي د دربار نوي وزير ناسياله صفدرجنګ[١٠] چي د پښتنو تباهي

---

[٩] . وګ : د انندرام سفرنامه، ۸۲ مخ.

[١٠] . وزير الممالک قمرالدين خان چي د ۱۱٦۱ هـ ق کال د لومړي خور په دوه ويشتمه د منوپور په ميدان کي د لوی احمدشاه بابا د لښکرو په مقابله کي ←

او د دوی تر منځ د دښمنۍ پیدا کولو ته غړی غړی روغ و ، د نواب علي محمد خان له مرګه څخه یې د خپل دغه بد مرغه مقصد له پاره ډېره ګټه واخیستله او د روهیل کهنډ او فرخ آباد د پښتنو تر منځ یې د نفاق او وروروژلي له پاره په عجب تلبیس لاس پوري کړ.

د ډهلي د نوي پاچا احمدشاه مغل (۱۱۶۱ _ ۱۱۶۷ هـ ق) څخه یې د روهیل کهنډ د حکومت فرمان د فرخ آباد د نواب قائم الدوله قائم خان په نامه واخیست[11] او د نواب شیر جنګ[12] په لاس یې په ډېره درناوي نواب قائم خان ته ولېږه.

ددغې واقعې معاصر لیکوال آزاد بلګرامي (۱۲۰۰ هـ ق مړ) په خزانهٔ عامره کې (چې په ۱۱۷۶ هـ ق کال یې لیکلې ده) د دغه دروهلي فرمان په باب کښلي دي :-

"په دې فرمان سره صفدرجنګ وزیر وغوښتل چې پښتانه په پښتنو ووژني او دا هیله یې هم ښه تر سره سوه ، دده غرض دا و، هره خوا چې شکست وخوري یو دښمن یې کمیږي او دده پکښې ګټه ده[13]".

غلام حسین طباطبایي په سیرالمتاخرین کې (چې د ۱۱۹۵ هـ ق کال تالیف دی) د "ذکر جنګانیدن صفدرجنګ وزیر قائم خان قائم جنګ

---

← وواژه سو. پر ځای یې د وروستی خور (جمادي الاخری) پر څلرمه د ډهلي د پوځ د توپخانې مشر منصورخان صفدر جنګ (چې د اودهـ والي هم و) د ډهلي د دربار وزیر سو او د پښتنو په نباهي کې یې له هیڅ راز کوښښه څخه ځان ونه ژغوره.

[11] . د ۱۱۶۱ هـ ق کال د دوهمي خور په اویشتمه ورځ د ډهلي پاچا محمدشاه مغل مړ سو او پر ځای یې زوی (احمدشاه) د دریېمي خور په لومړۍ ورځ د ډهلي پر تخت کښیناست . د ۱۱۶۷ هـ ق کال د برات د میاشتې تر یوولسمي پوري یې پاچهي وکړه.

[12] . نواب شیر جنګ د سیادت خان زوی و او د صفدرجنګ د خسر برهان الملک وراره کېدئ.

[13] . وګ : خزانهٔ عامره، ۷۹ مخ.

بنگښ را با اولاد علي محمد خان روهيله به حيله و تزوير" تر عنوان لاندي کښلي دي :-

"صفدرجنگ د خپلي صوبې (اوده) په اړخ کي د پښتنو لـه اقتدار او اجتماعه څخه اندېښمن و ، د دوی د ځپلو له پاره هر وخت په څو (کمين) کي ناست و، په ۱۱۵۸ هـ ق کال کي يې د ډهلي پاچامحمدشاه د دوی د تباه کولو له پاره تر بن گړهـ پوري بوت، خو د وزيرالممالک قمرالدين خان دا خوښه نه وه چي پښتانه تباه سي، ځکه نو په هغه لښکر کښي کي د صفدرجنگ د زړه تاو سوړ نه سو.

په دې وخت کي چي پر پښتنو باندي د پېرزويني خاوند وزير قمرالدين خان له دنيا تللئ و، او نواب علي محمد خان هم په ده پسي ولاړ، دده له پاره د پښتنو د تباه کولو ښه موقع په لاس ورغله، قائم خان يې د روهيل کهنډ نيولو ته ځکه وپاراوه چي د هري خوا په شکست کي دده برى و".

د ځواني په نشه مست او د نوابۍ په قوت مغروره نواب قائم خان قائم جنگ ته چي د روهيلکهنډ د حکومت پاچاهي فرمان د بدمرغه وزير د ايلچي په واسطه ورسېد، د نوي حکومت شوق او د نوابۍ د ساحې پراخۍ يې د پښتنوالي پېرزوينه له زړه وايستله او د فرخ آباد د نوابۍ بخشي او مدارالمهام محمود خان اپريدي نور هم ښه پسي ولمساوه[۱۴].

---

[۱۴] . ددغه بخشي محمودخان اپريدي په باب د ده يوه معاصر پښتانه شاعر اخوندگدا د نافع المسلمين په ۲۹۹ مخ کي ويلي دي:

محمود ډېر کبر کاوه په خوی کي بد و
د اجل غشي يې ځکه په دهان ولاړ
فرعوني يې تر فرعونه وه لا زياته
نه پوهيږم با ايمان که بې ايمان ولاړ

←

حرص او لمسون سره مله سول ، په گډه يې د نواب قائم خان په زړه کې د هغه چا د زوی پر مخ د توري راکښلو هڅه پيدا کړه ، چې څلور کاله دمخه يې ده د عفوي له پاره هر ډول زيار ايستلی و.

لنډ پاری نواب قائم خان قائم جنگ د نوموړي نواب علي محمد خان روهيله اته کلن زوی نواب سعدالله خان[15] او د هغه نائب حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅي[16] ته وکښل :-

"پاچاهي سيمي ژر خوشي کړئ، خپل بيرغونه مي درولېږل ، تر څو چې زه له خپله پوځه سره در رسېږم ، دغه بيرغونه بايد د روهيل کهنډ په ټولو ښارو کي نجت وي ، که نه نو د جنگ تياری ونيسئ".

اته کلن نواب سعدالله خان او دده نائب حافظ رحمت خان بړېڅي ته چي دغه زيږ او تريخ پيغام ورسېد، هېښ پاته سول ، د روهيل کهنډ ټول

---

← د دغه محمود خان په اولاده کي مولوي عبدالحافظ (تر نومبر ۱۹۴۰ ع پوري ژوندی و، په دغه کال دی د ۷۸ کالو و) ، دده شرح حال د کراچي په (العلم) مجله کي خپور سوی دی (وگورئ د ۱۹۶۴ د اپريل څخه تر جون گڼه) ، ددغه عبدالحافظ خان دوه زامن پاته وه چي يو ابراهيم خان او بل الياس خان مجيبي ـ الياس خان مړ دی ، ددوی انا د ذاکر حسين د کورنۍ وه.

(۱۵) . نواب سعدالله خان د نواب علي محمد خان درېيم زوی و، تر ده مشران وروڼه يې (عبدالله خان او فيض الله خان) د کندهار په دربار کي له لوی احمدشاه بابا سره وو، د پلار تر مرگ وروسته دی د پلار پر ځای کښېناست، په ۱۱۷۶ هـ ق کال مړ سو، يوه لور يې پاته سوه چي هغه د نجيب الدوله عمرخېل مېرور وه.

(۱٦) . حافظ رحمت خان، بدل زی بړېڅی دی، پلار يې ښالم خان، نيکه يې موتی خان نومېد، د موتی خان پلار شيخ شهاب الدين و چي کوته خېل بړېڅي دده له پرگي دي، دغه په بزرگي مشهور شيخ د کندهار له ښوراوکه څخه د يوسفزو سيمي ته لېږد بدلی دی. حافظ رحمت خان د روهيل کهنډ له مشهورو اميرانو څخه و، د نواب علي محمد خان تر مرگ وروسته د روهيل کهنډ د نوابی نائب سو، په ۱۱۸۸ هـ ق کال يې د ميران پور په جنگ کي د انگرېزانو له لاسه د شهادت جام وڅيښه.

پښتانه سرداران یې لکه: دوندی خان بړیڅی، سردارخان کمال زی، فتح خان خانسامان او نور راوغوښتل، جرګه یې جوړه کړه او په سلا یې داسې جواب ورولېږه :-

"سیال پښتون قائم خانه !

دا کار سوونی نه دی، ته باید خپل موټ پخپله پرې نکړې، تر پښتنواله تېر نه سې او د پښتنو د دښمنانو ارمانونه ونه کاږې".

نواب قائم خان قائم جنګ ته چې د روهیل کهنډ د پښتنو دغه جواب ورسېد، دستي یې د روهیلکهنډ پر لور لښکري وخوځولې.

زین سنګهـ لکهنوي په سلطان التواریخ او غلام علي نقوي په عمادالسعادت کي کښلي دي :-

"په دغه جنګ کي د نواب قائم خان سره اتیا زره سپاره وو[17]".

په حیات حافظ رحمت خان کي کښلي دي :-

"قائم خان قائم جنګ چې پر روهیل کهنډ بریدکاوه، د ده په لښکر کي پنځوس زره سپاره ، ډېر پلي، څلورسوه درانه جزائل (توپونه) او زیات شمېر پیلان وه".

د قاموس المشاهیر د دوهم ټوک په ۱۳۸ مخ کي راغلي دي :-

"له قائم خان سره د روهیل کهنډ په برید کي شپېته زره سپاره، څلور سوه پیلان او ډېر پلي سپاهیان ملګري وو".

د قائم خان قائم جنګ په حکم د ګنګا پر رود له کښتیو څخه پل جوړ کړه سو او دی له خپلو درنو لښکرو سره د روهیل کهنډ خوا ته ورپوري ووت، له بدایون څخه درې میله لیري یې په " نروتم پور" نومي ځای کي (چې د رام ګنګا سیند پر غاړه واقع و) واړول.

د روهیل کهنډ د نوابی نائب حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیڅي

---

[17] . وګ : سلطان التواریخ، ۱۱۵ مخ او عمادالسعادت، ۴۴ مخ.

بيا هم د روغي او جوړي له پاره زيار پرې نه بنوو، د سيد علي غواص ترمذي (۹۰۸ _ ۹۹۱ هـ ق )[۱۸] لمسی سيد احمدشاه[۱۹] يې له نورو ستانه و سره نواب قائم خان ته ولېږه او دوی د حافظ رحمت خان دا پيغام قائم خان ته ورساوه:-

"صفدرجنگ زموږ و ستاسي دواړو مشترک دښمن دی، دی غواړي ورور په ورور ووهي او پښتون په پښتانه له پښو واچوي، په موږ کي چي هره خوا مغلوبه سي د ده گټه ده.

موږ بايد پخپلو کي سره ونه جنگېږو او د دښمن په لمسه تېر نه وزو".

د حديقة الاقاليم مؤلف دا هم زياته کړېده چي د روهيل کهنډ پښتنو د گنگا د غاړو سيمي هم نواب قائم خان ته په روغه جوړه کي ورخوشي کولې، خو بنگښ نواب دا روغه ونه منله او د حيات حافظ رحمت خان د مولف په قول يې د بخشي محمود خان اپريدي په لاس حافظ رحمت خان ته پاچاهي فرمان له دې پيغامه سره ولېږه :- " زه هم په دې نه يم خوښ چي زما له لاسه د پښتنوويني وبهېږي، د دغه پاچاهي فرمان په حکم د روهيل کهنډ د سيمي حکومت زما دی، تاسي فرمان وگورئ او دغه

---

(۱۸) . سيد علي غواص په پښتنو کي په پيربابا مشهور دی، په ۹۰۸ هـ ق کال د افغانستان د کندوز په چاردره کي وزېږېد، دده پير شيخ سالار رومي و، که څه هم پير بابا په څو طريقو کي د ارشاد اذن مونډلی و ، مگر ده د چشتيې طريقې ارشاد کاوه، په يوسفزو.کي مېشت و، د دولت خان مليزي خور يې وغوښتله او تر مرگه پوري (چي په ۹۹۱ هـ ق پېښ سوی دی) د پښتنو په سيمه کي و، په بنير کي ښخ سو ، زيارت يې مشهور دی، د کونړ سيدان ځانونه دده له پرگي بولي.

(۱۹) . په عمادالسعادت او سلطان التواريخ کي کښلي دي: "سيداحمد (د شاه معصوم پلار) د پښتنو پيرزاده و".

د سفرنامهء انندرام د مقدمې په ۸٦ مخ کي کښلي دي:- "دسيدعلي شاه ترمذي زوی سيد حسن شاه د روهيلکهنډ د پښتنو له خوا نواب قائم خان ته ولېږه سو".

پاچاهي سيمه راخوشي کړئ".

د روهيلکهنډ د نوابۍ نائب حافظ رحمت خان چي د روغي تولي لاري تړلي وليدلې، مجبور سو له اته کلن نواب سعدالله خان او د روهيلکهنډ له پوځه سره له انولې څخه چي د روهيلکهنډ مرکز و، وخوځېد او د بدايون شاوخوا ته يې د نواب قائم خان د مخ نيوی له پاره ځان ورساوه.

په سلطان التواريخ کي د حافظ رحمت خان د پوځ شمېر څلوېښت زره پلي او اووه زره سپاره ښوول سوی دی.

په حيات حافظ رحمت خان کي ښلي دي چي له حافظ رحمت خان سره په دغه جنګ کي پنځه ويشت زره سپاهيان و.

حافظ الملک حافظ رحمت خان برېښي د خپلي غاړي د خلاصون له پاره بيا دغه وروستی پيغام نواب قائم خان قائم جنګ ته واستاوه: "موږ دغه سيمه چي پخوا کټه هير بلل کېدله له ياغي راجپوتو او سرکښو زمينداړانو څخه د خپلي توري په زور او د وينو په بيه رانيولې ده، دغه سيمه چي اوس زموږ روهيليو د اوسېدلو په سبب روهيل کهنډ بلل کيږي د ډهلي د پاچا بخښښ او جاګير نه دی چي اوس يې بيرته را څخه اخلي او هر چاته چي يې زړه وي ورکوي يې. اوس روهيل کهنډ زموږ مېنه ده او پښتانه خپله مېنه بل چا ته نه ورپرېږدي، تر څو چي مو په بدنو کي ساه چلېږي دغه په توره ګټلې ملک به هيچا ته ورخوشي نکړو.

نوره نو ستا خپله خوښه ده، زموږ غاړي دي خلاصي وي". تر دې وروستي پيغام وروسته حافظ رحمت خان او اته کلن نواب سعدالله خان مجبوراً له خپل لښکر سره د بدايون له ښاره وکوچېدل او په رسول پوره کي د پښتنو پوځونه يو د بل د تپولو له پاره سره مخامخ سول[20].

---

[20]. رسول پوره له بدايون څخه دوه کروه ليري ده.

د ماثرالامرا د مؤلف شهنوازخان (۱۱۷۱ هـ ق مړ) او د فرخ آباد د تاریخ د مؤلف ویلیام ارون په قول د ۱۱٦۲ هـ ق کال د لوی اختر د میاشتي په دولسمه ورځ (۲۴ نومبر ۱۷۴۹ ع) جنګ ونښت[۲۱].

په دې جنګ کي قائم الدوله قائم جنګ نواب قائم خان د پښتنو د دښمن وزیر ناسیاله صفدرجنګ په لمسون تر خپله هوډه قربان سو او د روهیلکهنډ پښتنو له لاسه مجبوراً د پښتنو د قوت یو لوی برج داسي ونړېد چي بیا یې زماني تر اوسه پوري هغسي ودانه ورځ ونه لیدله.

له ځواني مرګ نواب قائم خان سره په دغه جنګ کي دده څو تنه ورونه لکه :-

عبدالنبي خان، هادي دادخان، بهادرخان او مریدخان او ډېر نور پښتانه سرداران لکه :- بخشي محمودخان اپرېدی، منګل خان موسی نګری، اعظم خان اپرېدی، جلات خان اپرېدی، جلال خان اپرېدی، معظم خان دریاآبادی، خضرخان، کمال خان، ولداني خان، د مئو اوسېدونکی شجاعت خان غلجی او ځیني نور نومیالي لکه: خان بهادر خان خواجه سرا او د فضل امام زوی روشن امام او نور ومړل.

احمدخان د ځواني مرګ نواب قائم خان ورور (چي وروسته به یې د ژوند حال او پیښي د نواب احمد خان په نامه وڅېړل سي) ټپي سو، له ده سره د قائم خان نور درې ورونه لکه: امام خان ، فخرالدین خان او مرتضی خان هم ټپیان سول او د بنګښو لښکر ماتې وکړه.

د حیات حافظ رحمت خان په قول بریالی حافظ الملک حافظ

---

(۲۱) . ددغه جنګ ورځ په مفتاح التواریخ، تاریخ مظفري او سیرالمتاخرین کي د ۱۱٦۲ هـ ق کال د لوی اختر د میاشتي لسمه کښلې ده، او په جام جهان نما کي چي د ۱۱٦۱ هـ ق کال د لوی اختر د میاشتي لسمه لیکلې ده یو کال غلطي لري. دغه راز په عمادالسعادت کي چي د جنګ ځای فرخ آباد ښوول سوی دی، صحیحه خبره نه ده.

رحمت خان بړېڅی د نامراد قائم جنگ نواب قائم خان ککرۍ او تـن سره وگندل، دو شاله یې پر واچوله ، په خاصه پاکړه (پالکۍ) کـې یـې پـه خـورا درناوي سره دده مړی فرخ آباد ته واستاوه(۲۲).

په فرخ آباد کې د ویر کمبله هواره سوله، د ځـواني مـرگ نـواب قـائم خان مړی په حیات باغ کې د پلار څنگ تـه ښـخ کـړه سـو او د فـرخ آبـاد د تباهۍ او بربادۍ دوره شروع سوه.

د نامراده نواب قائم خان د مرگ تاریخ یـوه شـاعر" قـائم بهشت شـد" (۱۱٦۲) موندلی دی او پښتانه شاعر اخوندگدا(۲۳) په نافع المسـلمین کـې د

---

(۲۲) . د حدیقة الاقالیم پـه ۱۴۱ مخ کې کښلي دي:- "د قـائم خـان مړی ورک سو. د دغه کتاب په ۱۷۳ مخ کې دا هم زیاته سوې ده : تر ډېره وخته پوري خلگو گمان کاوه چې قائم خان ژوندی دی، تر دې چې یوه سړي د قائم خانۍ دعوی هم وکړه او څه موده یې په دغه ادعا خپل بازار تود وساته. ( په جام جهان نمـا او تـاریخ عالمشـاهي کې هم دا خبر راوړل سوی دی) .

(۲۳) . اخوند گدا پـه نقشـبندیه طریقـه کې د شیخ سعـادت داودزي (۱۱۴۵ هـ ق مړ) مرید و، شـیخ سـعادت د میـا احمـد داودزي (۱۱۱۸ هـ ق مړ) خلیفـه او هغـه د شـیخ سعدالله وزیرآبـادي (۹۷۷ _ ۱۱۰۳ هـ ق) خلیفـه او هغـه د شـیخ آدم مشـواني بنوری (۱۰۵۵ هـ ق مړ) خلیفه و. پـه ۱۹۰۵ ع (۱۳۲۴ هـ ق) کـال **Blomhardt** د برتش موزیم د کتلاک د پښتو برخي په لومړي مخ کې د نـافع المسـلمین د مؤلف اخوند گدا په باب کښلي دي:-

"دی غالباً د هغه اخوند درویزه پلار دی چې مخزن اسلام یې جوړ کړی دی او په ۱۰۴۸ هـ ق کال مړ دی". د "پښتو کتابونه" په ۸٦ مخ کې راز محمـد ویښ دغـه نظریـه کټ مټ را نقل کړېده خو د "غالباً" شک پکښې نسته.

د ښاغلي ویښ دې تـه نـه دی پـام سوی چې د **Blomhardt** دغـه نظریـه پـه ۱۳۲۰ ش کال فاضل استاد عبدالحی حبیبي د پښتانـه شعرا د لومړي ټوک پـه ۳۵۱ مخ کې ۱۷ کاله پخوا تردید کړې وه. فاضل اسـتاد، د نـافع المسلمین مؤلف د سدوزو د دورې معاصـر گڼلی او د "بلـغ العـلا" د تـاریخي مـادې پـه اسـتناد یې دده ژونـد تـر ۱۱۷۳ هـ ق پوري یقیني بللی دی ـ ډاکتر مکنزي هم د برتش موزیم د نوي ←

دغه ځواني مرګ نواب د مرګ تاريخ "بلغ العلا" (۱۱۶۳ - ۱ = ۱۱۶۲ هـ ق) راوړی دی چې د "بلند مکان" په تعميه سره د تخرجې په ډول د يوه عدد ځني وزي او ۱۱۶۲ پاتيږي.

د نوموړي اخوند ګدا بيت دا دی:-

د تاريخ حساب يې "بلغ العلا" دی
له دنيا په دا تاريخ بلند مکان ولاړ

اخوند ګدا د دغې پېښې تفصيل په يوه قصيده کې چې پنځه شلوېښت بيته لري راوړی دی، د هغې قصيدې ځيني بيتونه چې د دغې واقعې په روښانولو کې مرسته کوي، دا دي:-

د "قايم" دور او زور او هم دوران ولاړ
د فلک په ګردش تار په تاره ځان ولاړ
را وتلئ له خپل کوره په څه شان و ؟
بيا وکور وته يې ګوره په څه شان ولاړ
لکه غر هسې لښکر، هسې پوځونه
تار په تار لکه اوريځ په دا زمان ولاړ
رڼا ورځ پرې تور لوګی لکه ماښام شوه
ګرد غبار يې له زمينه تر اسمان ولاړ

پرې د توپو تنهار شه لور له لوره
ټول لښکر يې تار په تار په هغه ميدان ولاړ

---

← پښتو کتلاک په ۴۰ مخ کې او عبدالحليم اثر د روحاني تړون په ۶۳۹ مخ کې د فاضل استاد عبدالحی حبيبي د ليکني له مخې د اخوند ګدا ژوند تر ۱۱۷۳ هـ ق کاله پوري يقيني ښوولی دی، مګر زه د "بلغ العلا" له تاريخي مادې څخه د (۱۱۷۳) استخراج د ـ مل وړ بولم.

د قـــيامت ورځ به وي کله داسي سخـــته
چي د خلـــکو د سرو وينـــو رود روان ولاړ
د هاتيانو انبالی واړه خـــالي شـــوي
اوښان خـــوشي ګرزېده ترېنه ساروان ولاړ
اســمان مځکه لکه ژرنده هسي جوړ شول
د دانو په ځـــای ميده پکښي افغـان ولاړ
ټول لښـــکر يې هسي سپک لکه بڼه شـو
سپـــکاوی يې له زمينه تر اسمـــان ولاړ
چي په غـــوښويې ماړه درندګان شـــول
د کارګانو د مـــړې ګيډي ارمـــان ولاړ
د فتنې سبب يې څـــه و نه پوهـــېږم ؟
مګر زړه ته يې د کـــبر لوی عنـوان ولاړ
"دېوان" هـــــم ورسره وتښتېدئ ولاړئ
نه يواځي پوځ په تېښت د قـــايم خان ولاړ
نه مغل ، نه شـــيخ زاده ، نه بل فريق و
په دې جنګ کي ولداني غوندي افغان ولاړ
د قايم په مـــرګ تمام عـــالم زهير دی
چي ســـردار د پښتنو له دې جـــهان ولاړ
دا يې واړه و خـــپل مرګ ته نزديکت و
چي په نغوته د"بخشي"غوندي شيطان ولاړ
مـــحمود دېر کـــبر کاوه په خوی کي بد و
د اجـــل غشی يې ځـــکه په دهان ولاړ
فـــرعـــوني يې تر فرعونه وه لا زياته
خـــبر نه يم بې ايمان کـــه با ايمان ولاړ

گـران پرې روی نه د "شاه جي" نه د قرآن و
هـــزيمت ، فضيحت ځکه بې فرمان ولاړ
وايې هيـــچېري پيدا په جـــــهان نه و
هســـــي ورک يې له دنيا نام و نښا ن ولاړ
د قـــايم لښـــکر په مـــثل د جګنو * و
د سهــــــــل په خاته ځکه شتابان ولاړ
په قـيمت کي لـــــــــکه در يګانه و
د دوران له لاسه څرنـــګ په ارمـــان ولاړ
د دنيا په چـــــارو څه له څوک امېد کا؟
دا "فرخ آباد" وګـــــوره څنګه وران ولاړ
د نـــواب * په واقــــــعه کي ډېر زهير وم
په سعدالله مي هغه غم د دل وجان ولاړ **
د ځـــــوانۍ بـهار يې ګوره څو لا اوسي
د مــــــړاني ږغ يې تېر تر هندوستان ولاړ
په هـر ځای کــــــي يې د ننګ خبري کېږي
په هر ملک باندي يې خپورد جنګ داستان ولاړ

نه يـــــواځي قــــايم ولاړ شــــه له دنيا نه
هــغه ځای ورســـــره واړه خـــاندان ولاړ

---

* . جګنو = اور اورکی (کرم شب تاب).
* . نواب = نواب علي محمد خان روهيله چي د ۱۱۶۱ هـ ق کال د کوچني اختر په دربيمه ورځ مړ سوی دی.
** . د سعدالله د نامه صحيح تلفظ درې هجايي دی : (سع، دل، لا) مګر دلته پښتانه شاعر د پښتنو له تلفظ سره سم په دوو هجاوو راوړی دی (ساد ، لا).

په مــــعنی کي لـکه باز تر منګول والوت
او بـــخشي لـکه تور ابر د کوهستان ولاړ
د تـــاریخ حساب یې بلغ الــــــعلا دی
له دنـــــیا په دا تـــاریخ بلند مـکان ولاړ
له ګـــدا نه د احوال پوښتنه مه کـــــــړه
توان توفــیق یې د یارانو په هــجران ولاړ

د بدایون په تاریخ کي چي کنزالتاریخ نومېږي د نامراد قایم خـان پـه باب کښلي دي :-

" قایم خان د جـنګ پـه ټولـو فنونـو کـي مـاهر و ، پخپلـه یـې توپونـه ټویول."

د حدیقة الاقالیم په ۱۷۳ مخ کي کښلي دي :-

" قایم خان د ښکار ډېر شوقي او غښتلی سپور و".

د نواب قایم خان په باب د عهد بنګښ په ۱۰۸ مخ کي کښلي دي:-

قایم خان یو دینداره ، پر سنتو ټینګ پښتون و، ټول لمونځونـه یـي پـه جماعت ادا کول او هره ورځ یې د قرآن یوه یوه رکوع لیکلـه، ښـه اخـلاق یې درلوده او ډېر زړه ور و. ستر یې خورا ټینګ ساته د کور د ښځو کالي یـې په نارینه و نه رغول او ګېڼې یې هم په نامحرمه زرګرو نـه جـوړولې، د ښکـار خورا شوقي و او د ډهلي مغل پاچا محمدشاه پخپله ښکارګـاه کـي ده تـه د ښکار اجازه ورکړې وه.

## د ده د کورنۍ پرده او حجاب (ستر) :-

د نواب قایم خان مانیه "شاه بېګم" چي به د خپلي خوابښي لیـدلو تـه لـه خپـل ځـای (اټیهـي) څخـه فـرخ آبـاد تـه راتللـه، بـازار بـه بنـد سـو. دوکاندارانو دغه وضعه د هاټ بازار یا هرتال په نامه بلله. شاه بېګـم پـه یـوه

داسي ګاډۍ کي سپره وه چي غويو به کشوله، دغه ګاډۍ به له سره تر پايه پوري د نبات په پردو پوښلې وه. شاه بېګمه به په منځ کي ناسته وه، شاوخوا ته به يې مينځياني ناستي وې. پردې به په وريښمينو مزيو تړلي وې، يوه زړه ښځه به په مخ کي ناسته وه او يوه زاړه سړي (ګاډۍ وان) به غوايي هَيول. شاه بېګمه به ټوله لارپټه خوله وه، خواجه سرا به پر آسو سپاره د ګاډۍ شاوخوا ته تلل او نارې به يې وهلې :-

"لار خوشي کړئ !*".

مسټر IRVINE ليکلي دي :- د نواب د کورنۍ ښځو ته ګېنې له مسلمانانو پرته بل چا نه جوړولې، کالي يې نارينه خياطانو نه جوړول او طبيبانو ته دا اجازه نه وه چي د نواب د کورنۍ د ښځو نبض وګوري.

په قاموس المشاهير کي ليکلي دي :-

" نواب قايم خان پر لمانځه او روژه باندي ډېر ټينګ سړی و، په سانګه وهلو (نيزه بازي) کي يې نوم ايستلی و.

قايم خاني چوټه [۲۴] د دغه نواب اختراع ده[۲۵]".

د هندوستان په انتربېد (د ګنګا او جمنا په دوآبه) کي يو ښار تر اوسه پوري ددغه پښتانه نواب قايم خان په نامه آباد دی او " قايم ګنج" نومېږي، دغه ښار د حديقة الاقاليم په قول نواب محمد خان د خپل مشر زوی قايم خان په نامه ودان کړی و، مګر د قاموس المشاهير مؤلف د قايم ګنج ودانونکی پخپله قايم الدوله قايم جنګ نواب قائم خان بولي.

---

* وګ : د تاريخ نوابان بنګښ ژباړه، ۹۵ مخ، د فتح ګړه د مطبع حسيني چاپ.

[۲۴] . د سفرنامه اننداِرام د ۲۸ مخ په حاشيه کي دغه کلمه "جوته" کښلې ده، چي د موچني معنی لري.

[۲۵] . وګ : د قاموس المشاهير، دوهم ټوک، ۱۲۹ مخ.

د هندوستان پښتون جمهور رئيس اروابناد ډاکتر ذاکر حسين خان (۱۳۸۷ _ ۱۳۸۹ ه ق) په دغه ښار کي د ۱۳۱۴ هـ ق کال د روژې په شپږمه ورځ زېږېدلی دی*.

## د قايم خان تر مرګ وروسته :-

په پښتنو کي متل دی :-

"خپل که دي مړ کړي، لمر ته دي نه غورځوي".

روهيلکهنډيو پښتنو که څه هم برى وموند مګر د خپل بري له وياړ او خوشالی سره د فرخ آباد د پښتنو په بخوله (مصيبت) غمجن هم سول، د نامراد نواب قائم خان او نورو وژل سوو پښتنو سردارانو مړي يې په درناوي فرخ آباد ته واستول او بريالی حافظ رحمت خان بړېښي د نامراد نواب قائم خان بوري مور ته وکښل:-

"تاته به څرګنده وي چي موږ جنګ نه غوښت، ملايان او بزرګان مو قايم خان نواب ته ولېږل ، خو ده د محمودخان اپريدي بد مرغه لمسون ونغوږه، زموږ غوښتنه يې ونه منله او زموږ د ملايانو او بزرګانو خبره يې پر مځکه واچوله.

د خدای ﷻ له پېښو څخه تېښته نسته ، جنګ پېښ سو او په هغه کي

---

* . ډاکتر ذاکرحسين خان د نداحسين خان (۱۳۲۳ هـ ق مړ) زوی دی د ۱۳۸۱ هـ ق کال د لوی اختر په مياشت کي (مي ۱۹۶۲ ع) د هندوستان د رئيس جمهور مرستيال سو ، پنځه کاله يې دغه مرستيالي په خورا جديت اجراء کړه _ د ۱۳۸۷ هـ ق کال د محرمي په اوه ويشتمه (٦ مي ۱۹۶۷ ع) د هندوستان رئيس جمهور انتخاب سو ، د رياست جمهوري دوره يې لا پای ته نه وه رسېدلې چي د ۱۳۸۹ هـ ق کال د صفري په شپاړسمه (۳ مي ۱۹۶۹ ع) د زړه د درېدلو په اغېزه د ۷۲ کالو په عمر په ډهلي کي مړ سو.

قایم خان نواب نیمه خوا سو ، مور دده په غم کي درسره شریک یو. اوس ته نوره زمور له خوا ډاډه اوسه ، مور د ګنګا پوري خوا ته نه درپوري وزو، ته باید له نورو قومو سره په جنګو کي زمور طاقت او قوت خپل مرستیال وګنې".

د دې خط تر استولو وروسته حافظ رحمت خان د فرخ آباد د نوابۍ په هغو سیمو کي خپل حاکمان مقرر کړل چي د ګنګا ختیځي خواته په دغه جنګ کي د روهیل کهنډ د پوځو لاس ته ورغلي وې، د دغو سیمو تر انتظام وروسته ډېر ژر حافظ رحمت خان د روهیلیو پښتنو پوځونه د روهیل کهنډ مرکز انولې ته ستانه کړل.

د حیات حافظ رحمت خان په کتاب کي کښلي دي :-

"د دغه جنګ په اغېزه د بدایون ، مهر آباد او پریم نګر سیمي چي پخوا د فرخ آباد د نوابۍ تر اداري لاندي وې ، د روهیلکهنډ په نوابۍ پوري ونښتلې"[٢٦].

خو د ګنګا د رود لوېدیځي خوا ته د فرخ آباد د نوابۍ ټولي سیمي پر خپل حال پاته سولې، د روهیل کهنډ پښتنو هیڅ غرض په ونه کړ او په دې توګه یې د درانه پښتانه غضنفر جنګ نواب محمد خان بنګښ له ویر ژړلي کورنۍ سره خپله پښتني همدردي او غمشریکي ثابته کړله.

د نواب محمد خان په ویر ژړلي کور کي د یوه خورا درانه غم کمبله هواره وه ، ټول فرخ آباد او شا وخوا سیمي یې په غم زنګېدلې، د چا پلار ، دچا ورور، د چا دوست او د چا اشنای په جنګ کي وژل سوي و ، په هر کور کي د بورو، وړارو ساندي او کوکاري وې، په ټپیانو درست فرخ آباد ډک و،

---

[٢٦] . د " میرزا مظهرجانجانان کې خطوط" په ۲۴۷ مخ کې د "اسهت" سیمه هم په مفتوحو سیمو کي راوړل سوې ده او د "مهرآباد" پر ځای "مرادآباد" کښلی دی، چي یوه تصحیفي اشتباه ده.

هري خوا ته د اوښکو بارانونه اورېدل او د آهونو لوخړي جګېدلې.

په دغه وخت کي چي مځکي او اسمان د فرخ آباد پر بده ورځ ژړل، پر بدبخته او بلاوهلي فرخ آباد باندي د ډهلي د دربار د ناسياله وزير صفدر جنګ د حملې ټکه هم پرېوتله او د فرخ آباد ويرژړلي کورنۍ يې په نوي غم اخته کړلې.

په خزانه عامره، حديقة الا قاليم، سيرالمتاخرين او نورو کتابو کي کښلي دي :-

"د ډهلي ناسياله وزير صفدر جنګ ترکمن چي د قايم خان نواب په وژله خبر سو، د ډهلي مغل پاچا احمدشاه (١١٦١ _ ١١٦٧ هـ ق) يې د ځان مل کړ او له پايتخته څخه د فرخ آباد د ضبطولو په نيامت له يوه تکړه پوځه سره د ١١٦٢ هـ ق کال په ورستۍ ورځ (چي د ځوانيمرګ قايم خان د مرګ شلمه يا اتلسمه کېدله) ووتل، پاچا په کول کي (چي اوس يې علي ګړه بولي) ځني پاته سو او ناسياله وزير صفدر جنګ د فرخ آباد لور ته وړاندي ولاړ، په درياګنج کي يې (چي له فرخ آباده څخه شل کروه ليري و) واړول".

په پښتنو کي متل دی:-

"سل دي ومره يو دي مه مره". د نواب محمد خان پر مېنه پنځلس شپاړس زامن ژوندي پاته وو، خو يو د دې ورهني نه وچي د نامراد نواب قائم خان ځای دي ونيسي او خوره وره کورنۍ دي پر راټوله سي. له دې امله نو د نواب قائم خان بوره مور چي په دې نوې ټکه خبره سوله پوړنی يې پر غاړه سم کړ او د يوې توريالۍ پښتنې په توګه د يرغل ګر ترکمن وزير سره د سوال و جواب له پاره پخپله درياګنج ته ولاړه. له ناسياله وزير سره يې د روغي په باب خبري وکړلې او د شپېتو لکو روپو نذرانې د ورکړي په وعده يې فقط د فرخ آباد ښار او هغه دوولس کلي د ترکمن وزير له چور و

چپاوه وژغورل چي په آل تمغا سره د مغل پاچا فرخ سیر (۱۱۲۴ _ ۱۱۳۱ هـ ق) له خوا نواب محمد خان ته وربخښل سوي وو.

د سیر المتاخرین په ۸۷۵ مخ کي کښلي دي :-

"تر دې روغي وروسته د ۱۱۶۳ هـ ق کال د صفري په شروع کي احمدشاه مغل پاچا له کول (علي گړهـ) څخه وخوځېد او د صفري په اتلسمه ډهلي ته ورسېد ، مگر صفدرجنگ د کلنگ (نذرانې) د بودولو او نور بندوبست له پاره څه موده نور هم په فرخ آباد کي پاته سو".

په عمادالسعادت او سلطان التواریخ کي کښلي دي :-

"د ناسیاله وزیر له خوا جگل کشور بهټ[۲۷] وگماره سو چي د نواب قائم خان له موره څخه د نذرانې په نامه منلي شپېته لکه روپۍ بود (حصول) کړي او پخپله یې تر هرڅه دمخه هغه اوه تنه مهم پښتانه منصبداران ووژل چي د اروابناد نواب قائم خان د حکومت ستني وې[۲۸] او بیا یې د نواب محمد خان له زامنو څخه څو تنه چي په لاس ورغلل بندیان اله اباد ته ولېږل ، په دغو بندیانو نوابزاده گانو کي د سلطان التواریخ مؤلف د محمد مریدخان ، حسین خان او فخرالدین خان نومونه راوړي دي.

---

(۲۷) . جگل کشور بهټ د بنگال د صوبه دار مهابت جنگ له باوري نوکرانو څخه و. څوکاله یې د محمدشاه مغل (۱۱۳۱ _ ۱۱۶۱ هـ ق) په دربار کي د مهابت جنگ د وکیل په توگه تېر کړي وو ، وروسته د صفدرجنگ ترکمن نوکر سو.

د جگل کشور د مرگ په باب ویل کېږي چي د نواب احمد خان بنگښ په تونگ (تحریک) د خپل پیلوان له لاسه د خپل پیل په واسطه د مکن پور او فرخ آباد تر منځ وواژه سو . تر مرگ وروسته یې جایدادونه نواب احمد خان ضبط کړل او په دې ډول یې خپل وار ځني واخیست، (د ویلیام اورون د فرخ آباد د تاریخ ۲ ټوک ۹۷ مخ) .

(۲۸) . وگ : سلطان التواریخ، ۱۱۶ مخ

بلگرامي په حديقة الا قاليم کي کښلي دي :-

"صفدرجنگ چي د نواب قائم خان تر وژل کېدلو وروسته فرخ آباد ته ولاړ، د نواب محمد خان ټول ملک يې خپل کړ ، د ده زامن يې اله اباد ته بنديان ولېږل چي هلته بيا څو مياشتي وروسته دده په حکم ووژل سوه، فقط يو احمد خان يې آزاد پرېښوو ځکه چي گوډ و او د صفدرجنگ هيڅ زړه ته نه لوېده چي دغه په ښه معذوره پښتون به زما څخه د خپلي کورنۍ کسات کاږي".

ناسياله وزير صفدرجنگ د پښتنو تر وژلي ، بند او تالا وروسته ډهلي ته ولاړ او د فرخ آباد اداره يې مهاراجه نول راى ته وسپارله.[۲۹] مهاراجه نول راى چي د صفدر جنگ له خوا د اوده په صوبه کي مختار نائب و، د فرخ آباد والي هم سو او په قنوج کي يې (چي له فرخ آباده څخه څلوېښت کروه ليري جنوب ته پروت دى) د خپل حکومت مرکز جوړکړ، په فرخ آباد کي يې له خپلي خوا کوتوال مقرر کړ او خپل سپاهيان يې پکښي واچول.

د سيرالمتاخرين په ۸۷۵ مخ کي کښلي دي :-

د فرخ آباد پر پښتنو باندي د نول راى ظلمونه تر حد واوښتل او لويي فتني ځني وزېږېدلې.

---

(۲۹) . نول راى په قوم کايستهه سکسينه هندو و، پلار و نيکه يې د اټاوې قانون گويان وو، دى د اوده د صوبه دار برهان الملک منشي سو، د برهان الملک تر مرگ وروسته چي يې زوم صفدرجنگ د اوده صوبه دار سو ، ده ته يې مهاراجه لقب ورکړ او د اوده ټول اختيار يې وروسپاره ، د لکهنو په شاو خوا کي نول گنج کلا دده له ودانيو څخه ده.

# غالب جنگ نواب احمد خان بنگښ

احمد خان د نواب محمد خان دوهم زوی او د سیرالمتاخرین د مؤلف په قول د نواب قایم خان میرېزی ورور و[1]، پښه یې گوډه وه[2]، پر اس نه سو سپرېدلای، چي د سپارلۍ ضرورت به پیدا سو هري خوا ته پر پیل سپور تئ او یا به په کمچین (محفه) کي کهارانو پر اوږو ووړ.

په هغه جنگ کي چي نواب قایم خان وواژه سو، دی هم تېپي سوی و، ناسیاله وزیر صفدرجنگ چي د نواب قایم خان ورونه بندیانول دغه گوډ او تېپي احمدخان یې ددې ونه باله چي بیا به د نواب محمدخان مېنه په ده آباده سي، خپور کور به پر راټول سي او د پلار نوم به ژوندی کړي، ځکه یې نو دی زندان ته وانه چاوه او د سلطان التواریخ د مؤلف په قول یې څه تنخواه هم ور مقرره کړله.

احمدخان د خپلي درنې کورنۍ په سپکاوي او ورکاوي ډېر غمجن و، خو د لاسه یې څه نه کېدل، ورونه یې بندیان وو، خزانه، جبه خانه، گدام او جاگیر یې صفدر جنگ لوټلي وو، حکومت د نول رای غوندي ظالم هندو په لاس کي و، هر ځای دده گماشتگان ناست وو او د نتلي احمدخان او نورو پښتنو سردارانو کلکه څارنه یې کوله.

---

[1] . وگ : سیرالمتاخرین، ۸۷۶ مخ.

[2] . وگ : حالات نجیب الدوله، ۳۳ مخ ـ حدیقة الا قالیم، ۱۷۴ مخ ـ د زیب تاریخ ها د روسي ترجمې، ۱۹ مخ (دوهم باب).

# د نواب احمد خان بنگښ شجره



## د احمدخان پور ته کېدل :-

د فرخ آباد په ویړه سیمه کي د پښتنو ژوند د محکومیت ژوند و او د نول رای هندو د سپاهیانو او گماشتگانو له خوا ناوړه ظلمونه پر کېدل.

په دې وخت کي یوه واقعه پېښه سوه چې هغې د احمد خان په پښتني غیرت نه مړ کېدونکی اور ولگاوه او سره د دې ټولو سختیو او مشکلاتو یې گوډ احمد خان د فرخ آباد د آزادولو له پاره داسې پر پښو ودراوه، چې تر څو یې فرخ آباد آزاد نه کړ د هوسایۍ پښه یې ونه غزوله.

ددې واقعې تفصیل په عمادالسعادت او سلطان التواریخ کي داسې کښلی دی : یوه پښتنه ښځه چې د "مئو" اوسېدونکې او د کوم غریب اپریدي ماینه وه ، یوه ورځ یې څو څرخي سپنسي د خرڅلاو له پاره د فرخ آباد بازار ته یووړل او هلته یې د نوموړي نول رای له گماشتگانو څخه پر کوم هندو سپاهي خرخ کړل. پسله څو هفتو چې بیا هغې پښتنې څو څرخي سپنسي د خرڅلاو له پاره بازار ته یووړل، هغه هندو سپاهي پر پېښ سو ، یوه میاشت پخوا رانیولي سپنسي یې بیرته هغې پښتنې ته ورکړل او خپلي پیسې یې ځني وغوښتلې. پښتنې مېرمنې هغه سپنسي نه ځني اخیستل ځکه چې خیار په سودا کي نه و* او ورته ویل یې چې څوک پسله میاشتي څخه بې خیاره سودا نه فسخه کوي او زما سره پیسې هم نسته.

په دې سوال و جواب کي د باداری په نشه بېهوښه هندو سپاهي ته درد ورغی موچنه یې له پښې وکښله او هغه پښتنه یې پر ککری ککری په ووهله _ مظلومې پښتنې دا بې پتي ونه زغملای سوای ، نور څه یې له لاسه نه کېدله ، په ساندو او کوکارو د نواب محمد خان کره ورغله او د خدای ﷻ کارونه دي تر ټولو دمخه پر احمدخان پېښه سوله، احمدخان ته یې وویل :-

---

* . خیار : د سودا د فسخي واک دئ چي د سودا په وخت کي د کومي ټاکلي مودې له پاره د خرڅوونکي له خوا څخه رانیوونکي ته ورکول کیږي.

"پخوانو پښتنو بنه ویلي دي:- له نه زویه مېنه نه ورانیږي له سپي زویه مېنه ورانیږي _ که ستا پر ځای د نواب محمد خان پر مېنه یوه مرنی لور پاته وای، د فرخ آباد سپینو پښتنو به د چوړیو هندوانو له لاسه دغه سپکي نه لیدلای. تا هم پګړی تړلې ده ، ځان ته نارینه وایې"؟

د پښتنې مېرمنې دې طعنې او پېغور د احمدخان د غیرت پر اور باندې د پټرولو اغېزه وکړله، درې ورځې یې له خواشینی اتام په خوله نه کړ او لـه دغې ورځې یې د فرخ آباد د آزادولو هوډه وکړه.

هوډیالي احمدخان د شمس آباد او مئو پښتانه مشران لکه رستم خـان اپرېدی او نور د ځان مله کړل، پټ پټ یې د پښتنـو سپاهیانو پـه راټولولـو لاس پوري کړ، په لږو ورځو کي یې څلور سوه تنه وسله وال پښتانـه داسـې نوکران کړل چي له خپلو کورو به نه راوتل او له هغه ځایه بـه یـې د خپلـو جمادارانو په واسطه له احمدخان سره پټ اړېکی ساته.

یوه روځ احمدخان خبر سو چي له مئو څخه شپاړس کروه یا دېرش میله لیري په یوه کلي کي دمهاراجه نول رای یو ګماشته او خپل (دوست) د صرافی دکان کوي او په دغو ورځو کي لـه لکهنو څخه ډېري روپی او طلاوي ورته رارسېدلي دي.

احمدخان د شپې له خپلو سپاهیانو سره هغه کلي تـه ولاړ او د هغـه هندو صراف د دکان ټولي روپی او طلاوي یې خپلي کړلې.

په سلطان التواریخ کي کښلي دي : پـه دغـه حملـه کـي یـو اویا زره طلاوي د نـواب احمـد خـان پـه لاس ورغلـې مګـر د سـلطان التـواریخ پـه مآخذ عمادالسعادت کي اویا کڅوړي روپی او یـوه کڅـوړه طـلاوي کښلـي دي.

د سلطان التواریخ مؤلف لیکلي دي :-

احمدخان د طلاوو تر خپلولو وروسته مئو ته ولاړ او یوه هفته وروسته

يې پر فرخ آباد بريد وکړ[۳].

مگر په عمادالسعادت کي کښلي دي :-

احمدخان د صراف له کلي څخه پر يوه بل کوچني ښار چې د نول راى د نوکرانو په لاس کي و بريد وکړ، د هغه ځاى کوتوال يې پر خره سپور په بازارو وگرزاوه[۴].

تر دې سوبي وروسته د احمدخان بغاوت ښکاره سو او شپږ زره تنه پښتانه پر راغونډ سول، يوه هفته وروسته يې پر فرخ آباد حمله وکړه، تر ټولو دمخه يې د ښار کوتوال وواژه، وروسته نو هر ځاى چي د نول راى هندو نوکران او گماشتگان په لاس ورغلل، ژوندي يې پرې نه ښوول.

د نول راى له خوا مقررو کاردارانو ته چي د فرخ آباد د سيمي په هر گوټ کي دا حال ورغى، تېښته يې خير وبلله.

په دې ډول د فرخ آباد ټوله سيمه بيرته پښتنو ته ورخوشي سوه، او هوډيالي احمدخان خپله هوډه ترسره کړه او د فرخ آباد علاقه يې د ناسياله وزير صفدرجنگ له شپږ مياشتني غاصبانه تسلط او دده د گماشته نول راى له ناوړه ظلمو څخه وژغورله. په ټولو ښارو کي يې خپل کوتوالان مقرر کړل او له دغي روځي احمدخان د نواب په نامه ياد سو.

## د نول راى وژل :-

مهاراجه نول راى هندو چي د نواب احمد خان په پورته کېدلو او بري خبر سو، دستي يې د جنگ په تياريو لاس پوري کړ او خپل بادار وزير صفدرجنگ ته يې هم حال ولېږه. لږي ورځي وروسته مهاراجه نول راى له يوه تکړه پوځ او درنې توپخانې سره له لکهنو يا قنوجه څخه د فرخ آباد لور

(۳). وگ : سلطان التواريخ، ۱۱۸ مخ.
(۴). وگ : عمادالسعادت، ۴۷ مخ

ته حرکت وکړ او د خزانه عامره په قول د بلګرام د سیدانو یوه لویه ډله هم ورسره ملګرې وه، د عمادالسعادت مؤلف په دغه لښکرکښي کـي د نـول رای د پوځ شمېر پنځوس زره تنه ښوولی دی او زیاتـه کـړې یـې ده چـي پخپلـه ناسیاله وزیر صفدرجنګ هم د ۱۱٦۳ هـ ق کال د برات پـه دیرلسـمه ورځ پـه ډهلي کي د مغل پاچا احمدشاه له حضـوره د نـواب احمـد خـان بـنګښ د ځپلو له پاره رخصت واخیست او د ډهلي لښکري یـې د فـرخ آبـاد لـور تـه ورمولې ـ په لار کي یـې د بـرات پـر اووه ویشـتمه یـو تکـړه او څـړه پـوځ د نصیرالدین حیدر[5] او محمدعلي رساله دار په مشرتابه د مهاراجه نـول رای مرستي ته وګماره ، په سبا (د برات پر اته ویشتمه) یې اسماعیل بیګ کـابلي او د کول (علي ګړه) پوځدار راجه دیبي دت له یوې رسالې سره د نوموړي نول رای هندو مرستي ته ولېږل.

په حیات حافظ رحمت خان کي کښلي دي :-

د ډهلي ناسیاله وزیر که له یوې خوا په جنګي تیاریو بوخت و ، د نول رای مرستي ته یې پوځونه لېږل او پخپله هم د ډهلي له لښکرو سره د فـرخ آباد لور ته نژدې کېدی، له بلي خوا یې سیاسي چلونه هم پـه کـار اچـولي وو، د مئو او شمس آباد د سیمو پښتانه مشران یـې د نـواب احمـد خـان لـه ملګری څخه راګرزول او هغو ته به یې حالونـه او خطونـه ورلېـږل چـي کـه خپل خیر او امان غواړئ احمد خان او مور یې ماته وسپارئ او تاسي یې له مرستي لاس واخلئ که نه نو...

د مئو او شمس آباد پښتنو مشرانو جرګه وکړه او په سلا یې دغه جـواب ورکړ :-

" پښتني ننګه او غیرت دا نسي منلای چي د محمدخان سـردار ځپلـئ

---

[5] . د عمادالسعادت په ۲۹ مخ کي نصیرالدین حیدر د صفدرجنګ باجه (ساندو) ښودل سوی دی.

زوی (احمدخان) او د نامراده قایم خان بوره مور تا غوندي د پښتنو دښمن وزیر ته وسپارو.

پوه سه ! تر څو چي مرګي مو له لاسه تـوري نـه وي اچـولي ، دوی بـه تاته یوازي در پرېږ نه ږدو".

تر دې جواب وروسته د مئو او فرخ آباد پښتنو سردارانو د مهاراجه نول رای هندو مقابلې ته په بېړه تیاری شروع کـړلې او د نـواب احمـد خـان تـر ادارې او مشرتابه لاندي يې د هر راز فـداکاری لـوړه وکړلـه ، نـواب احمـد خان د بخشي توب وظیفه رستم خان اپرېدي ته وسپارله او پـه ګـډه د نـول رای هندو سره د غزا له پاره مخ پر قنوج وخوځېدل.

په دې جنګ کي د نواب احمد خان د پوځ شمېر سید الطاف علـي (د حیات حافظ رحمت خان مؤلف) لس زره پلي او سپاره ښوولی دی او زیـن سنګهـ لکهنوي په سلطان التواریخ کي کښلي دي چي د نواب احمـد خـان لښکر پنځلسو زرو تنو ته رسېدئ.

د پښتنو پوځ چي له مئو څخه شپږ کروه لیري د قنوج خوا ته ورتېر سو، مهاراجه نول رای يې هم د مخنیوي له پاره خپـل پوځـونـه چـي شـمېر يـې څلوېښت پنځوس زرو تنو ته رسېدی، را وړاندي کـړل، د کـالي نـي (کـالي ندي) پر غاړه يې ورته واړول او د ډهلي د کومک لاريې څارله.

يوه واقعه نګار کښلي دي :-

نواب احمد خان نور څنډ وړ ونه بالـه ، سبا يـې (چـي د ۱۱۶۳ هــ ق کال د روژې لسمه ورځ وه) سهار وختي په شنه خړه خپل پوځـونـه د "کـالي ني" تر رود ور پوري ایستل ، څو نول رای د مخ نیوي لـه پـاره ځـان چمتـو کاوه، پښتانه پکښي توی سول، په دغه وخت کي مهاراجه نول رای چي پـر پیل سپور و ، د پښتنو د مخ نیولو هڅه وکړله، څو تنه توریالي پښتانـه پالکـی ته وروختل ، هلته يې تهوک کړ، د ده په وژل کېدلو يې لښکر هم خپـل

خیر په تېښته کي ولید او په هغسي منډه یې د قنوج او لکهنو خوا ته ځغستل چي باد نسو پسي رسېدلای.

غلام علي نقوي د بخشي رستم خان اپریدي د تربره محمدخان له خولې کښلي دي:-

" زه په دغه جنګ کي پخپله شریک وم ، مهاراجه نول رای له شلو زرو سپرو سره زموږ خوا ته " د کالي نـي" تر رود راپوري ووت ، دېرش زره سپاهیان یې لا د رود پر هغه غاړه پاته وو، چي موږ برید پر وکړ او د ده د ژوند تغر مو ور ونغاړه"(٦).

کاظم خان شیدا د نول رای د وژلو کال ۱۱٦۴ هــ ق ښودلی دی او تاریخي ماده یې " خبیث و پلید" را ایستلې ده ، دده خپل بیتونه دا دي:-

"خان احمد" بروز رزم و وغا
تیغ قطاع از نیام کشید
آن " نول" کافر لعین و شقی
نائب خاص رافضی شدید
زود بشتافت از جهان به جحیم
گشت تاریخ او " خبیث و پلید"
۱۱٦٤

د سلطان التواریخ مولف زین سنګه لکهنوي لیکلي دي :-

زما ورنیکه شیولال په دغه جنګ کي د مهاراجه نول رای له نژدو ملګرو څخه و ، ده نکل کاوه: کوم ځای چي مهاراجه پر پیل سپور ولاړ وو ، شپږ اووه نور پیلان او څلور پنځه سوه سپاره پر راخرخېدلي و ، په دغو سپرو کي یو پښتون هم و ، دغه پښتانه سپاهي په شپېلۍ کي په پښتو ژبه د نواب احمد خان مهاجم پوځ ته وویل:-

(٦) . وګ : عمادالسعادت، ۴۷ مخ .

"نول رای دلته ولاړ دی ، تاسي چیري ځغلئ ! [۷]".
مهاجمو پښتنو چي دا واورېدله د نول رای خوا ته یې مخه وکړه ، په لومړی حمله کي نول رای وواژه سو او زه تېـي سـوم، د مهاراجـه پـه وژلـه زمونږ لښکرو ماته وکړه.
د عمادالسعادت مؤلف هم دغه قصه کټ مټ د نوموړي محمدخان له خولې را نقل کړېده او کښلي یې دي چي :-
محمدخان دا هم ویـل زه پـه دغـه جـنګ کـي د بخشـي رسـتم خـان اپرېدي ځنګ ته نژدې تلم ، موږ چي د نول رای پـه پنوځ ورکښـې وتلـو ، نول رای مو ولید، چي په خوله ښکنځل کوي ، پښتنو ته بد و رد وایـي او پـه لاس کي یې لیندی ده ، زموږ خوا ته غشي ولـي، لومـړی غشـی یـې پـر مـا وموښت ، خو تر پوست تېر نه سو ، په دغه وخت کي موږ دده پالکی ته ښـه ورنژدې سوی و، واموورېدل چي میر محمد صلاح نومی بلګرامي سید ورته وایي نه مي درته ویل چي پښتانه د باور نه دي هر څومره چـي دي د لاسـه کیږي ځپه یې ، اوس دي ولیدل چي ... نوموړي سید لا خپله خبرد نـه وه بشپړه کړې چي زما د توپک یوه ګولی پر ونښتله او په پالکی کي غوزار سو ـ دده له غوزارېدلو سره سمدستي یوه بل اپرېدي نول رای وویشت د هغه پـه وینو هم پالکی سرخرویي حاصله کـړه ، او بلګرامـي سـید او مهاراجـه نـول رای ویني ګډې وډې د پالکی تر څنډو راڅڅېدلې[۸].
د بلګرامي یو بل سید میر غلام علي آزاد هم پـه خزانـه عـامره کـي دا

---

[۷] . د زیـن سنګهـ خپـل الفـاظ دا دي: " افغـاني از ان سـواران کـه همرکـاب مهاراجـه بودند ، نی افغانی که به هندي الغوزه و بـه افغـانی شپیلی نامند بدین مضـمون بلغـت افغـانی نـواختن ګرفـت: کـه ای ګمکـرده راهیهـا ! کجـا مـی روید ، سـردار مـا در همـین مجمع است".
[۸] . وګ : عمادالسعادت، ۴۷ مخ

خبره تائیدوي او لیکي چي په دغه جنګ کي د بلګرام ډېر سیدان د پښتنو له لاسه ووژل سوه او مړي یې د نول رای هندو تر څنګ پراته وو.

د عمادالسعادت مؤلف د نوموړي محمدخان اپرېدي له خولې دا هم کښلي دي :-

"نول رای چي وواژه سو او لښکر یې وتښتېد ، زه د نول رای د پوځ د صرافانو په بازار ور کښې وتلم، له یوې خیمې څخه مي د خلکو ډېر غوږ سو ، ښه چي مي غوږ ورته ونیو ټولو اتلس اتلس ویل ، چي په خیمه ورننوتلم که ګورم څو تنه خمار بازان (قماربازان) ناست دي او د خمار (قمار) په شوق کي دومره غرق دي ، چي له ځان او جهانه ناخبره دي، زه چي یې ولیدلم پوښتنه یې راڅخه وکړه :-

"پښتانه لا جنګ کوي، که وتښتېدل؟"

ماته ډېر درد راغی په خورا قهر مي ورته وویل:-

"بېدو ! پښتانه ښه وایي ګوجر چي خوب کوي میږي به یې نر کښې زېږوي، ستاسي بادار نول رای د وخته ټوک ټوک سو او ټتلي لښکر یې ماته وخوړه، تاسي په هیڅ خبر نه یاست".

ما له دوی سره دغه خبري کولې چي نور پښتانه هم را ورسېدل او د دوی د وژلو هڅه یې وکړه، خماربازان دلته په ځانو پوه سول ، رنګونه یې والوتل ، زاری او جګی یې شروع کړلې، ما دوی لاس تړلي رستم خان ته بوتلل. رستم خان چي په نکل خبر سو ، درې سوه تنه پښتانه سپاهیان یې د صرافانو بازار ته ولېږل او څو دانې د روپو ډک صندوخان (صندوقونه) یې د صرافانو له بازاره راوړل. موږ ته په دغه جنګ کي خورا ډېري الجې او بندیان په لاس راغلل _ له بندیانو څخه مو وسلې او څوري واخیستل نور موخوشي کړل.

د قایم ګنج د عطایی پور کلي اوسیدونکي "بهبوتی" نومي

اولسي هندو شاعر د نواب احمد خان د دغي توري او سوبي په ویاړ یوه هندی فتح نامه جوړه کړه چي د هغې څو بیتونه دا دي :-

عجب وه صاحب قدرت هی — جس نې جګ سنوارا هی
خدای پاک مولا هی — وهی پرودګارا هی
کهړا باندها کمر کس کر — غلیم او پر لیې لشکر
لګې اس کې عجب چکر — غروری کا خمارا هی
........................ — نه پوچهیې بات پاجی کو
"نول" کرسې مرد غازی هویی — پهنچ ګولی سی مارا هی
"نول" هودې سې مکهه موړا — کهیں هاتهی کهیں ګهوړا
قبایل بهی کهیں چهوړا — نه سرچیره سنبهارا هی
چلیں تو پیں دهړا دهړ سی — رهکلې بهی براېر سې
شترنالیں پراپر سې — تهور کا پهاړا هی
چلیں تیریں سناسن سې — چلیں ګولی منامن سې
کتیں بکترجهنا جن سې — پړی تلوار دهارا هی
"بهبوتی" نام هی میرا — "عطایی پور" میں ډیرا
یهی هی مئو کا کهیړا — تلې ګنګا کنارا هی

ویلیام اورن دا هم زیاته کړېده چي نواب احمدخان د دې فتحنامې په صله کي د نانکارې کلی بهبوتي شاعر ته ورو باخښه.

## د صفدر جنګ ماته :-

ناسیاله وزیر صدر جنګ ترکمن چي له ډهلي څخه تر درې مزله لا نه و

---

(۹) وګ : تاریخ فرخ آباد ، ۲ ټوک، ۲۳ مخ. دغه فتح نامه په هزج مثمن سالم بحر کي ویلې سوېده.

ليري سوی، د نول رای په وژله او د لکهنو د لښکرو په ماته خبر سو، حيرانی واخيست په مارهره کي يې واړول او د نوي پوځ د تياري په تکل کي سو، يوه مياشت يې دلته په مارهرد کي تېره کړل، له شاوخوا يې پوځونه راوغوښتل او تر اويا زرو زيات سپاره يې د سير المتاخرين په قول چي پلار يې هم په دغه جنګ کي و، وزير صفدر جنګ له ملګرو سره برابر کړل. دستي يې له نواب احمد خان څخه د کسات کښلو په نيامت له ډهلي څخه يو اتيازري لښکر د فرخ آباد لور ته وخوځاوه، پاچاهي توپخانه (چي عمادالسعادت يې د توپو شمېر تر زر زيات کښلی دی) هم د نجم الدوله اسحاق خان شوستري په مشري ورسره وه* او سربېره پر دې د بهرتپور راجا سورج مل جاټ يې هم له ديرشو زرو سپرو راجپوتو هندوانو سره مرستي ته راغی.

ناسياله وزير صفدر جنګ له دغسي درنو لښکرو او توپخانې سره د نول رای د مرګ په څلوېښتمه ورځ (د ۱۱٦۳ ه ق کال د کوچني اختر د مياشتي په شلمه) ځان د فرخ آباد شاوخوا ته ورساوه، د عمادالسعادت مؤلف د خپل کتاب په (۴۸ مخ) کي د دې پوځ شمېر دوه نيم لکه سپاهيان او تر زرو زيات توپونه ښوولي دي[10].

نواب احمد خان ته چي دا حال ورسېد که څه هم د دغونه لوی لښکر او درنې توپخانې مقابله يې ظاهراً په وس نه وه پوره، خو د کورنی د بې پتی احساس او د انتقام جذبې دې ته وګماره، هر څه چي کيږي بايد د

---

* ـ په دغه سفر کي د اردو ژبي مشهور شاعر مير تقي مير هم د اسحاق خان نجم الدوله ملګری ؤ او د نجم الدوله تر وژل کېدلو وروسته يې د وزير صفدر جنګ د مات سوي لښکر سره په ډېر زحمت ځان ډهلي ته ورساوه نقوش اپ بيتی ۳٦ مخ جون ۱۹٦۴.

[10] وګ: سلطان التواريخ، ۱۲۱ مخ.

دغه درانه او مجهز لښکر مقابله وکړله سي.

د نواب احمد خان مور د مرستي د هغي وعدې په ډاډ چي د نواب قايم خان نامراده تر مرګ وروسته د روهيلکهنډ د نوابۍ نائب حافظ الملک حافظ رحمت خان برېڅی ورسره کړې وه، د روهيل کهنډ پښتنو سردارانو ته د مرستي له پاره استاځی (قاصد) ولېږه او پيغام يې دا ؤ:-

"لاس چي مات سي غاړي ته ځي".

حافظ رحمت خان ته چي استاځی ورسېد، دستې يې خپلو پوځو ته د تيار سئ حکم وکړ او استاځي ته يې وويل:-

"که نواب احمد خان او مور يې د نامراده نواب قايم خان خون د روهيل کهنډ پښتنو ته وربخښي، نو زه به د پښتني ننګي په حکم د روهيلکهنډ د پښتنو يو تکړه پوځ ډېر ژر فرخ آباد ته در واستوم چي هلته د خپلو پښتنو ورونو سره څنګ پر څنګ وجنګېږي".

استاځي (قاصد) چي دغه پيغام فرخ آباد ته ورساه نواب احمد خان او مور يې دستي د بخښني ليک د روهيل کهنډ سردارانو ته ورولېږه*.

له دې خوا هم په هغه روځ د حافظ رحمت خان په حکم د روهيلکهنډيو پښتنو يو تکړه پوځ د پرمل خان او دوړخان په مشرتابه فرخ آباد ته وکوچېد، او پخپله حافظ هم له پاته لښکر سره د فرخ آباد لور ته د تګ په هڅه کي سو.

د پرمل خان او دوړ خان تر مشرتابه لاندي پوځ تر جنګ دوې روځي دمخه فرخ آباد ته ورسېد او د ناسياله وزير صفدر جنګ ترکمن پوځونه هم نور د فرخ آباد لور ته پر مخ راغلل.

نواب احمد خان ته چي د روهيلکهنډ پښتانه وړورسېدل نور يې څنډ

---

* ـ په سلطان التواريخ کي د قايم خان د خون بخښل او د روهيلکهنډ د پښتنو مرسته د ۱۱٦۴ هـ ق کال په واقعاتو کي ليکلې ده.

وړ ونه باله دستي يې پوځونه لـه فـرخ آبـاده راوايستل او د صـفدر جـنګ د پوځو مخي ته يې واړول، په دې جنګ کي د نواب احمـد خـان پـوځ شـل زره پلي او سپاره وو، خو د دښمن د لښکرو شمېر تر يـو لـک تنـه زياتېـدی او توپخانه يې هم ډېره مجهزه وه. سبا چي د ۱۱۶۳ ه ق کال د کوچني اختـر د مياشتي دوه ويشتمه روځ وه ناسياله وزيـر صـفدر جـنګ پـه "رام چتهـونی" نومي ځای کي خپل پوځونه د بريد له پاره برابـر کـړل[11] سـرلاښ (قـراول) يې (د شوستري مؤتمن الدوله زوی) نجم الدوله اسحاق خان ته وسپاره* د سورج مل جاټ (د بهرتپور راجا) پوځونه يې له يوې برخي توپخانې سره د نجم الدوله د پوځ شاته په ښی غوړې کي ځای پر ځای کړل، او کيڼ غوړی يې اسماعيل بېګ کابلي ته وسپاره، پخپله يې د پنځو زرو مغلو سـره د لښکـر په زړه کي ځای ونيو.

نواب احمد خان هم خپل پوځ پر دوو برخو ووېشـه، يـوه برخـه يـې د بخشي رستم خان اپرېدي په مشري د سورج مـل جـاټ د پوځـو مقـابلې تـه وګمارله او بله برخه يـې تـر خپـل مشـرتابه لانـدي د صـفدر جـنګ پـر پـوځ وروخوځوله، له روهيل کهنډه څخه راغلی پوځ هم له نواب احمد خان سره مل ؤ.

رستم خان اپرېدي تلوار وکړ او ډېر ژر يې د سورج مـل جـاټ پـر پـوځ حمله وروړله، په دې حمله کي د راجپوتو کفارو لـه لاسـه د خزانـه عـامره او سير المتاخرين په قول شپږ اوه زره تنه پښتانه شهيدان سول او پخپلـه رسـتم خان هم د شهادت جام پر سر واړاوه او پاته ملګري يې تـر شـا سـول. نـواب

---

[11] رام چتهونی له "سهاور" څخه اوه ميله شرقي لـور تـه او ل "پتيالې" څخه پنځه ميله غربي خوا ته واقع دی.

* ـ د نجم الدوله اسحاق خان خور د صفدر جنګ د زوی شجاع الدولـه مـاينـه وه آصف الدوله د دغي ښځي زوی دی، د سير المتاخرين ۸۷۲ مخ.

احمد خان ته چي دا حال ورغئ، د خپل پوځ سردارانو ته يې وويل :- "رستم خان توريالي خو سورج مل پسي واخيست، مګر موږ ته لا مقابل پوځ روغ رمې ولاړ دی او هيڅ موپه ونه کړل، دا څنګه پښتنواله ده؟"

په دې وخت کې لمر تر سر اوښتې ؤ او پښتانه د ماپښين له لمانځه فارغه سوي وه، د نواب احمد خان دا پېغور چي پښتنو سردارانو واورېد په غيرت يې اور ولګېد د ماپښين لمونځ يې وکړ، د بري له پاره يې په سلا لاسونه پورته کړل تر دې وروسته يې دعا وکړه او د دښمن لور ته د وړاندي تګ په هڅه کي سول.

نواب احمد خان هم د خپل پيل مخ د دښمن د توپخانې لور ته وګرزاوه او مخامخ پر ور رهي سو، پښتنو تورياليو هم آسان پسي پونده کړل، په لومړۍ حمله يې د صفدر جنګ د زوی شجاع الدوله خسر نجم الدوله اسحاق خان وواژه او ورپسې يې د صفدر جنګ ترکمن ورار يا د خاله زوی نصير الدين حيدر د صفدر جنګ باجه و (عماد السعادت۲۹ مخ) پخپلو وينو اوبه کړ او د بلګرام د سيدانو څخه يې مير غلام نبي "رسا" او مير عظيم الدين ووژل، د بلوڅانو د فرخ آباد فرخ نګر اوسېدونکی کامګار خان بلوڅ چي د صفدر جنګ د لښکرو په سرلاړ (قر اول) کي ولاړ ؤ د دې حال په ليدلو سره چي د مغلو په پوځ ماته ګډه سوه په تېښته سو، د ده په تېښته مغلو هم پايښې راپورته کړې[۱۲].

د اردو ژبي نامتو شاعر مير تقي مير پخپل شرح حال کي ليکلي دي :-

صفدر جنګ چي د فرخ آباد د نواب محمد خان تر مرګ وروسته د فرخ آباد د استېلا له پاره تی، اسحاق نجم الدوله هم ورسره ملګری کړ، زه د نجم الدوله سره ملګری وم، د نواب احمد خان بنګښ سره سخت جنګ

---

[۱۲] وګ : حديقة الاقاليم، ۱۷۴ مخ، سير المتاخرين - ۳ ټوک - ۸۷۸ مخ.

پېښ سو، د صفدر جنګ لښکر مات سو، نجم الدوله وواژه سو، ما د دغه تښتېدلي لښکر سره په ډېره خواري ځان ډهلي ته راورساوه، (نقوش آپ بیتی ۱/۳٦ مخ).

په حديقة الاقاليم کې کښلي دي :-

هغه پنځه زره مغل سپاهيان چي له اسانو ځخه پلي سوي د صفدر جنګ وزير شاوخوا ته د جنګ له پاره ولاړ وو د پښتنو په لومړۍ حمله داسي وتښتېدل چي تر شا يې نه کتل او بې له ځو کسو ځخه د وزير صفدرجنګ د پيل شاوخواته ځوک پاته نه سول.

توريالیو پښتنو په دغه حمله کي د صفدر جنګ توپخانه خپله کړه او دغليم د لښکر زړه (قلب) ته پسي ورتېر سول، په دغه بريد کي د صفدر جنګ پيلوان مړ سو او يوه ګولۍ پخپله د وزير پر غاړه هم ونښتله، ناسياله وزير بې سده سو او په پالکۍ کي وغزېد، پښتنو ګمان وکړ چي دغه پالکۍ تشه ده ځکه يې نو نور غرض په ونکړ او دغه اشتباه د صفدر جنګ د ژوندي پاته کېدلو سبب سوه.

د صفدر جنګ ملګرو د ده د پيل مخ وګرزاوه او په تېښته يې د پښتنو له تورو خلاص کړ. مارهرې ته يې ورساوه او د کوچني اختر د مياشتي په نه ويشتمه روځ د ډهلي پر برابري د جمنا غاړي ته ورسېد (سيرالمتاخرين۸۷۹/۳ ) د بهرت پور راجا چي د صفدر جنګ او د هغه د لښکرو تېښتي ته وکتل، ده هم له خپلو پوځو سره تر شا تړلل او سوبه د پښتنو په برخه سوه. د سوبي نغارې ورغږېدې او د پښتنو د خوشحالۍ نارو سورو فضا پر سر واخيستله.

په دې جنګ کي پر سوبي سربېره ډېري اُلجې هم د پښتنو جنګياليو په لاس ورغلې او له وياړه جګ سرونه له خپل غښتلي مشر نواب احمد خان سره بريالي فرخ آباد ته ستانه سول. نواب احمد خان چي فرخ آباد ته

ورسېد، تر تولو دمخه يې له روهيلکهنډ څخه راغلي مرسيتال پوځ ته خلاتونه، اسان، پيلان او سوغاتونه ورکړل او د کور ودانۍ له يوه ليک سره يې روهيل کهنډ ته رخصت کړل.

د نواب احمد خان چي دا سوبه نصيب سوه، د خدای ﷻ شکر يې وکيښ خيراتونه يې وکړل، خلاتونه يې وبخښل، منصبونه يې جګ کړل، جاګيرونه يې ووېشل او د احسان دروازې يې د خلکو پر مخ خلاصي کړې.

## د اله اباد او لکهنو بر يد :-

د نواب احمد خان پوځونه چي په فرخ آباد کي دمه سول، د جنګ تر تياريو وروسته په ۱۱٦۴ هـ ق کي د نواب له خوا ښادي خان غلجی وګماره سو چي له شلو زرو سپرو سره د اله اباد نيولو ته وخوځي، ځکه چي په دغه ښار کي د نواب احمد خان ورونه، دوستان او عزيزان بنديان وو او ده د هغو خلاصون تر هر څه دمخه خپله وظيفه ګڼله.

بل پوځ يې خپل زوی محمود خان ته ورکړ او د لکهنو نيولو ته يې وګماره، دا دواړه ښارونه د ناسياله وزير صفدر جنګ د جاګير او حکومت په ساحه کي داخل وو[۱۳]. ګړندی محمود خان د ۱۱٦۴ هـ ق کال د دربيمي خور په شپاړسمه روځ بلګرام ته ورسېد د ښار غربي خوا ته يې واړول په دغه وخت کي د بلګرام اوسېدونکو د محمود خان د پوځ دوه سوه يابوګان په چپاو بوتلل، محمود خان ته درد ورغی ښکر ته يې پر بلګرام باندي د حملې حکم ورکړ د بلګرام سپين ږيري محمود خان ته په ننواتو راغلل او محمود خان يې د بلګرام د تالا کولو څخه وګرزاوه. او محمود خان د

---

(۱۳) د لکهنو او اودهـ حکومت په ۱۱۵۱ هـ ق کال د برهان الملک تر مرګ وروسته صفدر جنګ ته ورکړه سوی و او د اله اباد اداره د نواب عمدة الملک امير خان تر مرګ وروسته په ۱۱۵۹ هـ ق کال ورسپارلې سوې وه.

پهاوبهامو خواته پوځ وکوچاوه په ګذر کې واړول له دغه ځایه یې شل زره سپاهیان د خپل یوه تربره په مشرتوب پر لکهنو باندي د برید له پاره ولېږل دغه پوځ د لکهنو تر ښار دباندي واړول او دا ښار (لکهنو*) یې ونیو، مګر ښادي خان کوړهٔ جهان آباد ته نږدې د اله اباد له پوځو سره په جنګ کې ماته وکړه او بیرته ناکام فرخ آباد ته ستون سو.

احمد خان نواب چي د ښادي خان په ماتي خبر سو، پخپله د یوه تکړه پوځ سره اله اباد ته وخوځېد په لار کي یې د پرتاب ګړهـ راجا (راجه پرتهی پت** د چترهاري سنګه زوی د جي سنګه لمسی) اطاعت ومانه ملګری یې سو او د اله اباد د فتحي ذمه یې واخیستله، د احمد خان په ورتګ چي د اله اباد واکمنان رای پرتاب نراین، خانعالم نواب بقاء الله خان او علي قلي خان خبر سول، ښی دروازې ته څرمه یې پر جمنا سیند باندي د کښتیو پل وتاړه، پوځونه یې د اله اباد د ښار جنوبي خواته پوري ایستل او کله چي د احمد پوځونه ور ورسېدل پخپله کلابند سول.

د بنارس راجا راجه بلونت سنګه بنارسي چي پر اله اباد باندي د احمد خان په حمله خبر سو له بنارسه څخه (چي له اله اباد څخه ۴۳ کروه لیري دی) جهونسې ته له خپلو لښکرو سره راغی، هلته یې واړول او احمدخان ته یې سوغاتونه راولېږل، څو روځي وروسته پخپله هم د نواب احمد خان حضور ته راغی څو روځي یې له احمد خانه سره تیري کړلې بیرته بنارس ته

---

* ـ لکهنو له ډهلي څخه د مراد آباد پر لار د رېل په وسیله ۳۰۲ میله لیري دی په ۱۹۱۹ کي یې درې لکه نفوس درلود.

** ـ دغه راجه پرتهی پت تر ۱۱۶۵ هـ ق کال وروسته منصور خان صفدر جنګ په چل او دروه د علي بېګ خان خارجي په وسیله وواژه، او علي بېګ خان ته یې د دغه خدمت په بدله کې د شتاب جنګ لقب ورکړ. ۶۷۴ مخ حدیقة الاقالیم. د دغه پرتهی پت زوی دیناپت د منصور خان د زوی شجاع الدوله له لاسه وواژه سو.

رخصت سو په دغه وخت کې احمد خان خپل زوی محمود خان هم له لکهنو راوغوښت او د پلار په حکم یې په جهونسي کې واړول.

د عماد السعادت په ۵۰ مخ کې کښلي دي له اله اباده نوري تولي سیمي تر بنارسه پوري ۴۳ کروه لیري شرقي خواته پرتې دي د نواب احمد خان تر لاس لاندي سوې، مګر پښتانه پوځونه په بنارس نه ور ننوتل او د دې سبب دا و د نواب احمد خان لښکر چي جونپور ته ورسېد د بنارس سوداګران خبر سول له ډېرو روپو سره د احمد خان مخي ته راووتل او په پهول پور کي چي له بنارسه اته، نه کروه لوېدیځ لور ته واقع دی له نواب سره ولیدل دوه کروړه روپۍ یې نواب ته ورکړې او بنارس ته یې د پښتنو سپاهیانو د ورننه وتلو مخه ونیوله.

او د اله اباد ښار یې څلور پنځوس روځي او د سیر المتاخرین په قول څلور میاشتي کلابند کړ. د حدیقة الاقالیم مؤلف وایي زه په دغه کلابندۍ کي د دیوان پرتاب سنګه سره چي د منصور خان مستوفي و، نوکر وم او په اله اباد کي وم. د لکهنو د نیولو او د اله اباد د کلابندۍ حال چي ناسیاله وزیر صفدر جنګ ته په ډهلي کي ورسېد، دستي یې د اله اباد حاکم نواب بقاء الله خان* ته (چي د صفدر جنګ د ماما زوی کېدی) ولیکل :-

"هر څونه بنګښ چي ستا په لاس کي بندیان دي ویې وژنه".

د اله اباد حاکم ته چي د ناسیاله وزیر دغه حکم ورسېد، د نواب احمد خان څو تنه ورونه، ډېر دوستان یې ووژل او پر نورو پښتنو بندیانو یې هم مندي بوري کړلې. نواب احمد خان کلابندي ټینګه کړه، مګر د اله اباد ساتونکو هم پښې وخرلې، او د اله اباد فتحه د نواب احمد خان نصیب نه سوه، ځکه چي ناسیاله وزیر صفدر جنګ بیا پر فرخ آباد پوځونه راوبهول او

---

* ـ نواب بقاء الله د مرحمت خان زوی او د عمدة الملک امیر خان وراره ؤ د اکبر په وختو کي د کوړې پوځدار و.

نواب احمد خان مجبور سو چي د اله اباد له کلابندۍ لاس واخلي او فرخ آباد ته ځان ورسوي.

## د صفدر جنگ او مرهتو برید :-

د عماد السعادت په ۵۰ مخ کي کښلي دي :-

د صفدر جنگ د ماتي خبر چي ډهلي ته ورسېد د وزیر الممالک قمر الدین خان زوی انتظام الدوله خان خانان د ډهلي پاچا (مغل احمدشاه) ته ورغی او ورته ویې ویل :-

صفدر جنگ ته له خپله غروره دا بده روځ وربېښه سوه، اوس د داسي یوه وزیر چي له یوه زمینداره څخه تښتېدلی دی راتګ یې و پاچا ته ښه نه دی، کور دې ضبط او پخپله دې د ډهلي له راتګه منعه کړه سي. مګر پاچا دا خبره ونه منله.

صفدر جنګ چي د ۱۱۶۳ د کوچني اختر پر ۲۹مه ډهلي ته ورسېد په کور ننووت ډېر لږ به له کوره راوتی.

د صفدر جنګ د دغي حملې تفصیل په عماد السعادت ۵۷ مخ او سلطان التواریخ کي داسي کښلی دی :-

د ډهلي ترکمن وزیر صفدر جنګ منصور خان چي د فرخ آباد له جنګ تېي په تېښته ډهلي ته ستون سو او د لکهنو د نیولو او د اله اباد د کلابندۍ حال هم ورورسېد، خواشینۍ زور پر وکړ، دربار ته نه راوتئ او همېشه به په کور کي و.

یوه روځ یې د خپل پوځ سرداران وروغوښتل او له نواب احمد خان سره د جنګ کولو په باب یې سلا ځني وغوښتله.

اسمعیل خان کابلي ورته وویل :- له ولایته (ایران) څخه باید یو تکړه پوځ خپلي مرستي ته راوبولو (د اسماعیل خان پلار اېراني و،دی په کابل

کي زېږېدلی ؤ، د صفدر جنګ سپهسالار ؤ).
راجه ناګرمل* وويل :-
د روهيل کهنډ پښتانه به د ځان مله کړو، يو لک تنه پښتانه هلته سته، د نواب قايم خان د خون په سبب کومه دښمني چې د روهيل کهنډ او فرخ آباد د پښتنو تر منځ پيښه ده له هغه څخه بايد ګټه واخلو، او په پاچاهي فرمان سره يې د ځان مرستي ته راوبولو.
راجه لچهمی نراين وويل :- جي اپا** او صوبه دار ملهارراو هولکر له اويا، اتيا زرو مرهټو سره په کوټه نومي ځای کي اړولي دي، يو به له دوی څخه د ځان مرستيال کړو او د پښتنو نوغی به په وکاږو. د صفدر جنګ وزير د راجه لچهمی نراين خبره خوښه سوله.

---

* ـ د محمد شاه په زمانه کي راجه بخت مل کهتري ديوان خالصه و، دی د ستلج پر غاړه باندي راهون نومي ځای ته نژدې د نوشهرې اوسېدونکی و، د ده يو وطن دار چهج مل د ده په کور کي کار کاوه د دغه چهج مل څورلس کلن زوی چي له وطنه څخه ډهلي ته راغی راجه بخت مل پر مين سو او د ده په روزنه يې پيل وکړ، خط يې ور زده کړ چي تر شلو کلو يې عمر زيات سو د ديوان خالصه څلورم پيشکار سو. چي بخت مل ومړ زوی يې ديوان خالصه سو، زوی چي يې مړ سو د مير کاظم زوی عبدالمجيد خان کشميری (د مجد الدوله عبدالاحد خان پلار) ديوان خالصه سو، او کله چي د کابل د رام کهتري مشر ورور شيخ سعدالله نو مسلم (چي ديوان تن و) مړ سو د روشن اسا په سپارښت ناګرمل ديوان تن سو.
ديوان خالصه او ديوان تن :-
د هندوستان په پخوانيو دربارو کي وزير اعظم دوه نائبان درلودل، يوه ته يې ديوان خالصه ويل او بل ته يې ديوان تن. ديوان خالصه به د پاچا عين المال اداره کاوه او د اشپزخانې، طبيلې، غسلخانې او نورو شاهي ادارو مصارفو په ده اړه درلوده، ديوان تن به پاچاهي خلاتونه مستحقينو ته رسول، د خانانو او منصبدارانو حالات يې پاچا ته ليکل، دغه هر ديوان به څلور څلور تنه پېشکاران درلودل.
**ـ اپا د جهنکلو پلار و. ۱/ ۲۲۵ مخ - اخبار الصناديد.

## د دېوان اتمارام شجره

**دېوان اتمارام (کهتري)**
(د لاهور په شاوخوا کي ....، په هغه وخت کي چي برهان الملک د ... پوځدار و ، دغه اتمارام يې دېوان و)

- **مير نراين**
  (په پاچــاهي دربــار کي د صفدر جنگ وکــــيل و، د اوده د نائب الحکومتی په زمانه کي)
  - **مهاراجه لچهمي نراين**
    (د صفدر جنگ مختار وکيل و)
  - **شيو نراين**
  - **جگت نراين**
- **رام نراين**
  دېوان صفدر جنگ
  - **راجه مهيا نراين**
    (تر جگ بکتر دمخه د شجاع الـدوله دېوان)
  - **هروی نراين**
- **پرتاب نراين**
  (پرتاب سنگهه)

ځکه يې نو خپل يو وکيل د مرهټو کفارو مشرانو ته ورولېږه او د نـواب احمدخان پر ضد يې مرسته ځني وغوښتلـه. د دغـه وکيـل نـوم پـه عماد السعادت او سلطان التـواريخ کـي راجـه رام نـراين[۱۴] او پـه حيـات حـافظ

---

[۱۴] راجه رام نراين د نوموړي راجه لچهمي نراين اکا (تره) د صفدر جنگ وزير په دربار کي دېوان (مستوفي) و، د دغه رام نراين زوی مهانراين بيا يو وخت د صفدر جنگ د زوی شجاع الدوله ديوان (مستوفي) و.

رحمت خان ۵۸ مخ کې راجه جګل کشور کښلی دی. مګر په سیرالمتاء خرین کي د دواړو نومونه سته، د صفدر جنګ وکیل مرهټو مشرانو ته یو کروړ روپۍ، څپلی اوګنډ ومانه او اپاجي سيندهيا او صوبه دار ملهارراو هولکر يې د نواب احمد خان پر ضد د وزير صفدر جنګ په مرسته راضي کړل، پخپله صفدر جنګ سورج مل جاټ ته هم د روځي پنځلس زره روپۍ ومنلې. په اخبار الصناديد او حيات حافظ رحمت خان ۵۹ مخ کې د مرهټو د لښکرو شمېر دوه لکه تنه او زر توپونه دي. د سير المتأخرين په ۸۸۱ مخ کي کښلي دي :-

صفدر جنګ د ورځي سورج مل ته ۱۵ زره او مرهټه وو ته ۲۵ يا ۳۵ زره روپۍ ورکولې. د سورج مل په هغو خطو کي چي له بهرت پور څخه پيدا سوي دي د صفدر جنګ يو خط هم سته چي سورج مل يې د پښتنو او نواب احمد خان د ځپلو له پاره خپلي ملګرۍ ته رابللی دی :-

"فرزند وفادار بهادر من قرار کرده بودند که از مهمات خود فراغ حاصل کرده بعد دو ماه در حضور ميرسم، مدت به امتداد انجاميد که ايفای وعده هنوز بعمل نيامده و اينجانب بجان و دل مشتاق خصوص درين ولا ... مهم افاغنه منظور خاطر و اصلاح کارهای سرکار بر ذمه همت شما است، توقف در زود شتافتن آن وفادار موجب کمال نگرانی و انتظار است مخالفان شقاوت بنياد که حسب اتفاق بر دولت خداداد دست يافته بودند حالا نخوت و غرور در سر دارند و به اجتماع هم کِش دور و نزديک مشغولند، بر ضد عزيمت بی درنگ منظور بود لاکن به انتظار رسيدن آن کامگار روزی چند ديگر هم توقف لازم بود، الحاصل زود بيايند و زياده براين متوقف نشوند.

اگر به سير چمن ميروی قدم بردار
که همچو رنگ حنا ميرود بهار از دست

مرهټو مشرانو دا روڅ له خدایه پر آسمان غوښته، په خورا تلوار او شوق یې د مرهټو کفارو لښکري له کوټې څخه د فرخ آباد د نوابی لور ته وخوځولې او د ۱۱٦۴ هـ ق کال د دوهمي خور (ربیع الثانی) په میاشت کي د فرخ آباد د نوابی سرحد ته ورسېدل، پر اټاوه[۱۵]، کول (علي ګړهـ) او جلیسر یې برید وکړ، د دغو سیمو پښتنو حاکمانو لکه :- اعظم خان بنګښ (د نواب احمد خان ورور) او ښادي خان غلجي[۱٦] بې تېښتي بله چاره ونه لیدله، فرخ آباد ته یې ځانونه ورسول او باروبنه یې مرهټو کفارو ولوټل.

نواب احمد خان ته چي دا حال ورغی دستي یې د اله اباد کلابندي پرېښووله او په منډه یې ځان فرخ آباد ته راورساوه خپل زوی محمود خان یې هم له جهونسې څخه له پوځو سره راوغوښت او په ګډه یې ځانونه د مرهټو کفارو او ناسیاله وزیر مقابلې ته چمتو کړل.

ناسیاله وزیر صفدر جنګ ترکمن د ۱۱٦۴ کال د درېیمي خور په شروع کي (صفدر جنګ د ۱۱٦۴ کال د درېیمي خور په اوله له ډهلي راووت، سیر المتأخرین ۸۸۱ مخ) چي په ډهلي کي خبر سو چي د ده رابللي مرهټه پوځونه علي ګړه ته رارسېدلي او دغه سیمي یې د فرخ آباد د حاکمانو له لاسه کښلي دي، ده هم خپل پوځونه له ډهلي راوخوځول او د خپلو مرستیالو مرهټو کفارو مل سو، په دې جنګ کي له ده سره د ډهلي یوه درنه توپخانه هم وه او سورج مل جاټ (د بهرت پور راجا) یې هم د جاټانو یو پوځ په مرسته رالېږلی ؤ.

وزیر صفدر جنګ چي له ډهلي څخه رهي کېدئ، د ډهلي د پاچا احمدشاه مغل (۱۱٦۱ _ ۱۱٦۷ هـ ق) څخه یې هم غوښتي ؤ چي د نواب

---

(۱۵) کېدای سي دغه نوم "ایټه" وي (؟)

(۱٦) دغه نوم په سیرالمتاخرین، ۸۸۱ مخ، حیات حافظ رحمت خان ۵۸ مخ او خزانه عامره کي شادل خان کښلی دی.

احمد خان د ځپلو له پاره د جنګ میدان ته ورسره ولاړ سي، خو پاچا نته کړې وه او د خپل وزیر دغه غوښتنه یې نه وه منلې.

د ډهلي ترکمن وزیر د مرهټو او جاټانو کفارو او مغلو تقریباً دوه لکه سپاهیان له زرو توپو سره پر فرخ آباد وروبهول او پر پښتنو یې د قیامت روځ جوړه کړه.

نواب احمد خان چي دا ورځ په سترګو لیده د یرغلګرو لښکرو تر هجوم دمخه یې خزانې، کډې او کوچنیان روهیل کهنډ ته لېږلي وو، پخپله یې ځکه چي په ځان کي د دغونه لوی پوځ د میداني مقابلې وس نه لید، نو په فرخ آباد کي یې د کلابندی ترتیبات نیولي او د روهیل کهنډ له پښتنو څخه یې مرسته غوښتې وه.

مرهټو کفارو د ګنګا غربي غاړي ونیولې او د روهیل کهنډ څخه د را رسېدونکو مرسیتالو پوځونو مخي ته یې سنګرونه ووهل. د روهیلکهنډ پښتنو سردارانو نواب احمد خان ته ولیکل :-

"د ګنګا د سیند پر غربي غاړه باندي د دغونه لوی پوځ مقابله ګرانه ده ته له خپلو پوځو سره د ګنګا شرقي غاړي ته راپوري وزه، موږ هم له خپلو پوځو سره ځانونه درسوو، په ګډه به د وزیر او مرهټو دفعه وکړو".

د عمادالسعادت په ۵۸ مخ کي د احمدخان پوځ ۶۰ زره او د روهیلکهنډ پوځ ۹۰ زره پلي او سپاره کښلی دی.

نواب احمد خان ته چي دغه خط ورورسېد په یوه ترڅ کي له خپلو لښکرو سره د فرخ آباده څخه راووت د ګنګا پر غاړه یې حسین پور[۱۷] ته ځان ورساوه او سنګر یې ونیو. د سیرالمتاخرین په ۸۸۱ مخ کي کښلي دي :

مرهټو چي د فرخ آباد شاوخوا چور کړه احمدخان له فرخ آباده حسین پور ته ولاړ.

---

[۱۷] حسین پور له فرخ آباد څخه درې کروه لیري د ګنګا پر غاړه واقع ۇ.

د څلرمي خورپه درېيمه ورځ د روهيلكهند ۱۲ زره پوځونه د نواب سعدالله خان تر مشرتابه لاندې د ګنګا شرقي غاړي ته راورسېدل (د نواب سعدالله خان سره دغه پښتانه سرداران : بهادر خان، فتح خان خانه سامان او د سعدالله خان ورونه : محمدیار خان، الله یار خان او مرتضی خان ملګري وو). احمدخان چي د سعدالله خان په ورتګ خبر سو، محمودخان او منور خان یې مخي ته راوایستل، ۱۲ زره سپارویې د جمادی الآخر پر ۳مه د ګنګا د رود پر کینه غاړه خېمې ودرولې، احمدخان د نجابت خان اورکزي په لاس پخه ډوډۍ وروړه او ورته وې ویل چي راپوري وزه، مګر سعدالله خان د بهادر خان په خوله وکړه او تر جنګ دمخه یې بر لور ته د ورتګ خبره خوښه نه کړه، احمدخان حال ورته راولېږه :-

هغه ستا خوښه ده مګر دا احتیاط کوه چي د مرهټو تعقیب ونه کړې، دوی په دې چل دښمن لیري بیایي او بیا پر راګرځي.

سبا سعدالله خان، محمودخان او نور خان د حملې له پاره صفونه وتړل، د وزیر په امر کهانډی راو، ملهار راو، تانیشاګنګادهر له پنځوسو زرو سپرو سره ورپوري وتل. د سورج مل زوی جواهر سنګه او ګوالیار رانا مهیم سنګه له ۴۰ زرو سپرو سره ورپوري وتل او پر روهیلیو یې برید وکړ، پښتنو اول له توپو ګولۍ پر اورولې بیا یې نو توري وکښلې او پر غلیم یې راوځغستل. مرهټو تېښته وکړه، بهادرخان له دوو یا درو زرو ځوانانو سره د دښمن په پوځ پسې و، د دښمن پوځ د دوکې په ډول شاته ولاړ او پسله څه مزله څخه د بهادرخان پر سپاهیانو راوګرځېدل او له څلورو خواوو څخه یې راګیر کړل. په دغه وخت کي بهادر خان له پیله را تا سو او پر آس سپور سو، بهادر خان خورا توریالی ځوان و، توري یې کش کړلې او پر غلیمانو یې سخت برید وکړ، مګر مرهټیانو ګولۍ او غشي پر اورول. بهادرخان په ډېر شهامت ومړ او نور ځوانان هم زیاتره شهیدان سول. نواب احمد خان چي پر ګنګا باندي

د کښتيو پل جوړ کړی ؤ د ګنګا شرقي غاړي ته پوري ووت، د وزير صفدر جنګ او مرهټو پوځونه هم تر ګنګا پسي وريوزي وتل. که څه هم د احمدخان زوی محمود خان تر ګنګا د مرهټو د دفع کولو له پاره ډېر زيار ويوست (سير المتاء خرين ۳/۸۸۲مخ) مګر د ناسياله وزير او مرهټو د توپو تاب يې رانه وړ، دښمنانو د څلرمي خور پر دوهمه ورځ د کښتيو پل وتاړه.

د ۱۱٦۴ هـ ق کال د څلرمي خور په ۳ ورځ د سعدالله خان او دښمن د پوځو تر منځ يو سخت ميداني جنګ پيښ سو او ماته د پښتنو نصيب سوله* د سيرالمتاء خرين په قول ۱۰ _ ۱۲ زره پښتانه مړه، ټپيان او بنديان سول او ډېر مالونه يې د مرهټو په لاس ورغلل. وروسته له دغه لوی جنګ څخه پښتانه ورو ورو په قراولی جنګو د روهيلکهنډ د مرکز انولې خواته ځکېدل او د ناسياله وزير صفدر جنګ او مرهټو او جاټانو کفارو پوځونه په پسې وه.

د سلطان التواريخ مولف کښلي دي :له حسين پوره څخه تر انولې پوري چي پښتانه تر شا کېدل په دغه کي دوې مياشتي تېري سوې[۱۸].

د سيرالمتاخرين په ۸۸۲ مخ کې کښلي دي :-

حسين پور له درو خواوو څخه مرهټو او صفدر جنګ کلابند کړی و، يوه د رود خوا يې خلاصه وه، ازوغ له روهيلکهنډ څخه په کښتيو کي رارسېدی، وزير نورحسن بلګرامي ته امر وکړ چي پر ګنګا باندي د کښتيو پل وتړه او د څلرمي خور پر دوهمه پل وتاړه سو، له قنوجه څخه ۱۲ کروه رالوړ د سنګي رامپور په شاوخوا کي نواب احمد خان تر ښار دباندي خېمه ووهل او د برسات تر تېرولو وروسته يې پر رام ګنګا د کښتيو پل وتاړه (دا رود په روهيلکهنډ کي بهېږي او تر فرخ آباد ۴۰ميله کښته قنوج ته نږدې له شرقي خوا څخه په جمنا ګډېږي) او پر وزير او مرهټو باندي د حملې په فکر

* وګ : حديقة الاقاليم، ۱۷۵ مخ و سيرالمتاءخرين، ۸۸۱ مخ.
[۱۸] سلطان التواريخ ۱۳۸ مخ.

کي سو، وزیر چي خبر سو کهانډی راو ته یې یو درووند پوځ ورکړ له دې خوا احمدخان هم لښکر ور رهي کړ، دوندي خان سرلاښ و، په داسي ځای کي د کهانډی راو لښکر ته مخامخ سو چي له درو خواوو څخه د کهانډی راو پر پوځ باندي ګنګا رود راڅرخېدلی و او یوه خوا چي یې وچي ته وه هغه دونډي خان بنده کړه، کهانډی راو چي د تېښتي لاره بنده ولیدله احمدخان ته یې د دوستی پیغام ولېږی، احمدخان او حافظ رحمت خان ورغلل او کهانډی راو یې د دوندي له ګیره خلاص کړ او پښتانه پسي ورتېر سول او د سنګي رام پور پله ته ورسېدل، دا پل ځکه چي مرهټو وران کړی وو نو توپ جنګي شروع سوه او یوه هفته پښتنو دلته تېره کړه، تر ګنګا د پوري وتلو وسایل برابر نه سول او ازوغ یې هم خلاص سو. اخبارالصنادید ۲۳۰/۱ مخ.

روهیله سردارانو احمدخان ته وویل اوس دا مناسبه ښکاري چي سورجپور ګدر ته ولاړ سو (دا ګدر د قایم ګنج په سیمه کي واقع دی له فرخ آباده څخه شل میله او له سنګي رام پور څخه ۴۰ میله لیري دی) هلته به کښتی وموسو او پر ملهار راو باندي چي پوځ یې لږ دی برید وکړو، د دغه پله پر جوړولو به وخت نه تېروو، نواب احمدخان دا خبره خوښه کړل او مخ پر سورج پور رهي سول.

وزیر ته دا حال ورسېد او هغه د میدهی ګهاټ پر ګدر تر ګنګا پوري ووت د ۱۱٦۵ کال د محرمي په نهمه ورځ ملهار راو ته ځان ورساوه (دا ګدر تر فرخ آباد ۴۰ میله کښته د قنوج په سیمه کي واقع دی) او د ده په ورتګ د توپو شلیک وسو، دې خبري پښتانه وارخطا کړل، له دغه ځایه روهیلي او انولي پښتانه خاکي پور ته تر شا سوه (خاکي پور د مراد آباد په شمال کي ۳۰ میله لیري واقع دی) وزیر ګنګادهرتانیشا له ۳۰ زرو سپرو سره د دوی تعاقب ته وګماره او دا حال اپاسندهیا احمدخان ته ورکړ او د ... زیار شنډ سو.

د حیات حافظ رحمت خان په ٦٠ مخ کي کښلي دي:

صفدر جنګ چي فرخ آباد ونيو پر روهيلکهند باندي يې د بريد له پاره د ګنګا پر غاړه خېمې ووهلې، روهيلکهند ته چي راورسېدل پښتنو خپل کوچنيان او کډي کاسي پور ته استول شروع کړل، مګر وروسته معلومه سوه چي صفدر جنګ د برسات موسم په فرخ آباد کي تېروي ځکه نو پښتانه بيرته له کاسي پوره انولې ته راغلل.

چي برسات تېر سو مرهټو او صفدر جنګ تر ګنګا د پوري وتلو له پاره کښتۍ برابري کړې او دوه درې ځايه يې پلان وتړل، احمدخان او حافظ رحمت خان چي په خبر سول له هغو ٢٥ زرو مرهټو سره يې چي تر ګنګا راپوري وتلي وه، قراولي جنګ شروع کړ او د نورو مرهټه پوځونو مخه يې ونيول چي تر ګنګا نه سواى راپوري وتلاى، صفدر جنګ او مرهټو وغوښتل چي درې څلور کروه کښته تر ګنګا پوري وزي او پر بريلي او انولې باندي بريد وکړي، احمدخان او حافظ رحمت خان چي خبر سول د انولې و خوا ته وکوچېدل، صفدر جنګ او مرهټه چي په خبر سول تر رود پسي راپوري وتل او څلوېښت زره تنه ورسره وه د پښتنو تعقيب يې وکړ، څو پلا جنګ پېښ سو.

د وزير او مرهټو پوځونه چي انولې ته ورسېدل، پښتنو تر څو ورځو مدافعې وروسته خپلي کډي، کوچنيان، خزانې او جبه خانې کتيهل او "چلکيا" ته وخېژولې، د "چلکيا" کلا د کمايون پر غره باندي پنځه کروه له مځکي څخه لوړه په يوه ګڼ ځنګله کي واقع وه او د کمايون غر د همالیې په لړ کي د رامپور شمال شرقي لور ته پروت دی[١٩].

[١٩] د کمايون د غره په لمنو کي "نيني تال" او "الموړه" مشهور ښارونه دي، د بحر له سطحي څخه د لومړي ښار لوړوالی ٦٣٤٦ فوټه او د دوهم ښار لوړوالی ٥٥٠٠ فوټه دی.

د پښتنو پوځونه کرار کرار چلکیا تـه تـر شا کېـدل، د مرهټـو کفارو او ناسیاله وزیر پوځونه هم سم په پسې وو. مګر د اخبارالصنادید په ۱۴۹ مخ کې دوې میاشتې کښلي دي او د حیات حافظ رحمت خان په ٦١ مخ کې کښلي دي چې څلور میاشتې یې هلته پښتانه محاصره کړل او له شاوخوا څخه یې د ازوغ د ور رسولو لارې تړلي وې. د سلطان التواریخ په قـول د پښتنو له پوځو څخه ډېر کسان له لوږې مړه کېدل او د عماد السعادت په قول د صفدر جنګ د لښکرو څخه به خلکو غوښې د پښتنو سنګر ته وروړلې او یو سېر به یې په یوه اشرفۍ پښتنو ځنې رانیولې. ځکه نو د پښتنو سردارانو له صوبه دار ملهار راو هولکر سره چې د مرهټو مشر ؤ د روغې خبرې شروع کړلې، په دغه وخت کې لاهور ته د لوی احمدشاه بابا د لښکرو د روانېدلو یا ورنژدې کېدلو ازانګې هم د پښتنو د غلیمانو تر غوږ سولې، وزیر ته له ډهلي څخه خپل وکیل وکښل چې دلته حال راغلی دی چې احمدشاه بابا د پښتنو په مرسته پنجاب ته راروانېږي د غرو پښتنو ته یې هم خبر رالېږلی دی چې د اباسین پر غاړه زما انتظار وباسئ، د علي قلي خان د پاچا هم یو خط صفدر جنګ ته راغی چې احمدشاه راځي ته د احمدخان سره روغه وکړه، ځکه نو د ډهلي د دربار د ناسیاله وزیر له خوا هم د روغې پېشنهاد ومانه سو او په دې شرط روغه وسوله چې پښتانه به پنځوس لکه روپۍ د جنګ تاوان مرهټو (ملهارراو) ته ورکوي او د کاله به پنځه لکه روپۍ پاچاهي کلنګ مني[۲۰].

وایي: د روغې د خبرو په وخت کې یوه روځ صوبه دار ملهارراو هولکر د نواب احمد خان خېمې ته ورغی او پښتانه نواب ته یې وویل:-

"زه به د برمتې (یرغمل) په توګه ستا په خېمه کې کښېنم، ته ولاړ سه د

---

[۲۰] زین سنګه لکهنوی کښلي دي: پښتنو د روپو په زور د ملهاوراو هولکر پېرزوینه خپلي خواته واړوله او دا روغه د ده په ټینګار او اصرار وسوله.

ډهلي له وزير صفدر جنګ سره وګوره".
نواب احمد خان جواب ورکړ:-
"دا د کوچنيو هلکو خبري دي، صفدر جنګ په دنيا کي دوه دښمنان لري: يو پښتانه او بل مرهټه _ زه چي د ده په لاس کښېوتم، ما هرو مرو وژني او زما لښکر تا بې مرګه نه پرېږدي، پښتانه او مرهټه به دواړه بې سره سي، پخپلو منځو کي به سره ولوېږي او دی به د هري خوا په کمواکه کېدلو خوشحاليږي.
دا کار د هوښيارۍ نه دی، زه به خپل زوی محمودخان ستاسي لښکر ته درولېږم چي هلته له صفدر جنګ سره ووينـي او تـه خپل زوی کهانـډي راو* د يرغمل په توګه زما خېمې تـه راولېږه، هر وخت چي محمودخان خپل لښکر ته راستون سو، کهانډي راو به درخوشي کړو. زه پوهېږم چي د صفدر جنګ د زړه خروښ د محمودخان په وژلو نه سړېږي او دې کار ته زړه نه ښه کوي".
صوبه دار ملهار راو هولکر د نواب احمدخان خبره ومنله، محمودخان بنګښ د دښمن پوځ ته ولاړ هلته يې له صفدر جنګ سره وليدل او تر څو چي دی د دښمنانو له پوځه راتښتېدئ د ملهار راو هولکر زوی کهانـډي راو د پښتنو په پوځ کي د برمتې په توګه ناست ؤ.
آزاد بلګرامی په خزانه عامره کي کښلي دي :-
په دې جنګ کي د پښتنو د مړو، ټپيانو او بنديانو شمېر لسو زرو تنو تـه رسېدی، مګر په حيات حافظ رحمت خان کي کښلي دي چي پـه دې جنګ کي لس زره تنه پښتانه شهيدان سول او په سيرالمتاءخرين ص۸۸۲/۳ مخ کي يې يوازي د څلرمي خور د درېيمي ورځي پـه جنګ کي د مړو،

* _ د قاموس المشاهير پـه لومړي ټوک ۱۱٦ مخ کي کښلي دي: کهانـډي راو پـه ۱۷۵۴ ع کال (۱۱٦۸ هـ ق) په ډيک کي د سورج مل جاټ له لاسه وواژه سو.

ټپيانو او بنديانو شمېر لس دوولس زره ښوولی او د وزير پوځو د روهيل کهنه ټولي سيمي تالا ترغه کړلې.

په عمادالسعادت کي کښلي دي :- په دغو جنګو کي د پښتنو له لوټه څخه مرهټو ته دوه کروه روپۍ په لاس ورغلې.

د اخبارالصناديد په ۲۵۲/۱ مخ کي کښلي دي :

د دې جنګ په وخت کي يوه ورځ اندرګوشايس له (۱۵۰۰۰) سپرو سره د احمد خان پر توپخانه باندي بريد وکړ او د دې له پاره چي پښتانه خطا باسي پخوا تر هغه مغولو د محبت خان پر مورچه بريد کړی و.

پښتانه پر راوغورځېدل، د اشو سردار ومړ او لښکر يې ماته وکړه، پښتانه د وزير تر لښکره په پسې وه او د وزير د توپ ګاډيو ته يې اور واچاوه او له ډېرو الجو سره بيرته راشاته سول، سورج مل چي دا خبر واورېد پر پيل سپور سو او کاسي پور ته وتښتېد، جي اپا او ملهار پسي ولاړل له کاسي پوره يې راوګرځاوه او خپل ځای ته يې راوست. علي قلي خان ته يې وويل که زما لخوا د روغي پيشنهاد وسي دا به تول عمر زما بدنامي وي، علي قلي خان ورته وويل زما او د احمدخان تر منځ له پخوا څخه دوستي ده، زه به د ده ليدلو ته ورسم او دی به روغي ته راوبولم. علي قلي خان يو خط احمد خان ته ورولېږه او احمدخان هم ور وغوښت ... د علي قلي خان په واسطه دي نه بلکي د مرهټو په واسطه دي دا روغه وسي، علي قلي راغی او ورته وې ويل کهانډي راو يې د محمودخان او حافظ رحمت خان د بېولو له پاره ورسره کړ، چي د مرهټو لښکر ته ورسېدل، اپا، ملهار او تانيشا يې مخي ته راووتل. خېمې ته يې بوتلل او سوغاتونه يې ورته کښېښوول، وزير سالار جنګ او علي قلي خان د دوی راوستلو ته ولېږل، د وزير سره يې وليدل، خاصه خېمه يې ورکړه، د ... ښی اړخ ته، او په نيمه شپه کي يو زر عسکر پر خېمه راوګرځېدل، د محمودخان او حافظ رحمت خان ملګرو ژر دوی خبر کړل،

کهانډی راو چې خبر سو د پلار بې اجازې او اطلاع د وزیر لښکر تـه ولاړ او هلته یې ... د خپې پر شاوخوا د کهانډی راو په امر پر هغو عسکرو برید وکـړ او هغه یې تیت و پرک کړل، دننه چې ورغلل محمودخان او حافظ رحمت خان توري په لاس ولاړ وه، د شپې یې دوی راوایستل او تر غـره پـوري یـې ورسول. بیا نو راغی پلار تې تکل وکړ.

مرهټه چې د احمدشاه بابا په راتګ خبر سول وزیر ته ورغلل او هغه ته یې سختي خبري وکړلې او ویې ویل اوس نو توره پـه تیکـي کـي کـړه او د روغې خبري شروع کړه، علي قلي خان پښتنو ته ورواستوه چـي ... وزیـر لـه جنګه لاس اخیستی دی، روغه غواړي، تاسي هم باید روغه وکړئ، د احمـد خان ټوله ملک بیرته درکول کېږي په دې شرط چې ۳۰ لکه روپۍ به نذرانـه منئ او تر څو چې یـې دغـه نذرانـه نـه وي ادا کـړې نـیم ملک بـه یـې پـه ضمانت کي وي، وزیر دا شرایط ومنل.

علي قلي خان د وزیر لخوا، تانیشاګنګادهر د مرهټو له خوا احمـدخان ته ولېږل سول، د مرهټو مشـرانو ګنګـادهر تـه پـټ دا پیغـام هـم ورکـړ چـي احمدخان ته ووایه روغه ومنه، او احمـدخان د مـلا سـردار او نـورو روهیلـه سردارانو په مشوره د مرهټو په تضمین د روغې شرایط ومنل.

دا روغه محمود خان او حافظ رحمت خان د پښتنو لخوا لاسلیک کړه. حافظ رحمت او محمود خان له خپلو څلورو سوو ځوانانو سره د وزیر دربـار ته ورغلل او وزیر چي لکهنو ته تی دوی ... مرهانه ورسره ملګري وه، وزیر پـه مرهان کي محمود خان ته ... خلات او حافظ رحمت خـان تـه هـم خـلات ورکړ او رخصت یې کړل.

محمود خان اوتانشیا فرخ آباد لور ته او حافظ رحمت خـان انـولې تـه ولاړ، مرهټه قنوج ته ولاړل او ګنګادهر لـه لسـو زرو مرهټـو سـره د محمـود خان د ساتني له پاره د وزیر له پوځه سره تی.

په دغه وخت کي وزير د فرخ آباد د رياست د نيمي سيمي خط تانشيا ته ورکړ چي د نذرانهٔ شاهی تر ادا پوري د مرهټو په لاس کي وي.

پښتانه شاعر کاظم خان شيدا (۱۱۹۴ ه ق مړ) چي په دغه وخت په روهيل کهنډ کي اوسېد، د پښتنو د دغو مصيبتونو تاريخ "عظيم فساد" موندلی دی چي د جمل (ابجد) په حساب ۱۱٦۵ څني راوزي، د ده دغه تاريخي قطعه دا ده:-

پښتانه د "کټه هېر" متزلزل دي[۲۱]<br>
که هر څو وو لکه غر قوي بنياد<br>
چي برکي او ايراني په يوه ځای سول[۲۲]<br>
منتشر يې په ديار کي شو بيداد<br>
وتاريخ ته يې حيران د واقعات وم<br>
راته وويل خپل رای "عظيم فساد" [۲۳]<br>
۱۱٦۵

---

[۲۱] د روهيل کهنډ پخوانی نوم "کټه هېر" و.

[۲۲] برکی Barki مرهټو ته ويل کېده، عنايت خان اشنا په ملخص کي کښلي دي: "جمعی از مردم خوش اسپه خود را بقزاقی که شيوهٔ دکنيان است و باصطلاح آن ملک برکي گري گويند فرستادند".

دغه کلمه په تزک جهانګيري کي هم راغلې ده، هلته کښلي دي: "آن مقهوران بقزاقی و برکی گری پرداختند."

[۲۳] د کاظم خان شيدا ديوان ۲۱۵ مخ د کابل چاپ. دا چي د تېمورشاه دراني د دوهم ټوک په ۴۴۸ مخ کي عزيزالدين پوپلزي کښلي دي: "ولايت فرخ آباد از سال فتح کشمير ۱۱٦۵ هـ ق بدست تصرف سلطنت درانی آمد و اولين مسکوکات نقره ئی احمدشاه از سال ۱۱٦٦ در ولايات مذکور در قلعه فرخ آباد توسط عبدالله خان پوپلزی (؟) رائج گرديد". د غور وړ خبره ده ځکه چي تر ۱۱٦۷ ه ق کال دمخه نه احمدشاه بابا تر سرهند ورتېر سوی دی او نه يې پوځونه، نو څنګه کېدای سي چي فرخ آباد چي د ډهلي شرق ته واقع دی تر احمدشاهي سلطې لاندي راسي او د عزيزالدين نيکه هلته سکه جاري کړي.

تر دغي روغي وروسته چي د مرهټو کفارو او ناسياله وزير ګډ پوځونـه د چلکيا له شاوخوا څخه وخوځېدل، پښتانه هم سمي ته راشوه سـول، انـولې ته راغلل، او د روهيل کهنډ پښتانه هلته پاته سول او نواب احمد خـان فـرخ آباد ته ولاړ.

زين سنګه لکهنوی په سلطان التواريخ کي کښلي دي :-

"د دغي روغي له مخي نواب احمد خان ته هغه شپاړس ځايـه ورپاتـه سول چي د جمنا او ګنګا د سيندونو تر منځ واقع وو."[٢٤] او د حديقة الاقـاليم په ۱۷۵ مخ کي کښلي دي :-

تر روغي وروسته ناسياله وزير صفدر جنګ د نواب احمد خـان تـر لاس لاندي مځکي نيمی نواب احمد خان ته ورپرېښوولي او نيمي نـوري يـې د دکن کفارو (مرهټو) ته ورکړلې.

په سير المتاءخرين کي ليکلي دي : هغه مځکي چـي د دغـه خـدمت په بدله کي وزير مرهټو ته ورکړلې هغـه جاليسر، کـول، مئـو د فـرخ آبـاد تـر سرحده پوري وې، مګر په ۹۳۹ مخ کې کښلي دي چـي کـاس ګـنج ـ دريـا ګنج او هلديا ګنج د صفدر جنګ له خوا مرهټو ته ورکړل سـوې، او پـه ۸۸۲ مخ کې کښلي دي فرخ آباد او د هغه پـه شـاوخوا کـي د شپاړسـو لکـو روپـو جايدادونه د محمدخان کورنۍ ته ورکړل سوه او څه برخه يې د مـالګزارۍ په شکل ورکړل سوه، د فرخ آباد د رياست ځيني ځايونه وزيـر ضـبط کـړه او ځيني يې مرهټو ته وروبخښل.

## د جهل د دربار دوستي :-

د نواب محمد خان د کور ورانوونکی ناسياله وزير صفدر جنګ تـرکمن

---

[٢٤] وګ : سلطان التواريخ، ۱۳۸ مخ.

نور د نواب احمدخان د لا ځپلو فرصت ونه موند، ځکه چي په ۱۱٦٦ هـ ق کال د ده او د ډهلي د پاچا احمدشاه مغل (۱۱٦۱ _ ۱۱٦۷ ه ق) تر منځ په ډهلي کي جنګونه پېښ سول، د توپخانې مشرتوب او وزارت ځني واخيسته سو او له ډهلي څخه د خپل جاګير (اوده) سيمي ته په تللو مجبور کړه سو او په ۱۱٦۷ ه ق کال يې په اوده کي خوله پټه سوه او د نواب احمد خان اړخ مځکي ته ورغی.

۱۱٦۷ هـ ق کال د ډهلي د دربار په سياسي او اداري وضعه کي ډېر تغير راوست پاچا (احمدشاه مغل) له پاچهۍ ايسته کړه سو او پر ځای يې يو بل مغل شهزاده (عزيزالدين) د دوهم عالمګير په نامه پر تخت کښېنول سو[۲۵] معزول وزير د نواب محمد خان د کورنۍ دښمن صفدر جنګ مړ سو، تر صفدر جنګ وروسته د ډهلي په دربار کي مقرره سوی وزير انتظام الدوله[۲٦] معزول او ځای يې غازي الدين عمادالملک ونيو.

دا تغيرات د نواب احمد خان په سياسي، اداري او اقتصادي وضعه کي بې اغېزې نه وو، د ډهلي د دربار نوی وزير غازي الدين عمادالملک سهروردی (۱۲۱۵ ه ق مړ) غوښتل چي د خپل رقيبانو پر ضد ډېر قومونه د ځان مله کړي، ځکه يې نو نواب احمد خان ته چي د صفدر جنګ له سرسختو دښمنانو څخه و د دوستۍ لاس وروغزاوه نواب احمد خان هم د دوستۍ دغه بلنه ومنله او په دې توګه يې د ډهلي د دربار له دښمنۍ څخه ځان بېغمه کړ.

---

[۲۵] دوهم عالمګير (۱۱٦۷ _ ۱۱۷۳ هـ ق) د معزالدين جهاندارشاه (۱۱۲۴ _ ۱۱۲۴ هـ ق) زوی د شاه عالم بهادرشاه (۱۱۱۹ _ ۱۱۲۴ هـ ق) لمسی او د لومړي عالمګير اورنګزېب (۱۰٦۸ _ ۱۱۱۸ ه ق) کړوسی وُ.

[۲٦] انتظام الدوله وزير د وزير الممالک قمرالدين خان (۱۱٦۱ ه ق مړ) زوی وُ.

## د اوده په حمله کي ګډون :-

درې کاله وروسته د ۱۱۷۰ هـ ق کال د دربیمي خور په اوومه ورځ ستر تولواک لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰ _ ۱۱۸۶ هـ ق) له خپلو لښکرو سره ډهلي ته ورسېد، د ډهلي مغل پاچا دوهم عالمګیر (۱۱۶۲ _ ۱۱۷۳ هـ ق) یې ښه راغلې ته له ښاره ورووت او د لوی احمدشاه بابا له خوا د ډهلي پاچهي بیرته ورکړه سوه مګر د ده ناسیاله وزیر غازي الدین عمادالملک سهروردي (چي د کندهار د دربار د نائب الحکومه څخه د لاهور په نیولو ګنهګار ؤ) لرې و تراټه سو.

ډاکټر ګنډاسنګه د "دراني احمدشاه" په ۲۳۲ مخ کي د غلام حسین ثمین د "حالات احمدشاه درانی در هندوستان" په حواله لیکلي دي :-

"د ۱۱۷۰ هـ ق (۱۷۵۷ع) کال د فبروري پر ۲۵ مه شاد (لوی احمدشاه بابا) له خضرآباد څخه وخوځېد او په بدرپور کي تم سو. بل سهار شاه فریدآباد ته حرکت وکړ، چي دا ځای د بالابهګر (بلب ګړه) په شمالي شپږ میلی کي پروت دی. په لومړي سر کي شاه دا تصمیم نه درلود چي بالابهګړ ونیسي خو کله چي په هماغه ورځ محمدزي عبدالصمدخان د جټانو پر خلاف د عملیاتو څخه راستون سو، نو ده ته خبر ورکړل سو چي جواهر سنګه له لومي څخه خلاص سوی او بلابهګړ ته تښتېدلی دی. په دې اساس شاه د دې چونی د ژر نیولو تصمیم ونیو.

کله چي لوی احمدشاه بابا د ډهلي د پاچا دوهم عالمګیر په غوښتنه خپلي لښکري د بهرتپور د راجا سورج مل جاټ د ځبلو په نیامت د متهرا او اګرې (اکبر آباد) لور ته وخوځولې، ترڅلي عمادالملک غازي الدین د صفدرجنګ له زوی شجاع الدوله (۱۱۶۷ _ ۱۱۸۸ هـ ق) څخه د مالیې د حاصلولو په پلمه له خپلو لښکرو سره له ډهلي څخه د اوده په نیامت روان سو او یو مغل شهزاده (هدایت بخش) یې هم د ځان مل کړ، کله چي فرخ

آباد ته ورسېد نواب احمد خان يې هم مل سو، په ګډه د اوده لور ته وخوځېدل مګر د نواب احمد خان زړه په جنګ سوړ نه سو او د روهيل کهنډ د شپاړس کلن نواب سعدالله خان روهيله په منځګړيتوب د ډهلي د ترټلي وزير عمادالملک غازي الدين او د اوده د نائب الحکومه شجاع الدوله تر منځ روغه وسوه.

عمادالملک او نواب احمد خان د ۱۱۷۰ ه ق کال د کوچني اختر د مياشتي په اوومه ورځ بيرته فرخ آباد ته راستانه سول او عماد الملک تر څو چي پر ډهلي باندي د مرهټو په مرسته بريد کاوه له نواب احمد خان سره په فرخ آباد کي پاته سو او د ډهلي په بريد کي يې نواب احمد خان هم د ځان مل کړ.

## د غالب جنګ خطاب :-

د دې بريد تفصيل نورالدين حسين خان فخري (چي د عمادالملک له مقربو درباريانو څخه ؤ) په "حالات نواب نجيب الدوله" نومي کتاب کي داسي کښلی دی:

د ۱۱۷۰ ه ق کال د رجب په مياشت کي لوی احمدشاه بابا خپل پوځونه د کندهار په نيامت له ډهلي څخه وخوځول، د تګ په وخت کي يې د ډهلي د دربار اميرالامرايي (سپهسالاري) ميربخشي توب او مختاري درانه پښتانه نجيب الدوله نواب نجيب خان عمرخېل (۱۱۸۴ هـ ق مړ) ته ورکړله، دا خبره د ډهلي د دربار پر ترټلي وزير عمادالملک غازي الدين سهروردي درنه پرېوتله، د مرهټو کفارو سرداران صوبه دار ملهار راو هولکر، شمشېر بهادر، نارو شينګر (د جهانسي حاکم) او بابو پټيل راو او رګهناته يې د نجيب الدوله نجيب خان پر ضد خپلي مرستي ته راوبلل او د ۱۱۷۱ هـ ق کال په اوايلو کي يې د هغو په مرسته پر ډهلي بريد وکړ.

عمادالملک چي کوم وخت له فرخ آباد څخه د ډهلي په نيامت روانېدی، نواب احمد خان بنگښ يې هم د ځان ملگری کړ، تر پنځه ويشو ورځو کلابندۍ وروسته چي نجيب الدوله نجيب خان عمرخېل له ډهلي څخه په روغه راووت، د دوهم عالمگير له خوا د ډهلي د دربار، وزارت عمادالملک غازي الدين ته او د ميربخشي منصب او د غالب جنگ خطاب نواب احمد خان ته ورکړ سو[٢٧].

مگر په تنقيح الاخبار کې کښلي دي :-

نواب احمد خان بنگښ ته د دوهم عالمگير له خوا د شيرهند، امير الامراء، بخشي الممالک غضنفرالدوله احمدخان بهادر غالب جنگ خطابات ورکړه سول[٢٨].

د دغو خطابونو تر حاصلولو وروسته غالب جنگ نواب احمد خان بيرته فرخ آباد ته ولاړ او ډهلي يواځي عمادالملک غازي الدين ته پاته سو.

د سيرالمتاخرين په ۹۰۴ مخ کي کښلي دي :-

"عمادالملک و احمد بنگښ که اميرالامراء مقرر شده بود به اتفاق تمنيم رافق و مأمن مهمات سلطنت گشتند".

## د پاني پت په غزا کي د نواب احمد خان برخه :-

۱۱۷۳ _ ۱۱۷۴ هـ ق کلونه د هندوستان په تاريخ کي د واقعاتو د اهميت له مخي يو خاص ځای لري، ځکه هغه يرغلگر مرهټه کفار (چي د

---

[٢٧] حالات نواب نجيب الدوله، ۷ مخ، د مجموعه نغز په مقدمه کې کښلي دي چي د امير الامرايي لقب غازي الدين له نجيب الدوله څخه واخيست او احمدخان بنگښ ته يې ورکړ.

[٢٨] د وقايع عالمشاهي د تعليقاتو برخه، ۱۵۹ مخ، د تنقيح الاخبار د ۲ ټوک د ۴۹۸ مخ په حواله.

ډاکټر اظهر علي په قول به هر کال تر پشکال (برسات) وروسته لکه ژړی تبي له دکنه پر شمالي هندوستان رابهېدل، ملکونه به يې لوټل، کلنګونه به يې تولول، کښتونه به يې خرابول، ودانۍ به يې سوځلې، کلاوي به يې نړولې، مسلمانان به يې وژل او د دوی لوټي او زامن به يې د مينځيانو او مريانو په توګه له ځانو سره دکن ته بېول) په دغو دوو کلونو کي د لوی احمدشاه بابا د لښکرو په مقابل کي سختي ماتي ته مجبور سول، او د "پاني پت" لويه سوبه چي پښتانه يې بايد پخپل تاريخ کي په زرينو تورو وليکي د غازي ستر تولواک لوی احمدشاه بابا او د ده د لښکرو په برخه سوه.

## د دې غزا سببونه دا وو :-

د ۱۱۷۱ هـ ق کال د برات په لومړی ورځ د لاهور افغاني نائب السلطنه شهزاده تېمور سدوزی (۱۱۸٦ - ۱۲۰۷ هـ) او د هغه مدارالمهام سردار جانخان پوپلزی مرهټو کفارو د لاهوره پسي اخيستي او د دغه کال په (...) يې تر اټک تېر کړي وو، په ۱۱۷۱ هـ ق کال نجيب الدوله نجيب خان (چي د لوی احمدشاه بابا په حکم د ډهلي اميرالامراء مقرره سوی و) مرهټو کفارو له ډهلي ايستلی او په ۱۱۷۲ هـ ق کال يې د سکرتال په کلا کي (چي د هردوار جنوب ته د ګنګا پر غاړه واقع ده) شپږ مياشتي داسي کلابند کړئ و چي کلابند پښتانه له لوږي مرګ ته رسېدلي وو او نږدې ؤ چي کفارو ته ځانونه تسليم کړي[۲۹] په روهيل کهنډ کي يو زرو درې سوه کلي د مرهټو پوځو سوځلي وو.

د مرهټو کفارو دوست د ډهلي ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين د ۱۱۷۳ هـ ق کال د دوهمي خور پر اتمه د ډهلي پاچا دوهم عالمګير (چي د شهزاده تېمور سدوزي خسر او د لوی احمدشاه بابا د مايني تربور کېدی)

---

[۲۹] په ځينو آثارو کي د دغي کلابندۍ موده څلور نيمي مياشتي کښلې ده.

له انتظام الدوله سره (چي تر عمادالملک غازي الدين دمخه د دهلـي وزيـر و)· وژلی و·

له سکرتاله څخه د نجيـب الدولـه نجيـب خـان (۱۱۸۴ هـ ق مړ)، لـه روهيلکهنډ څخه د حافظ الملکؒ حافظ رحمت خـان (۱۱۸۸ هـ ق مړ)، لـه ډهلي څخه د مشهور ستانه شاه ولـي الله دهلـوي (۱۱۷٦ هـ ق مړ) او لـه ښکارپوره څخه د ميافقيرالله (۱۱۹۵ ه ق مړ) خطونـه او حالونـه يـو پـه بـل پسې لوی احمدشاه بابا ته ورتلل چي د هندوستان د مسلمانانو سترگي تاتـه دي که ته په دې خطرناکه موقع کـي د دوی پـه داد نـه رسېږې دوی تبـاه کيږي او ستا له پاره به لويه بدنامي پاته سي[۳۰].

د سيرالمتأخرين په ۷۰۵/۲ مخ او د حديقة الاقاليم پـه ۱۳۷ مـخ کـي کښلي دي :-

چي نواب احمد خان بنگښ هم لوی احمدشاه بابا ته د هندوستان د راتللو بلنه ورکړې وه، مگر پـه بـل ځـای کـي مـا دا خبـره نـه ده ليـدلې، د حديقة الاقاليم په ۱۷۵ مخ کي هم دا خبره تکرار سوېده.

هغه و چي د ۱۱۷۳ ه ق کال د صفري په مياشت کـي لـوی احمدشـاه بابا له خپلو لښکرو سره ځان لاهور ته ورساوه، د دغه کال د درېيمي خور پـه ځلرمه ورځ د تراوړي په ډاگ کي[۳۱] د ځلرمي خور پـه شـلمه د ريـواړي پـه ډاگ کي[۳۲] د رجب په مياشت کي په سکندره کي مرهټو سخت شکستونه وخوړل ډتاپټېل ومړ، ملهار،جگنو، تاتيا دکن ته وتښتېدل،لوی احمدشاه بابا

---

[۳۰] وگ : شاه ولی الله اور ان کی سياسی تحريک ۱۷۷ مخ، د مولانا عبيدالله سندهی تاليف. د لاهور چاپ ۱۹۴۵، حالات نواب نجيب الدوله، ۹ مخ.

[۳۱] تراوړي د کرنـال پـه شـمالي او د امبـالې پـه جنوب کي د جمنـا سيند غربـي خواتـه واقعه ده.

[۳۲] "ريواړي" له ډهلي څخه شل کروه ليري جنوب غربي خواته واقعه ده.

د ډهلي تر نيولو وروسته د علي ګړه کلا هم د سورج مل جاټ له حاکم درجن سال څخه ونيوله او د پشکال (برسات) د تېرولو له پاره يې په انوپ شهر کي واړول[۳۳].

د ۱۱۷۳ هـ ق کال د لوی اختر د مياشتي په څلرمه ورځ چي لوی احمدشاه بابا له خپلو لښکرو سره په انوپ شهر کي اړولي و، نواب احمد خان غالب جنګ بخشي الممالک له خپل پوځ سره ورغی، د لوی احمدشاه بابا په حضور مشرف سو او لوی احمدشاه بابا ډېر ونازاوه[۳۴].

## د لوی احمدشاه بابا حضور ته د نواب احمد خان بنګښ ورتلل:-

د احمدشاه دراني په ۳۱٦ مخ کي ليکلي دي، د عهد بنګښ په ۱۳۰ مخ کي کښلي دي، نواب احمد خان غالب جنګ چي د احمدشاه بابا لښکر ته ورغی د وزير شاه ولي خان او جنګباز خان ملک ميري په واسطه د لوی احمدشاه بابا په حضور مشرف سو په دغه وخت کي جنګباز خان د بنګښو د لښکر مشر و. ګنډاسنګه په احمدشاهي دراني (۳۱٦ مخ) کي د لوی احمدشاه بابا دربار ته د احمدخان د ورتګ پېښه په ډېر تفصيل راوړې ده.

---

[۳۳] د علي ګړه پخواني نوم کول دی، ثابت خان چي دغه پسي ودانه کړه ثابت ګړه يې ونومه، سورج مل چي دغه سيمه ونيوله د "رام ګړه" نوم يې پر کښېښود، په ( هـ ق) کال چي ذوالفقارالدوله نجف خان دغه کلا ونيوله، علي ګړه نوم يې پر کښېښود او اوس په دغه نامه جهاني شهرت لري ځکه چي په دغه ښار کي د هندوستان يو مشهور پوهنتون واقع دی.

[۳۴] په اخبار الصناديد کي کښلي دي :- لوی احمدشاه بابا چي په "کول" کي اړولي وه نواب احمد خان ورغی، مګر په سير المتاءخرين ۹۱۰ مخ کي د احمدخان ورتګ د احمدشاه بابا حضور ته ... کال کښلی دی چي دا غلطي ده،تر جمادی الآخر ۱۱۷۳ دمخه پېښه ده.

په دغه روځ د صفدر جنګ زوی شجاع الدوله داودهـ والي هم له خپلو لښکرو سره انوپ شهر[۳۵] ته ورغی او د لوی احمدشاه بابا په حضور مشرف سو.

په تاریخ فرخ آباد کي کښلي دي :-

نواب احمد خان غالب جنګ چي د پاني پت د غزا له پاره د لوی احمدشاه بابا ملګری کېدی پنځه زره سپاره او یوه توپخانه ورسره وه.

سعادت یار خان بړیځي[۳۶] په ګل رحمت کي د دغه پوځ شمېر شپږ زره لیکلی دی او نورالدین حسین خان فخري په احوال نواب نجیب الدوله کي کښلي دي چي تر شپږو زرو زیات نه ؤ.

نواب احمد خان غالب جنګ د لوی احمدشاه بابا په رکاب کي د ۱۱۷۴ هـ ق کال د لومړۍ خور پر اتلسمه تر طغیاني جمنا پوري ووت او د لومړۍ خور په دوه ویشتمه ورځ د پاني پت مشهور ډاګ ته ورسېد، قراولي جنګونه شروع سول په دغه لړ کي یوه شپه مرهټو د نواب احمدخان پر پوځ باندي د شبخون هڅه وکړله، د نواب په لښکر کي د توپخانې موظف پهره داران ویښ وو، ځنګه چي یې د مرهټو د آسو ښکالو تر غوږ سوه، دستي یې توپونه پر وچلول او د مرهټو پوځ یې تر شا تګ ته مجبوره کړ.

د ۱۱۷۴ هـ ق کال د څلرمي خور په اوومه ورځ (٦ جنوري ۱۷٦۱) چي د پاني پت د تاریخي غزا تر ټولو مهمه او وروستۍ ورځ وه او د دوو مخاصمو لښکرو سرنوشت پکښي ټاکل کېده، نواب احمد خان د خپلو لښکرو سره د لوی احمدشاه بابا په حکم د غازیانو د پوځونو په ښي غوړي کي ځای

---

[۳۵] انوپ شهر د روهیلکهند او فرخ آباد په منځ کي واقع و. (ضمیمه عمادالسعادت ـ ۱۷۹ مخ).

[۳۶] سعادت یارخان د حافظ محمد یارخان زوی او د حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیځي لمسی ؤ.

نیولی و، د عهد بنګښ په ۱۳۱ مخ کي لیکلي دي : نواب احمدخان په ساقه کي و، او د روهیلکهنډ د پښتنو سردارانو : حافظ رحمت خان بړیڅي، دوندي خان بړیڅي، فیض الله خان روهیله پوځونه هم د ده شاوخوا ته ولاړ وو[۳۷] د احمدشاهي شهنامې ناظم حافظ مرغزي ویلي دي :-

که بنګښ و احمدخان
ښه مضبوط ؤ په دا شان
که څه پوځ و د دوندیا
چي نامي و په دنیا
د پادشاه و دا فرمان :
"تاسي واړه په میدان
و دې لور ته شئ روان
چي نامي شئ پر جهان
په دا ځای شئ استوار
په دا جنګ اوسئ تیار"
په یمین شو مقرر
هغه و د میدان سر
تمام پوځ شو په میدان
دچاګوی شي په چوګان؟[۳۸]

د نواب احمد خان بنګښ او د روهیل کهنډ د سردارانو په مقابل کي د مرهټو د سپهسالار سداشیوبهاو په حکم د مرهټو مرستیال د غازیانو وژونکی مسلمان جرنیل ابراهیم کاردي له خپل خونخور لښکره سره ځای

---

[۳۷] وګ : حالات نجیب الدوله، ۲۶ مخ.

[۳۸] احمدشاهي شهنامه ۱۶۸ مخ د پېښور چاپ (د ۱۱۷٦ هـ ق کال تالیف) . د دې شهنامې ناظم د هغه مرغز اوسېدونکی ؤ چي د پېښور شمال شرقي لور ته واقع دئ.

نیولی ؤ، نوموړي حافظ مرغزي په احمدشاهي شهنامه کي ویلي دي:-

ده هم پوځ که خپل تیار
مناسب چي و د کار
تمام پوځ یې کړ تقسیم
په خواصو د تنجیم
..............................
..............................
چي "بسواس" دی عالي شان
بهادر دی د میدان
قرابین یې توپخانه
ده په لاس د مردانه
"ابراهیم" غوندي ځوانان
تصدق لري خپل ځان
د جنګ تل که اجاره
خپل دښمن که بېچاره
فرنګي ځوانان یې ډېر
همېشه په جنګ دلېر
تمامي دي په سامان
و "حافظ" ته شي روان
له "فیض الله" دي وکا جنګ
چي مشهور شي پر فرنګ
د "بنګښ" دی پوځ اسیر که
په دې جنګ دي ځان قجیر که
ښه دي جنګ که په میدان
چي پرې اور شي هندوستان[۳۹]

---

[۳۹] وګ : احمدشاهي شهنامه، ۱۷۱ مخ.

د حالات نواب نجيب الدوله په ۲٦ مخ کي کښلي دي :-

د دوندي خان بړېڅي پوځ د نواب احمد خان بنګښ د پوځ مخ ته ولاړ و،د ابراهيم کاردي لښکرو چي پر غازيانو لومړۍ حمله وکړله، په دې حمله کي د دوندي خان د پوځ ډېر ځوانان شهيدان سول او د حملې له زوره د دغه پوځ غازيان تر شا کېدلو ته مجبور سول او د نواب احمد خان بنګښ غالب جنګ په پوځ (چي تر شا يې ولاړ و) ننوتل احمدخان غالب جنګ استقامت او ټينګار له لاسه ورنکړ او هر څونه زور چي پر راغی له خپله ځايه ونه ...ړېد حالات نواب نجيب الدوله زياته کړېده :-

د دوندي خان بړېڅي پوځ چي تر شا سو، د نواب احمد خان په پوځ ننوت، نواب احمد خان غالب جنګ بدورد ورته شروع کړل او دستي يې مشرف خان د غازي ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا حضور ته د مرستي له پاره ولېږه.

خو لوی احمدشاه بابا ته دا حال دمخه رسېدلی و او دا هم ورمعلومه سوې وه چي د حافظ رحمت خان بړېڅي د زوی توريالي عنايت خان (... هـ ق مړ) پر پوځ باندي د ابراهيم کاردي پوځو بده ورځ جوړه کړېده، ځکه يې نو يو ټکړه پوځ د حاجي عطايي خان باميزي په مشري د نوموړي عنايت خان بړېڅي مرستي ته لېږلی ؤ او نواب احمد خان غالب جنګ يې هم وګماره چي له خپله پوځه سره د توريالي عنايت خان په مرسته ورسي.

نواب احمد خان ته چي دغه حکم وررورسېد د عنايت خان مرستي ته د ميدان پر لور وروخوځېد او په ګډه يې د ابراهيم خان کاردي پر پوځ باندي يوه سخته جوابي حمله وکړله، ابراهيم کاردي په دغه حمله کي د غازيانو له لاسه زخمي سو، مګر مرهټي سپهسالار (سداشيوبهاو) چي د ابراهيم کاردي د پوځ پله سپکه وليدله دستي يې (د يسباس په مشري) يو ټکړه پوځ په مرسته ورته راولېږه او په دغه وخت کي پر دغه ځای خورا

خونړی جنګ وسو.

حافظ مرغزی په احمدشاهي شهنامه کي د دغه صحنې په باب کښلي دي :-

د "حافظ" سو پوځ روان
و دې جنګ ته په میدان
د "بنګښ" چي و لښکر
آراسته په تېر تبر
د فیض الله، دوند یاخان
پوځ روان شو په دا شان
په مخ راغی براهیم خان
په میدان شو دست ګرېوان
د ژلۍ په دود تفنګ شه
د باران په دود خدنګ شه
... شمشېر خنجر په لاس
نه چا خر پرېښوو نه آس
نه چا سپور پرېښوو نه پلی
په میدان بې جوړ که ځلی[۴۰]
طرفین شول په تفنګ
تمام ملک په دود شو زنګ
درست میدان شو یو آواز
په هیبت د غم ګداز
تمام ګرد شو نمودار
جوړ سحاب شو د بهار

---

[۴۰] په چاپي نسخه کي د دغه بیت د قافیې کلمې "پای" او "ځای" کښلي دي (؟)

پکښې تــوري د ۰
لــکه برق وې د اســمان
خــوزېدې به په مــيدان
پرې عــالم شو خون فشان
په بل لــوري دا "بسباس"
تيارو ســـلاح په لاس
په دوی راغی لــکه شــېر
په دا جــنگ له ســره تېر
عــجب راغــی په دا زور
درست مــيدان شو سره تور
په مــيدان شو جنگ آغاز
په اســمان يې شــو آواز
په لــړزه زمــين زمان شو
ســياه دود په دا جـهان شو
دې غــازيانو وکـه غگ [41]
ســتاسي نه شي بيرته تگ
جنــگ د کــفر د اســلام
په دا ننــگ شئ اوس تمــام
ســر فدا کړئ په مــيدان
چي نبي آخــر زمــان

ډېر خوشحال شي په دا جنگ
د اســلام په نام او ننــگ

[41] غگ = غږ (ږغ) په دغه بيت کي يو قافيوي عيب سته چي "اجازه" بلل کيږي.

کـه شهـيد شئ په ميدان
ستاسي سور کفن عيان[۴۲]

د ۱۱۷۴ هـ ق کال د څلورمي خور (جمادالثاني) د اوومي ورځي مازديگر عادي مازديگر نه ؤ، دې مازديگر د هغو غازيانو او مرهټو کفارو تقدير څرگند کړ چي له درو مياشتو راهيسي يو د بل د تباهۍ په نيامت مخامخ سره پراته وو.

د "نامهٔ احمدشاه بابا" په قول په دغه مازديگر د مرهټو کفارو د ژوند او برم لمر پر لوېدو سو او د اسلام او غازيانو د بخت ستوری راوخوت[۴۳] مرهټو کفارو د زين سنگهـ لکهنوی په قول داسي ماته وکړه چي تر شپېتو کروهو پوري يې مځکه په وينو لړلې وه، هري خواته چي به دي کتل سترگي به دي د مرهټو د مړو پر غونډۍ لگېدې او هغو شلو زرو تنو چي له جنگه يې ژوندي سرونه ايستلي وو تر څو هفتو پوري په راجپوتانه کي لڅ سر او لڅي پښې فقر کاوه[۴۴] په دغه مازديگر د غازيانو هغه سوبه په نصيب سوه چي تر پېړيو پېړيو پوري يې قصې له خولو نه لوېږي او اوس لا هم کله چي دوه سوه او څو کاله وروسته په دې غزا کي د پښتنو د توري او مېړاني تکلونه يو پښتون اروي د فخر غاړه يې يوه لوېشت جگيږي.

د دې تاريخي سوبي په ثواب او افتخار کي د غازي نواب احمد خان غالب جنگ برخه د يادوني وړ برخه ده او تر څو چي پښتانه د دغي لويي غزا تکلونه په وياړ سره کوي د دغه غازي بنگښ ياد ورسره ژوندی دی.

غازي نواب احمد خان د پاني پت د ميدان د ستر فاتح لوی

---

[۴۲] وگ : احمدشاهي شهنامه، ۱۷۲ ـ ۱۷۳ مخونه.

[۴۳] نامه احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی ۷۴ مخ ـ د کابل چاپ. په سيرالمتاخرين ص ۹۱۴ کي د څلرمي خور شپږمه ورځ کښلې ده.

[۴۴] وگ : سلطان التواريخ، ۱۶۹ مخ.

احمدشاه بابا په رکاب کي د شمالي هندوستان پايتخت ډهلي ته ولاړ او هلته د غازي ستر تولواک لوی احمدشاه بابا له حضوره د ډهلي د دربار بخشي توب (چي د هغه وخت يو لوړ منصب ؤ) ورکړه سو او له مرهټو څخه چي کومي سيمي بيرته نيولي سوي وې په هغو کي يې له ډهلي څخه تر فرخ آباده پوري د لويي لاري دواړه خواوته پرتې سيمي وروبخښلې سوې[۴۵]. مګر د حديقة الاقاليم په ۱۷۵ مخ کي کښلي دي هغه ځمکي چي د ۱۱۶۵ هـ ق کال تر جنګو وروسته له نواب احمد خان څخه اخيستي او مرهټو ته يې ورکړي وې، هغه ټولي ځمکي لوی احمدشاه بابا بيرته نواب احمد خان ته ورپرېښوولې. د عهد بنګښ په ۱۳۱ مخ کي ليکلي دي : لوی احمدشاه بابا د قنوج، مګهن پور، بلهور، اکبر پور، شاه پور اداره نواب احمدخان ته وسپارله.

تر څو چي غازي لوی احمدشاه بابا په ډهلي کي ؤ غازي نواب احمد خان هم په ډهلي کي واوسېد. د ۱۱۷۴ هـ ق کال د برات د مياشتي پر شپاړسمه چي غازي لوی احمدشاه بابا د ډهلي په شاوخوا او پنجاب کي تر يو نيم کال تمېدلو وروسته له ډهلي څخه د کندهار په نيامت وکوچېدی غازي نواب احمد خان هم فرخ آباد ته ولاړ[۴۶].

✿✿✿

د غازي نواب احمد خان غالب جنګ د ژوندانه په واقعاتو کي يوه هم هغه شخړه ده چي د ده او د ده د دښمن (صفدر جنګ منصور عليخان) د زوی شجاع الدوله ترکمن (۱۱۸۸ هـ ق مړ) تر منځ پېښه سوه، د دې

(۴۵) وګ : سلطان التواريخ، ۱۷۰ مخ.
(۴۶) وګ : حيات حافظ رحمت خان، ۱۱۱ مخ.

شخړي تفصيل د سلطان التواريخ په ۱۳۳ مخ کي داسي کښلی دی :-

په ۱۱٦۳ ﻫ ق کال چي د غازي نواب احمد خان بنگښ زوی محمود خان لکهنو ونيو او ده پخپله پر اله اباد بريد وکړ، په دغه وخت کي يو هندو ملنگ چي "اندرگر اندرگوشائين" نومېد له خپلو شپېتو تنو مريدانو سره (چي ټولو يې ډېر گړندي آسان درلودل) د پښتنو پر ضد د اله اباد د حاکم نواب بقاء الله خان مل سو، وروسته يې د نواب بقاء الله په واسطه له صفدرجنگ منصورعلي خان سره وپېژندل او د صفدرجنگ په پوځ کي شامل سو، مگر صفدرجنگ ته به يې سلام نه کاوه او په لښکر کي به تر ټولو دمخه دمخه تئ او نغاره به هم ورته وهله کېدله، پای ته د ۱۱٦٦ ﻫ ق د شعبان پر ۱۷ مه (= ۲۰ جون ۱۷۵۳) د اسماعيل خان کابلي په ټوپک وواژه سو.

د دغه اندرگر له مريدانو څخه د دوو ورونو چي يو انوپ گر (همت بهادر) او بل (امراوگر) نومېد د شجاع الدوله ترکمن په دربار کي ډېر قرب وموند، دغه دوه ورونه د شجاع الدوله د عيش و نوش ملگري سول او د معاشقو او عياشيو اسرار به يې سره شريک وو.

د نوموړي کتاب په ۱۷۷ مخ او ځينو نورو کتابو کي کښلي دي :-

په ۱۱۷٦ ﻫ ق کال[۴۷] د نوموړي امراوگر، د اوده په فيض آباد کي يوه رنډۍ خوښه سوله، له دې رنډۍ سره شجاع الدوله هم مينه درلوده، د دغي رنډۍ مشترکي ميني دوه خواږه اشنايان (شجاع الدوله او امراوگر) لومړی سره رقيبان او بيا دښمنان کړل، امراوگر چي د شجاع الدوله د دښمنۍ تاب نه درلود، له هغي رنډۍ سره فرخ آباد ته وتښتېد او د شجاع الدوله له قهره يې د نواب احمد خان بنگښ غالب جنگ لمني ته پناه وروړه، تښتېدلئ

---

[۴۷] په سلطان التواريخ کي د دې واقعې کال ۱۱۷۰ کښلی دی، خو دا صحيحه نښته نه ده، ځکه چي دا شخړه د پاني پت تر لويي غزا وروسته پېښه سوې ده.

امراوګر د فرخ آباد د بخشي په واسطه له نواب احمد خان غالب جنګ سره وليدل او هغه په خپل پوځ کي په نوکري ومانه.

د اوده نواب شجاع الدوله ترکمن چي په دې خبر سو، غازي نواب احمد خان غالب جنګ ته يې وکښل :-

"د دې خط له لوستلو سره به (زما د معاشقې رقيب) امراوګر له خپلي سيمي باسې، که نه بيدې بلاوي به ځان ته ويښي کړې".

نواب احمد خان ته چي دا خط ورسيد، د زړو دښمنيو پر اورو يې غوړي توی کړل او په ډېر قهر يې شجاع الدوله ته وکښل :-

"واوره ! زه بې خدايه له بل چا نه بېرېږم، څه چي ستا زړه غواړي صرفه مه کوه !

مګر په دې پوه سه چي (ستا د معاشقې رقيب) امراوګر ما نه دی راغوښتی، ده ستا له دښمنۍ څخه ماته پناه راوړې ده، اوس که يې زه له خپلي پناه څخه نامېنده کوم دا د مړاني کار نه دئ، نور نو ته پوهېږې او کار دي".

شجاع الدوله چي دا تريخ جواب ولوست دستي يې د ۱۱۷۷ هـ ق کال د صفري په مياشت (اګست ۱۷۶۳) کې پېشخانې ته له فيض آباده څخه د وتلو حکم وکړ او د فرخ آباد لور ته د کوچ نغارې وډنګولي سوې، امراوګر چي په دې خبر سو د فرخ آباد د ځينو سردارانو په سلا يې له غازي نواب احمد خان غالب جنګ څخه د تلو رخصت وغوښت، نواب په جواب کي ورته وويل :-

"که ته زما سره په اوسېدلو او نوکري خوشحاله يې، زه تا له ځانه، نه بېلوم، زما کور ستا خپل کور دی. او که ته ځې، بندي مي نه يې، خوښه دي خپله".

امراوګر چي له نواب احمدخان څخه دغه جواب واورېد، له خپلو

ملګرو او معشوقې سره د اکبر آباد (اګرې) په نیامت له فرخ آباده ووت دوه مزله لا ریې لا نه وه وهلې چې نواب احمد خان د فرخ آباد لور ته د شجاع الدوله ترکمن په حرکت خبر سو، تر ټولو دمخه یې په امراوګر پسې سړي ولېږل او هغه یې فرخ آباد ته راستون کړ، وروسته له دې نو خپل پوځونه له شاوخوا راوغوښتل او د شجاع الدوله د مقابلې له پاره په ترتیباتو بوخت سو، د روهیل کهنډ پښتنو سردارانو ته یې خطونه ولېږل او خپلې مرستې ته یې راوبلل.

د روهیل کهنډ سرداران هم له اتیا زرو سپرو او پلو سره د نواب احمد خان په مرسته راغلل او په ګډه د قنوج خواته وکوچېدل او د شجاع الدوله د پوځ په مقابل کې یې واړول.

د ډهلي د دربار امیر الامراء نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل چې خبر سو، دواړو خواوو ته یې خطونه ولېږل چې زما تر درتګه پوري هرومرو د جنګ شروع کېدل وځنډوئ او پخپله یې هم په ډېر تلوار ځان د جنګ میدان ته وررساوه او د دوو مخاصمو لښکرو په منځ کې یې خېمه ووهله.

د سلطان التواریخ مؤلف لیکلي دي :-

په دغه شپه نواب احمد خان غالب جنګ دوه نیم سوه خونچې پخه ډوډۍ د مستجاب خان اورکزي په لاس د نجیب الدوله نجیب خان خېمې ته ورولېږله.

سبا د نجیب الدوله په واسطه د نواب احمد خان او شجاع الدوله تر منځ روغه وسوه، شجاع الدوله له بهلول ګنجه خپلې لښکرې لکهنو ته ستنې کړلې، امراوګر له خپلو ملګرو سره اکبر آباد (اګرې) ته ولاړ، نواب احمد خان او د روهیل کهنډ پښتانه سرداران فرخ آباد ته وخوځېدل او په دې توګه د هغې فتنې اور مړ سو چې له یوې رنډۍ سره د شجاع الدوله د معاشقې په اغېزه لګېدلی ؤ.

د دغي پيښي په باب نورالدين حسين خان فخري د حالات نواب نجيب الدوله په ۲۲ مخ کي کښلي دي :-

په دې لښکر کښي کي د بهرتپور راجا سورج مل جاټ هم د نواب احمد خان پر سيله ولاړ و او د کرپارام پروهت تر مشرتابه لاند يې يوه رساله سپاهيان (چي دوه زره سپاره وو) د نواب احمد خان په مرسته فرخ آباد ته لېږلي وه چي د ډهلي معزول وزير ناسياله غازي الدين عماد الملک (چي له ۱۱۷۳ هـ ق کال څخه د سورج مل په پناه کي اوسېدئ) هم ورسره ؤ. د روهيل کهنډ سرداران هم د نواب احمد خان په مرسته راغلي وو.

شجاع الدوله چي د نواب احمد خان پله درنه وليدله سنگر يې ونيو نجيب الدوله نجيب خان چي په ډهلي کي خبر سو په دوولسو ورځو کي يې له پوځه سره ځان له ډهلي څخه د قنوج شاوخوا ته ورساوه، شجاع الدوله چي د نجيب الدوله نجيب خان په ورتگ خبر سو، له خپله لښکره څخه يې پنځه کروه څېره مخی ته راغی، شپه يې له نجيب الدوله نجيب خان عمرخېل سره تېره کړه، سبا ته يې پوځونه د مشر زوی (يحيی خان، آصف الدوله) په مشري پسي راغلل او د نجيب الدوله نجيب خان د لښکر څنگ ته يې واړول.

سبا د روغي خبري شروع سوې، نجيب الدوله بريالی سو، روغه يې وروکړه او شجاع الدوله د ډهلي له نام نهاد مغلي پاچا دوهم شاه عالم (۱۱۷۳ _ ۱۲۲۱ هـ ق) سره بيرته د اودهـ لور ته پوځونه ستانه کړل[۴۸].

---

[۴۸] دوهم شاه عالم د دوهم عالمگير (۱۱۶۷ _ ۱۱۷۳ هـ ق) مشر زوی ؤ. په ۱۱۷۳ هـ ق کال چي دوهم عالمگير په ډهلي کي وواژه سو، ده د بهار په سيمه کي خپله پاچهي اعلان کړه. د پاني پت تر سوبي وروسته لوی احمدشاه بابا هم د ده په غياب کي د ده پاچهي ده ته ورکړه، مگر ده تر ۱۱۸۵ هـ ق کاله پوري د خپل پايتخت (ډهلي) مخ ونه ليد، کله به يې د شجاع الدوله تنخواه خوړله او کله به يې د انگرېزانو لاس ته کتل، د امراوگر په شخړه کي دی د شجاع الدوله د لښکرو مل ؤ.

## پر فرخ آباد باندي د مرهتو برید :-

پښاته وایي:- "که سل کاله ژوندی یې، عاقبت د گور بندی یې".

غالب جنگ بخشي الممالک غازي نواب احمد خان بنگښ هم تر یوویشتو کالو او څو میاشتو نوابۍ وروسته د ۱۱۸۵ هـ ق کال د لومړۍ خور (ربیع الاول) یا د برات په میاشت کي د آخرت لور ته سفر وکړ، او د فرخ آباد د نوابۍ دغه روڼ څراغ د ابد له پاره مړ سو.[۴۹] د ده د مرگ تاریخ یوه پښتانه شاعر داسي کښلی دی :-

د دنیا تر "یوویشت" کالو نوابۍ وروسته

+ ۲۱

"احمد ولاړی جنـــتو ته" کامراني کړي[۵۰]

۱۱۶۴

په هفت قلزم کي د اروابناد نواب احمد خان د مرگ تاریخ داسي کښلی دی:-

کنند گـریه خـــــــلایق بناله و افغان

ملائک (آه) کشند از "وفات احمدخان"[۵۱]

۶ـ ۱۱۹۱

---

[۴۹] د نواب احمد خان د مرگ نېټه د تاریخ فرخ آباد په ۵۳ مخ کي د ۱۱۸۵ هـ ق کال د ربیع الاول اته ویشتمه لیکلې ده او تاریخ محمدي هم دغه نېټه تائید کړې ده مگر ویلیام بیل په مفتاح التواریخ کي د ۱۱۸۵ هـ ق کال د برات میاشت کښلې ده مگر د روهیل کهند مشهور معاصر پښتانه لیکوال د ویلیام بیل نظریه نه ده منلې. (وگورئ :- د وقایع عالمشاهي تعلیقات ۱۶۰ مخ) د قاموس المشاهیر د لومړي ټوک په ٦٦ مخ کي د ویلیام بیل د نظریې تائید سوی دی.

[۵۰] "احمد ولاړی جنتو ته" جمله د ابجد په حساب ۱۱۶۴ کیږي د نوابۍ د کلونو شمېر (یوویشت) چي پر زیات سي ۱۱۸۵ څني جوړیږي.

[۵۱] په دې بیت کي د "وفات احمد خان" نیمگړې جمله د ابجد په حساب (۱۱۹۱) کیږي له دغه عدده څخه د "آه" کلمه چي د ابجد په حساب شپږ څني جوړیږي د تخرجې په ډول باید څني کم سي او ۱۱۸۵ پاته سي. (وگورئ د هفت قلزم ، قلزم هفتم لنگر ۴۳ جهان اول د قبول محمد تالیف د نولکشور چاپ).

یوه بل شاعر بیا د ده د مرګ تاریخي ماده د (هی هی حاتم ثانی نماند = ۱۱۸۵) له جملې څخه رااېستلې ده، دغه تاریخي ماده د نواب احمد خان د مرګ په ټولو تاریخي مادو کې غوره ده، ځکه چې اروابناد نواب رشتیا هم پخپل ژوند کې دوهم حاتم طايي ؤ، د ده د سخا تکلونه په ډېرو کتابو کې کښلي دي، مثلاً :-

د ده یو معاصر مؤلف صمصام الدوله شهنواز خان (۱۱۷۱ هـ ق مړ) په مآثر الامراء کې ویلي دي :-

"نواب احمد خان بنګښ په خیر رساني کې نوم ایستلی دئ، د ده د احسان او مروت خبري هر ځای کیږي، بې عوضه احسان د ده له کارنامو څخه دی، عمر په نېکنامي کې پر تېر سو[۵۲] ". د نواب احمد خان د ژوند دوه وروستي کلونه په رندتیا کې تېر سول، حکیم میرک خان کمال یې له ډهلي راوغوښت د سترګو علاج یې کاوه. د حکیم شریف خان ډهلوي په علاج الامراض نومي کتاب کې د حکیم میرک نسخې د سترګو له پاره درج دي، (عهد بنګښ ۳۵۲ مخ).

غلام حسین طباطبایي په سیر المتأخرین کې راوړي دي :-

"نواب احمد خان د خپلي اوږدې نوابۍ په ټوله دوره کې د ملايانو، صوفيانو، بزرګانو، شاعرانو او نورو کمالدارو خلکو ډېر عزت کاوه او په درنه سترګه یې ورته کتل".

د سیرالمتأخرین په ۹۳۱ مخ کې کښلي دي :-

په فیاض او سخا کې یې نوم ایستلی و، د ډهلي ور تښتېدلو امیرانو او شهزاده ګانو ته یې تنخواوي ورکولې او د خوارانو روزنه او پالنه یې ډېره ښه کوله.

احمدخان بنګښ برادر قایم خان حاکم فرخ آباد که نهایت فیاض

---

[۵۲] وګ : مآثر الامراء دریم ټوک، ۷۷۳ مخ، د کلکتې چاپ.

اختیار نمود، مصارف الابدیات اکثر امراء و امیرزاده گان شاه جهان آباد را متعهد گشته، مشاهره و سالیانه های مناسب میرسانید و نیز ضعفا پروری ... شایسته می نمود.

د فرامین سلطانی په ۱٦۱ مخ کي کښلي دي چي :-

احمدشاه مغل د خپلي پاچهۍ په اووم کال (د څلرمي خور پر ۱۵ مه) د نواب احمدخان په سپارښت د پالي پور د سیمي پوځداري بهادر خان بن فیروز لوهاني ته سپارلې ده.

کابلي میرزا رفیع "سودا" د اردو ژبي مشهور شاعر (۱۱۲۵ _ ۱۱۹۵ هـ ق) چي په ډهلي کي یې ژوند تریخ سو، فرخ آباد ته ولاړ او د ده د مهربانۍ لمن یې پناه گاه سوه، کله چي نواب احمد خان مړ سو "سودا" د فرخ آباد د استوگي په سودا کي گټه ونه لیدله او د اودهـ مرکز فیض آباد ته ولاړ[۵۳]. سودا ۱۷ کاله په فرخ آباد کي تېر کړل، د نواب احمدخان تر مرگ ۲ کاله دمخه فیض آباد ته ولاړ، (د عهد بنگښ د ۳۸۷ مخ لمنلیک).

د ډهلي ترټلی او معزول وزیر عمادالملک غازي الدین په کلو کلو د ده مېلمه و، د اودهـ نواب شجاع الدوله ترکمن چي په ۱۱۷۸ هـ ق کال د پټنې او بکسر په میدانو کي له انگرېزانو څخه ماتي وخوړلې پسله روهیل کهنډه یې بله پناه گاه نه درلوده، ځان یې نواب احمد خان ته ورساوه، پښتون نواب یې مخي ته راووت مېلمستیاوي یې ورکړلې او تر څو چي کوره جهان آباد ته تئ په ډېر عزت سره یې وساته او دې ته یې ونه کتل چي یو کال دمخه دغه شجاع الدوله د ده پر نوابۍ برید کړی ؤ او پلار یې صفدر جنگ ترکمن د نواب محمد خان بنگښ کور خراب کړی ؤ او د نواب احمد خان

---

[۵۳] سودا د میرزا محمد شفیع کابلي زوی ؤ، پلار یې (میرزا شفیع) له کابله ډهلي ته تللی ؤ، په گل رعنا کي تر ۱۳٦ مخ وروسته د ده د ژوند حالات سته.

د څو ورونو د خون پور پر پاتـه وُ" (۵۴). نـواب ناصر خـان هـم پسله ۱۱٦٦ د نواب احمدخان تنخواه خور و.

الله یار عثماني بلگرامی په حدیقة الاقالیم (د ۱۱۹۵ ه ق تالیف) کي د نواب احمد خان د سخا او مروت ډېري قصې راوړي دي، پـه دغـو کـي ځیني واقعې داسي هم دي چي مؤلف پخپلو سترگو لیدلي دي او د ده پـه مخ کي پیښي سوي دي، ده ویلي دي :-

"نواب احمد خان ډېر عالي همته پښتـون و، مروت، سـخا او پـاک زړه توب پر تمام وُ، ټول عمر یې په خورا نېکنامی کي تېر کـړ، د سـخا یـې دغـه حال و، هر څه چي به ورته راغلل، تر ټولو دمخه به یې یوه برخه ځیني جـلا کړه، تـر څـو چـي بـه یـې هغه برخـه د خـدای ﷻ پـه نامـه محتاجـانو او مستحقینو ته نه وه ورکړې، پاتي برخي ته یې لاس نه وروړ".

ځکه چي د ده د سـخا ږغ هـر لـور تـه تللـی و نـو د ډېـرو لیـرو سـیمو محتاجان هم فرخ آباد ته راتلل او دلته هستېدل او د نـواب لـه لطفـه څخـه یې خپل نصیب موند. د حدیقة الاقالیم مؤلف دا هم کښلي دي :-

احمد خان چي به د فرخ آباد ښار د لیدلو له پاره د ښار کـومي خواتـه تئ د دې له پاره چي د ښار نوري برخي د ده له فیضه بـې نصیبه نـه وي د خپل معتمدو منصبدارانو لکه فخر الدوله قهرمان خان رند او رحمت خان په لاس به یې هغو نورو سیمو ته خیراتونه لېږل.

بل ځای لیکي :-

"زه یوه روځ د نواب احمد خان پـه دربـار کـي ناسـت وم حـال ورتـه راغی چي له جونپور څخه یو فقیر ستا لیدنگ تـه راغلـی دی ده راوغوښـت او خورا تود روغبړ یې ورسره وکړ، په مینه یې د حال پوښتنه ځني وکړه.

---

(۵۴) وگ : سیر المتـاءخرین دوهـم ټـوک ۸۵ مـخ د کلکـتې چـاپ ۱۲۴۸ هـ ق، سـلطان التواریخ (قلمي) ۱۹۰ مخ.

پسله روغبړه جونپوري فقير د عطرو يوه ښيښه د سوغات په نامه نـواب ته وراندي کړله، مستخدمانو د نواب په حکم تر هر څـه دمخـه څـه پنبـه پـه عطرو ولړل په يوه دبلي کـي يـې کښېښـودل تـر دربـاريـې وايسـتل چـي د خدای ﷺ پر نامه يې کوم فقير ته ورکړي، وروسته تر دې نو پخپلـه نـواب د عطرو ښيښه ورپورته کړله او بوی يې کړله".

د حديقة الاقاليم مولف وايي :-

"د پنځلسي په شپه ټکان او د سور سورانکو نور سامانونه درباريانو تهيـه کړي ؤ، دی چي خبر سو يوه برخه يې ځنـي جـلا کـړه مستخدمانو تـه يـې وويل اول دغه د فقيرانو او بېوزلو پر زامنو ووېشئ بيـا نـو راسئ خپلـه مېلـه جوړه کړئ.

د نواب احمد خان له سخا څخه سالکانو او ملنګانو هم برخـه وړې وه په عهد بنګښ ۲٦۷ مخ کي ليکلي دي :-

"د فرخ آباد د ودانی په لومړيو وختو کـي د امانـت شـاه (١١٦٣ هـ ق مړ) په نامه يو مرتضی شاهي* ملنګ فرخ آباد ته راغی، غضنفر جنګ محمـد خان تر ښار دباندي څه مځکه ده ته د تکـيې لـه پـاره ورکړلـه، امانـت شـاه هلته وني کښېښوولې او سمسوره تکيه يې جوړه کړلـه، نـواب احمـد خـان د ده جانشين مسکين شاه (١٢٨٣ ذی الحجه کي مړ) تـه څـه نـوره مځکـه د کښت له پاره ورکړله.

زاهد علي د جونپور د شاوخوا يو فقير و، پـه قادريـه او قلندريـه طريقـه کي يې د جونپور له مشايخو (پيرانو) څخه لاسنيوی کړی و، د نواب احمـد

---

* _ مرتضی شاهيه طريقه مرتضی شاه افند تـه منسـوبه ده، مرتضـی د شـاهجهانپور د کانت نومي ځای اوسېدونکی و، دی په سهروردي طريقه کي د شاه رزاق مريد ؤ، چي د طريقت سلسله يې د شاه راجوقتال له لاري مخدوم جهانيـان تـه رسېږي، زيارت يې په بنګال کي د سوهن يا سوتي ندي پر غاړه دی.

خان په وختو کي فرخ آباد ته راغی نواب احمد خان ده ته د خپل باغ په یوه کنج (گوټ) کي خانقاه جوړه کړله او زاهد علي په دغه خانقاه کي د مریدانو په روزنه بوخت سو.

د حدیقة الاقالیم مؤلف کښلي دي :-

"په ۱۱۸۳ ه ق کال زه خورا تنگدسته سوم زما بادار میر محمد قاسم خان د کوهد له حکومته معزول سو، بله خوا مي د امید ونه لیدله له پنځو تنو سره چي یو په هغو کي زما زوی (سبحان محمد) بل زما وراره (امام علي) او بل زما رضاعي ورور (حیدر بخش د سعدالله زوی) و، فرخ آباد ته ولاړم په دغو نژدو روځو کي د مظفر جنگ واده سوی و، ما پنځه داني قنده او پنځه روپۍ د مبارکۍ په نامه وروړلې.

مابنام ته یې پنځه خونچې ډوډۍ راواستوله او ورپسې یې پنځه سوه روپۍ راولېږلې، یو کال ما په فرخ آباد کي تېر کړ هره میاشت یې پنځه پنځه سوه روپۍ رالېږلې او چي ځني رخصتېدم، خلاتونه او سوغاتونه یې هم راکړل".

بلگرامي دا هم زیاتوي ځکه چي په دغه کال په شمالي هندوستان کي مرهټو هر ځای بد حال جوړ کړی ؤ خورا ډېرو امیرانو د فرخ آباد دربار ته پناه راوړې وه او هر یوه ته د نواب احمد خان له خوا خرڅ ورکول کېده او چي رخصتېدل خلاتونه او سوغاتونه به یې هم ورکول.

د حدیقة الاقالیم مؤلف د نواب احمد خان د سخا په لړ کي دا هم راوړېده چي نواب احمد خان د خپل پوځ سپاره ته د میاشتي پنځه ویشت روپۍ تنخواه ورکوله په داسي حال کي چي شجاع الدوله د پلټن هر سپاهي ته پنځلس روپۍ ورکولې او په دغه پلټن کي د ډهلي شریف او خانداني خلک نوکران وه او شجاع الدوله د هغو خاطر تر نورو سپاهیانو زیات کوت، سیر المتاء خرین، ۹۴۴ مخ.

هیرالال د نواب احمدخان بنګښ جنګونه په پارسي ژبه نظم کړي دي، (وګورئ: د هرمان اته تاریخ ادبیات).

نواب احمدخان سیدال محمد مارهروي (۱۱۱۱ _ ۱۱٦۴ هـ ق) ته ارادت درلود، د سید ال محمد زوی سید حمزه (۱۱۳۱ _ ۱۱۹۸ هـ ق) ته نواب احمدخان ډېري مځکي او باغونه ور وبخښل او تل به یې سوغاتونه او تحفې ورلېږلې، (خانداني برکات ۱۲ _ ۱۳ مخونه، مآثر الکرام ۱۲۳ _ ۱۲۴ مخونه).

## د نواب احمد خان کتابتون :-

د الزبیر په ۹۴ مخ کي کښلي دي :-

د رامپور په رضا لایبرري کي داسي کتابونه سته چي د نواب احمدخان بنګښ په کتابتون پوري اړه لري.

# نواب دلیر همت خان

نواب احمد خان چي په ۱۱۸۵ هـ ق کال مړ سو، پر ځای یې مشر زوی دلیر همت خان کښیناست، په دغه روځو کي د ډهلي نام نهاد مغل پاچا دوهم شاه عالم (۱۱۷۳ _ ۱۲۲۱ هـ ق) له بهاره څخه ډهلي ته د تګ په لار کي فرخ آباد ته رسېدلی ؤ، دلیر همت خان د کلنګ (نذرانې) په نامه (د Francklin په قول) څلور لکه روپۍ نقد و جنس د شاه عالم مخي ته وړاندي کړل او د مغل پاچا له خوا مرصع سرمېچ، توره، یو پیل، یو آس، دروند خلات او د مظفر جنګ خطاب ورکړه سو[1].

د Polier د Shah Alam په دوه ویشتم مخ کي د دغي نذرانې اندازه پنځه لکه روپۍ ښوولې سوې ده او دا یې هم زیاته کړېده چي څه نغدي او څه جنس ؤ.

په تاریخ فرخ آباد کي د دغي نذرانې تفصیل سته او هلته کښلي دي چي درې لکه روپۍ نغدي، یوولس آسان، اوه پیلان، د سرو او سپینو زرو څه لوښي او پالکۍ دلیر همت خان شاه عالم ته ورکړل[2]. په حدیقة الاقالیم ۱۷٦ مخ کي دا هم زیاته سوېده شاه عالم پاچا چي د ډهلي لور ته روان سو مظفر جنګ د په مخه ښې له پاره دوه مزله ورسره ولاړ او تر خدای په امانی

[1] د سلطان التواریخ په ۲۰٦ مخ کي د نذرانې اندازه نه ده ښوولې سوې فقط د (پیشکش های لایقه) عبارت کښلی دی.

[2] وګ : د فرخ آباد د تاریخ. ۱۲۰ مخ (د ویلیام ارون تالیف).

وروسته بیرته فرخ آباد ته راستون سو. په ... کي لیکلي دي :-

دلیر همت خان مظفر جنګ بې تجربې ځوان ؤ، د عمر پر پنځلسم کال نواب سو[۳] د مملکت دارۍ او مشرتوب په چارو نه پوهېد د پلار د سخا او احسان کمبله یې د پاتا له کمبلي سره یو ځای توله سوه، دلیر همت خان مظفر جنګ د خپل دوستانو هغه تنخواوي پر بندي کړلې چي د ده پلار له کلو کلو ورمقرره کړي وې او په دې سبب یې د دوستانو له پېرزویني ځان محروم کړ، د اوده د نواب شجاع الدوله او انګرېزانو په مقابل کي یو وزری سو او په ۱۱۸۷ هـ ق کال د کاله یې څلور نیم لکه روپۍ کلنګ ومانه د خپلي کورنۍ دښمن هغه شجاع الدوله ته به یې هر کال ورکوي، چي له (...) کلو راهیسي یې د انګرېزانو د اطاعت جوغ په غاړه کي ؤ، ار مستر د انګرېزانو د ریزیډینټ په توګه د ده په مرکز کي اوسیدئ، او په دې توګه یې نو بالواسطه د انګرېزانو د اطاعت پېغور ومانه[۴]. د سلطان التواریخ په ۲۲۲ مخ کي د کلنګ د منلو کوم ذکر نسته خو دا یې راوړي دي : "شجاع الدوله په ۱۱۸۷ هـ ق کال په درېیمه خور (جمادی الاول) په بنارس کي د ایسټ انډیا کمپنۍ د لومړي ګورنر جنرل Warren Hastings (۱۱۸۷ _ ۱۲۰۰ هـ ق) سره ولیدل* له دې سفره څخه چي د اوده مرکز فیض اباد ته

---

[۳] د دلیر همت خان د زوکړي کال ۱۱۷۱ هـ ق دی.

[۴] وګ : تواریخ خورشید جهان ۳۱۲ مخ _ حیات حافظ رحمت خان ۲۰۳ مخ.

* _ په ۱۶۰۰ ع کال = ۱۰۰۹ هـ ق د "Governors and Company of merchants of London treading with east Indias" په نامه په لندن کي یو شرکت جوړ سو. دوه اویا زره پونډه یې ابتدایي پانګه وه، یو رئیس (ګورنر) او یو کونسل (اجرائیه کمېټه) یې درلوده چي له څلېرویشتو تنو څخه جوړه وه، په ۱۶۱۴ ع = ۱۰۲۴ هـ ق کال د دغي کمپنۍ په غوښتنه د انګلستان پاچا لومړي جیمز خپل سفیر Sir Thomas Roe د جهانګیر (۱۰۱۴ _ ۱۰۳۷ هـ ق) دربار ته ولېږه او د دغه سفیر په واسطه د ایسټ انډیا کمپنۍ له پاره یې له جهانګیره څخه د هندوستان په بندرو کي د تجارتي کوټیو د خلاصون اجازه حاصله کړه، په سورت او کلکته کي د ایسټ انډیا کمپنۍ نمایندګۍ خلاصي سولې په ۱۷۱۶ - ۱۱۲۹ هـ ق کال د ډهلي ←

راستون سو د خپل قلمرو په پراخولو يې شروع وکړه، فرخ آباد ته يې لښکري وخوځولې مظفر جنګ بنګښ يې په حضور مشرف سو، د فرزند خانی خطاب يې وموند، اتاوې ته پسي ورتېر سو، هغه يې له هري پنډ ته څخه ونيوله او له اله اباده څخه تر جهانګير نګر پوري چي د ډهلي ختيځ لور ته دېرش کروه ليري واقع دی تولي سيمي د شجاع الدوله تر لاس لاندي سوې".

مګر په ۳۲۴ مخ کي يې بيا ليکلي دي چي د فرخ آباد نواب د کاله پنځوس زره روپۍ د لکهنو نوابۍ ته د کلنګ په نامه ورکولې.

په عماد السعادت ۱۱ مخ کي کښلي دي :-

"د بريلې پښتون واکمن حافظ رحمت خان چي شجاع الدوله ته د مظفر جنګ له ابلېدلو او تسليمېدلو خبر سو، يو له پېغورو ډک خط يې ورولېږه، مظفر جنګ دغه خط په سر سره (جنساً) شجاع الدوله ته ولېږه.

دلير همت خان مظفر جنګ د توري او تدبير سړی نه ؤ، خردمندخان بنګښ يې د مختار او مدارالمهام په توګه کار کاوه، خردمندخان د خدابنده خان زوی او د نواب محمد خان بنګښ لمسی ؤ، خور يې د دلير همت خان ماينه وه[5].

مظفر جنګ دلير همت خان شپږويشت کاله د فرخ آباد نوابي وکړه او

---

← پاچا فرخسير د ايسټ انډيا کمپنۍ د وارده مالو محصول معاف کړ، په ۱۷۷۳ - ۱۱۸۵ هـ ق د دغي کمپنۍ له پاره ګورنر جنرل منظور سو او په ۱۷۷۴ - ۱۱۸۷ وارن هستنګز د ايسټ انډيا کمپنۍ اول ګورنر جنرل مقرر سو.

تر تامس دمخه کپتان ويليام هاکنز د ايسټ انډيا له خوا د جهانګير په دربار کي موجود ؤ او د جهانګير همسياله ؤ. په ۱٦۲۵ ع - ۱۰۳۴ هـ ق د هندوستان په شرقي ساحل کي د انګرېزانو لومړۍ کوټۍ خلاصه سوه.

[5] حديقة الاقاليم ۱۷٦ مخ، د نواب دلير همت خان واده په ۱۱۸۳ هـ ق کال سوی دی.

د ۱۲۱۱ هـ ق کال د دوهمي خور (ربیع الثاني) په نهمه شپه (= ۱۱ - اکتوبر ۱۷۹۷ ع) د یوځلویښتو کلو په عمر مړ سو.* "تاریخ" ۱۲۱۱ او "قضا و قدر" ۱۲۱۱ یې د مرګ تاریخ دی.

د بهوپال اوسېدونکی سید علي حسن خان (د صدیق حسن خان زوی) په تذکرهٔ صبح ګلشن کي (چي په ۱۲۹۴ هـ ق کال یې تالیف کړې ده) د مظفر جنګ دلیر همت خان په باب کښلي دي :-

"دلیر" د نواب مظفر جنګ بنګښ تخلص دی چي د شاه عالم مغل (۱۱۷۳ ۱۲۲۱ هـ ق) د پاچهۍ له امیرانو څخه شمېرل کېدئ، ښه نظم او نثر یې لیکه.

د نواب احمد خان بل زوی دل دلیرخان و چي د ورور مظفرجنګ د مړيني پر مهال په بنارس کي و، فارسي اخبار و مراسلات ۳۴۳ مخ. د عهد بنګښ د ۳۸۰ مخ په لمنلیک کي مظفرجنګ د نواب احمدخان زوی نیو (متبنٰي) ښوول سوی دی (؟). په مجموعه نغز کي قدرت الله قاسم لیکلي دي :-

خادم علي خادم د کتهیل اوسېدونکی په ډهلي کي تحصیل کړی و. د نواب احمدخان بنګښ د پسرخوانده مظفر جنګ (۱۲۱۱ هـ ق مړ) په وختو کي فرخ آباد ته راغی، دوه سوه روپۍ میاشتنۍ ور مقرره سولې، نواب ناصرجنګ (۱۲۲۸ هـ ق مړ) له ده څخه زده کړه کړېده، خادم ښه منشي و، نسخ، نستعلیق او شکسته خطونه یې ښه لیکل، شاعر و، د پارسي او اردو دېوانونه څني پاته دي.

د مظفر جنګ بنګښ د نامه یوه لویه تپله دا ده چي په ۱۱۸۸ هـ ق کال

---

* ـ د فارسي اخبار و مراسلات په ۱۵۲ اخبار کي کښلي دي د صاحبزاده عبدالمجید خان یا قطب علي خان بنګښ له کوره یې پنجیری راوړی وُ هغه یې وخوړل قی ورپېښې سو ومړ، وایي په دغو خوړو کي زهر و، مړی یې په حسن باغ کي خاورو ته وسپاری.

يې د روهيل کهند د پښتنو مخصوصاً غازي حافظ الملک رحمت خان برېښي* په مقابل کې د اودهـ د پښتون دښمن نواب شجاع الدوله او انګرېزانو ملا وتړله او د دغه کال د صفري په يوولسمه ورځ يې د ميران پور د کټړې په ډاګ کې د پښتنو پر تېرونو خپلې ګولۍ وازمويلې، د سلطان التواريخ مؤلف زين سنګه لکهنوی کښلي دي :-

کله چې د شجاع الدوله له خوا د شهيد حافظ رحمت خان په وينو لړلې ککرۍ د پېژندنې لپاره نواب مظفر جنګ ته وربښکاره کړه سوه ده وويل:- "هو ! ده په دغه ړېره د شجاع الدوله مخالفت کاوه، ښه وُ چې د بېوفايۍ ايداد يې وليد". زين سنګه دا هم زياتوي : کله چې دغه سر د شاه آباد پير مدن شاه قادري ته د پېژندنې له پاره وربښکاره کړه سو، د هغه پير اوښکې راتوی سوې او وې ويل :-

"هو ! دا د هغه سپين ږېري مسلمان سر دی[٦]". او په قاموس المشاهير ۱۹٦ مخ کې کښلي دي چې دا بيت يې ووايه :-

سر کشـــــته بر نيزه می زد نفس
که معراج مردان همين است و بس*

---

* ـ د آريانا مجلې د ۱۳۴۵ ش کال د حمل او ثور په ګڼه کې د شيدا د چاپي دېوان د ۲۱٦ مخ په حواله د حافظ رحمت خان د مرګ تاريخي ماده "يو کال و د قاتل و د مقتول" راغلې، مګر په دې تاريخي ماده کې چې ۸ + د عطف واو = ٦ چې څورلس عدد کېږي داخل نه دی او د قاتل کلمه د لام په پېښ راغلې ده، ځکه چې د حافظ رحمت خان د شهادت نېټه په متفق عليه ډول سره د ۱۱۸۸ د صفري په ۱۱ (۲۸ اپريل ۱۷۷۴ ع) ده او له دغې تاريخي مادې څخه هم ۱۱۸۸ راوزي.

[٦] وګ : سلطان التواريخ، ۲۲٦ م، عماد السعادت، ۱۱٦ مخ.

* په قاموس المشاهر کې کښلي دي : شجاع الدوله هغه آن مدن شاه ته څه ونه ويل مګر بسولې ته چې ورسېد مدن شاه يې بندي کړ، او د عمادالسعادت په ۱۱۷ مخ کې د بسولې ذکر نسته وايي لښکرو يې مدن شاه په دغه جرم بندي کړ.

د فرامین السطاني په ۲۳۷ مخ کي کښلي دي سید شرف الدین محمد عرف شاه مدن صاحب ولد سید عبدالباسط حموی گیلانی ساکن قصبه شاه آباد مدفون محله مولا گنج د پاخه سړک څنګ ته. د شاه مدن صاحب پر مهر باندي ۱۱۲۸ ه ق کیندلي دي.

د فرامین سلطاني په ۱٦۸ مخ کي د اوده د حکمران د سعادت علي خان یو فرمان چي د ۱۲۹۱ ه ق کال د څلرمي خور ۱۱ تاریخ لري، په دغه فرمان کي د سید شاه مدن ځیني املاک چي ضبط وو د شاه مدن د ورور قرن صاحب لمسي ته وربخښلي دي.

د شاه مدن په باب د عماد السعادت په ۱۱٦ مخ کي کښلي دي :-

شاه مدن د حضرت غوث الاعظم له نسله ؤ له بنګاله چي راغی شاه جهانپور ته نژدې په شاه آباد کي چي له فیض آباده نه کروه لیری دی مېشت سو، او د شجاع الدوله په هواخواهانو کي سو او د شجاع الدوله له خوا ډېر په درنه سترګه ورته کتل کېده.

وروسته له پښتنو سره د ارتباط له بیري لکهنو ته وکوچېد او په خالص پور کي چي د لکهنو څخه پنځه کروه لیری دی مېشت سو، هر کال بې د غوث الثقلین تلینه نیوله، پښتنو به هم سوغاتونه او نذرونه ورته رالېږل.

د سیرالمتاءخرین په ۹۳۹/۳ مخ کي کښلي دي :-

د حافظ رحمت خان تر وژل کېدلو وروسته د ډهلي د دربار نجف خان، شجاع الدوله ته ورغی او شجاع الدوله او نجف خان د پښتنو سیمي سره ووېشلې په دې وېش کي د فرخ آباد د نوابی هغه مځکي چي ډهلي او اګرې ته څېرمه وې د نجف خان سوې او د فرخ آباد یو څه سیمه د شجاع الدوله سوله.

د نزهة الخواطر په ۱٦۸/۷ مخ کي کښلي دي :-

فاضل امیر نواب مظفر جنگ دلیر همت خان د احمد خان زوی د محمد خان الافغاني لمسی په ۱۱۷۱ هـ ق کال په فرخ آباد کې زېږېدلی دی، علوم یې له شیخ عبدالصمد الاعظمی الدیوی او د هغه له زوی عبدالباقی بن عبدالصمد څخه، خط یې له قادر علیخان او خادم علي خان څخه زده کړ، او په خطاطي کې ښه پر مخ ولاړ. له علماوو سره یې احسانونه کول.

د عماد السعادت په ۱۵۱ مخ او د تاریخ روهیلکهند په ۹۰ مخ کې لیکلي دي :-

په ۱۲۰۹ هـ ق کال چې د نواب محمد علي خان تر وژل کېدلو وروسته د ده کشرورور غلام محمد خان د رامپور نواب شو، انګرېزانو په دې بد یووړله پر غلام محمد خان یې لښکري راوبهولې، د انګرېزانو پوځ د لکهنو د ریزیډېنټ مستر فریدرک چیری تر مشرتابه لاندې، د اودهـ نواب آصف الدوله (۱۱۸۸ _ ۱۲۱۲ هـ ق) او د فرخ آباد نواب مظفر جنګ بنګښ هم له خپلو لښکرو سره د پرنګیانو مله وو، د ایسټ انډیا کمپنی کماندرانچیف جنرل ابرکرمبی د متفقینود ګډو پوځو مشر و.

# خدابنده خان

خدابنده خان د نواب محمد خان بنګښ زوی دی د نواب احمد خان په وختو کي يې ډېر برم درلود.

د حديقة الاقاليم په ۱۷٦ مخ کي کښلي دي :-

خدابنده خان په سخا او هوښياري مشهور دی. په ۱۱۸۵ هـ ق کال چي يې ورور احمد خان ومړ، دی دوه کاله وروسته ډهلي ته ولاړ او د دوهم شاه عالم پاچا په حضور مشرف سو پاچا خلات، پيل، آس، توره او ... ده ته ورکړ، په دغه سفر کي خدابنده خان د خپل وراره او زوم مظفر جنګ پر نامه له پاچا څخه يو فرمان حاصل کړ چي د هغه له مخي د سکندر آباد سيمه د آبروني له سيمي سره چي ټوله دوه ويشت کلي کېدل د مظفر جنګ اداري لاندي سول.

# خردمند خان

نواب خردمند خان د خدابنده خان زوی د نواب محمدخان بنگښ لمسی و، امين الدوله، مظفرالملک، خان بهادر سرجنګ يې لقبونه وه، په علم، فضل و صلاح کي مشهور و، د مظفرجنګ په نوابۍ کي نيابت د ده پر غاړه و، صالح و عابد سړی و، ډېر لمونځونه يې کول او ډېري روژې يې نيولې، خيراتونه يې ډېر کول، له ملايانو او پيرانو سره يې ناسته ولاړه زياته وه، په فرخ آباد کي يې ډېر باغونه، مانۍ، مسجدونه جوړ کړي دي.

د حديقة الاقاليم مؤلف کښلي دي :-

خردمند خان د ډېرو ښو خويو تښتن دی قدرداني او غريب پروري پر تمامه ده، د پوځ په ترتيب کي هم ښه لاس لري ډېر حقپرسته او له خدايه بېرېدونکی سړی دی.

د ۱۲۴۱ ه ق کال د ذي الحجې پر ۹مه مړ سو.

# نواب امداد حسین خان *

د مظفر جنگ دلیرهمت خان تر مرګ وروسته یې زوی امداد حسین خان په ۱۲۱۱ ه ق کال د فرخ آباد نواب سو او د ډهلي د مغل پاچا دوهم شاه عالم (۱۱۷۳ _ ۱۲۱۱ ه ق) له خوا ناصر جنګ خطاب ورکړ سو. ناصر جنګ نواب امداد حسین خان هم لکه پلار شاعر مشربه سړی ؤ، تر سیاست یې له ادبه سره علاقه زیاته وه، په څو ژبو کې یې شاعري کوله "ناصر" یې تخلص ؤ** د اردو نظم نمونه یې دا ده :-

آګې تو تهی هی بر سرپیچش کـــــمند زلف
پیچهې پړی هی کاهی کو کاکل بلا کی طرح

نواب امداد حسین په ۱۲۲۸ هـ ق کال (۱۸۱۳ ع) مړ سو[1] د ده د نوابۍ موده له ۱۲۱۱ څخه تر ۱۲۱۷ ه ق پوري شپږ کاله وه او له ۱۲۱۷ څخه تر ۱۲۲۸ ه ق پوري د ژوند وروستي یوولس کاله د انګرېزانو د یوه متقاعد تنخواه خور په توګه پر تېر سول، د فرخ اباد مالیه به انګرېزانو ټولوله، ده ته به یې د کاله یو لکو اته زره روپۍ تنخواه ورکوله او نوابصاحب یې باله[2].

---

* ـ په تېمورشاه دراني کي دغه نوم احمد حسین کښلی دی.
** ـ وګ : قاموس المشاهیر، ۲ ټوک، ۲۵۰ مخ.
(۱) وګ : قاموس المشاهیر، ۲ ټوک، ۲۵۰ مخ د نظامي بدایوني تالیف د بدایون چاپ.
(۲) ویلیام بیل په مفتاح التواریخ او نظامي بدایوني د قاموس المشاهیر د ۲ ټوک په ۲۱۹ مخ کي کښلي دي چي مظفر جنګ د ۱۸۰۲ ع کال په جون کي خپل جاګیر انګرېزانو (ایسټ انډیا کمپنی) ته ورکړ او د کاله یې یو لکو اته زره روپۍ د تقاعد تنخواه ورکوله، مګر دا خبره صحیحه نه ده دا

# نواب خادم حسین خان شوکت جنگ

(۱۲۲۸ _ ۱۲۳۸ هـ ق)

نواب امداد حسین خان ناصر جنگ چې په ۱۲۲۸ هـ ق کال ۱۸۱۳ ع ومړ پر ځای یې زوی خادم حسین خان نواب سو.

په تواریخ خورشید جهان (۳۱۲ مخ) او په حیات افغاني (۴۴۹ مخ) کې لیکلي دي :-

د فرخ آباد نوابۍ د لکهنو د اودهـ نواب ته د کاله څلور نیم لکه روپۍ کلنګ ورکاوه، په ۱۸۰۱ کال (= ۱۲۱٦ هـ ق) دغه کلنګ د اودهـ نواب انګرېزانو ته پرېښوو، په ۱۸۰۲ ع کال (۱۲۱۷ هـ ق) انګرېزانو (ایست انډیا کمپنۍ) د فرخ آباد نوابي تر خپلې مستقیمي ادارې لاندې کړه او د کاله د یو لک و اته زرو روپۍ ورکړه یې نواب امداد حسین خان ناصر جنګ ته ومنله، په ۱۸۵۷ کال چې نواب تفضل حسین خان د غازیانو سره د مرستې په تور ونیول سو، مکې معظمې ته انګرېزانو فراره کړ.

مولوي عبدالحق ګوپاموي (۱۲۷۵ هـ ق مړ) د نواب شوکت جنګ استاد ؤ. (عهد بنګښ ۳۴۳ مخ).

---

واقعه د مظفر جنګ د زوی په وختو کې پېښه سوې ده او مظفر جنګ (۵) کاله پخوا مړ ؤ.

# د فرخ آباد د نوابی رنګېدل

تر څو پوري چي د لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۱ _ ۱۱۸۶ ه ق) ننګيالی لمسی اعليحضرت شاه زمان سدوزی (۱۲۰۷ _ ۱۲۱۶ هـ ق) د افغانستان پر تخت ناست ؤ ايسټ انډيا کمپنۍ په ښکاره توګه د هندوستان د پايتخت لور ته د پېشقدمۍ جرأت نه کاوه او د اوده د نوابانو تر پردې لاندي کرار کرار له بنګاله څخه د ډهلي خواته راڅکېدل.

خو کله چي د ۱۲۱۶ ه ق کال د لومړۍ خور (ربيع الاول) په مياشت کي د ننګيالي شاه زمان د بخت او برم ستوری ولوېد او د افغانستان پاچهي د ده عاقبت نااندېشه او خودخواه ورور شاه محمود (۱۲۱۶ - ۱۲۱۸ هـ ق) تـه ورسـېدله، انګرېـزان ډاډه سـول چـي بيـا د افغانسـتان لښکـري د هندوستانيانو په داد نسي رسېدلای ځکه نو ايسټ انډيا کمپنـۍ د ۱۲۱۶ هـ ق کال د رجب په درېيمه ورځ (۱۰ نومبر ۱۸۰۱ ع) د اوده په نواب سعادت علي خان ترکمن (۱۲۱۲ _ ۱۲۲۹ ه ق) يو تړون لاسليک کړ چي د هغه له مخي د لکهنو تر اداري لاندي د تولـو سيمو نيمـايي برخـه د انګريزانـو تـر مستقيم حکومت لاندي سوه[1] او بدنصيبه فرخ آباد د انګرېزانـو پـه برخـه

---

[1] سعادت علي خان د شجاع الدوله زوی او د صفدر جنګ لمسی ؤ، د مشر ورور يحيٰی خان آصف الدوله (۱۱۸۸ _ ۱۲۱۲ هـ ق ۲۸ ربيع الاول) تر مرګ وروسته د ۱۲۱۱ هـ ق کال د برات په مياشت کي د اوده نواب سو، په ۱۲۲۹ د رجب ۲۲ هـ ق کال ومړ.

ورغی ؟ په ۱۲۱۸ هـ ق کال (۱۸۰۳ ع) د سندهیا او په ۱۲۱۹ هـ ق کال (۱۸۰۴ ع) د جسونت هولکر تر ماتو وروسته انګرېزانو ډهلي هم ونیو او په دوهم شاه عالم یې یو ترون لاس لیک کړ چي د هغه له مخي به فقط یو لک روپۍ د کاله پاچا ته د خراج په نامه ورکولي کېدلې او بس.

د جونپور، بنارس او غازي پور سیمي تر دې ترون پخوا د آصف الدوله (۱۱۸۸ _ ۱۲۱۲ هـ ق) له خوا ایسټ انډیا کمپنۍ ته سپارلي سوي وې[۲].

ای مارسډن د تاریخ هند په ۳۰۶/۲ کي کښلي دي :-

په ۱۸۰۱ کال د ایسټ انډیا کمپنۍ څلورم ګورنر جنرل مارکوریس لارډولزکی (۱۷۹۸ _ ۱۸۰۵ ع) د اودهـ نواب ته ولیکل چي ته هم په امدادي سلسله کي شامل سه، په اول کي نواب څه جنه جنه کوله پای ته یې د ګنګا او جمنا تر منځ دوآبه انګرېزانو ته ورخوشي کړله، مګر دا وېش صحیح نه ښکاري، ځکه د حیات ذاکر حسین په ۳۷ مخ کي لیکلي دي :-

تر ۱۷۸۰ وروسته په فرخ آباد کي انګرېز ریزیډینټ مقرر سو او په ۱۸۰۲ کي د فرخ آباد له نواب څخه ټول اختیارات واخیستل سوه.

د سعادت علي خان او ایسټ انډیا کمپنۍ د وېش په باب د سلطان التواریخ په ۳۲۳ مخ کي هم کښلي دي :-

د بریلي (روهیلکهنډ)، مراد آباد (روهیل کهنډ)، اټاوې، فرخ آباد، کانپور، اله آباد او ګورکهپور سیمي د انګرېزانو په برخه کي ورغلې او ایسټ انډیا کمپنۍ په دغه هره سیمه کي یو یو مالیاتي حاکم وټاکه او بریلي یې د دغو ټولو حکومتو د مرکز په توګه تعین کړله چي هلته به لفټننټ ګورنر اوسېدی.

خو فرخ آباد ته یې د نواب ناصر جنګ امداد حسین بنګښ په نسبت دستي مالیاتي حاکم ونه لېږه، مګر دې وضعي ډېر دوام ونه کړ او د ۱۲۱۷ هـ

---

[۲] وګ : ګل رعنا، ۱۵۶ مخ، د عبدالحي لکهنوي تالیف.

ق کال د صفري په دوهمه روځ (۱۸۰۲ ع جون) فرخ آباد هم د ایسټ انډیا کمپنۍ تر مستقیمي اداري لاندي راغی او د بریلي د لفټننټ ګورنر سکرټري یې د کلکټر په حیث مقرر سو.

د یوه تړون له مخي چي ایسټ انډیا کمپنۍ په نواب ناصر جنګ بنګښ لاس لیک کړ د معزول نواب د خرڅ له پاره د کمپنۍ له خزانې څخه تنخواه وروټاکله سوه او په دې توګه د پښتنو هغه نوابي چي تقریباً نوي کاله پخوا یې غضنفر جنګ نواب محمد خان بنګښ تاداو ایښی ؤ داسي ونړېدله چي بیا یې د ودانۍ مخ ونه لید.

په سلطان التواریخ کي د امداد حسین خان د تنخوا مبلغ نه دی کښلی مګر د تاریخ خورشید جهان په ۳۱۲ مخ او د قاموس المشاهیر د ۲ ټوک په ۲۱۹ مخ کي یې د تنخواه مبلغ د کاله یو لک و اته زره روپۍ ښوول سوي دي. له وروستیو واقعاتو څخه داسي څرګندېږي چي دغه تنخواه به د انګرېزانو له خوا د دغي کورنۍ هغه غړي ته ورکوله کېدله چي دوی به د نوابۍ نوم پر کښېښوو او د خلکو د ارامولو له پاره به یې کار څني اخیست.

په قاموس المشاهیر ۱ ټوک ۴۱۸ مخ کي کښلي دي چي دغه تنخواه د نواب تفضل حسین تر وخته پوري د انګرېزانو له خوا ورکوله کېدله.

په هندوستان کي زوکړی او لوی سوی پښتون شاعر قاسم علي خان اپرېدی (۱۱۸۳ _ ۱۲۴۱ هـ ق) چي د فرخ آباد دغه بده روځ یې پخپلو سترګو لیدلې ده، د فرخ آباد پر حال یې داسي ژړلي دي :-

د انګرېز طنبور او تروم دلته رغیږي
نصارا سوه حاکمان فرخ آباد
حکومت د پښتانه له سره ولاړئ
وارخطا سول نوابان فرخ آباد(۳)

---

(۳) په دغو بیتو کي د قافیې کلمې د اضافت زېر لري او د ردیف کلمه pruxabad فرخ

دغه ولس پاله شاعر چي پر هندوستان باندي د پرنگيانو قبضې ته په ډېره کرکه گوري په يوه غزل کي يې چي د ډهلي د مغل پاچا دوهم شاه عالم تر مرگ (۱۲۲۱ هـ ق) پخوا يې ويلې ده د هندوستان پر محکوم حال داسي اوښکي تويوي :-

اوس پيدا په هندوستان شول پرنگي
دا فرقه د نصارا وه جنگي
نصارا په هندوستان حکومت کاندي
چر ته لاړل ښه ځوانان شيران ننگي
بقالان وه اوس سپاهيان په هندوستان شول
دروېزه کاندي اشراف چونگي چونگي
حيف درحيف دی چي حرمت د اشراف نشته
په اسلام هسي راغلې ده تنگي
احمدشاه دراني نشته دی يارانو !
چي پر سر کاندي افسر جيشي زنگي
"شاه عالم" د قناعت پر حجره کښېناست
که پيدا کا نور اولاد تيمور لنگي[۴]

د انگرېزانو د امپرياليستي پر ضد باندي د قاسم علي دغه غزلي چي د هغه وخت شهکار دی، دی د مجاهدو شعراوو په لومړي صف کي دروي.

يو بل پارسي ژبي شاعر بيا د سعادت علي خان له خوا انگرېزانو ته د نيم ملک د ورکړي تاريخ داسي ويلی دی :-

خور بخور اين دور دورنگی گرفت
ملک نواب را فرنگی گرفت (۱۲۱۶هـ ق)

انقلاب ۱۸۵۷ کی تصوير کا دوسرا رخ د حسام الدين تاليف (د مولانا عبدالرحيم پوپلزي په مقدمه).

---

آباد په درو هجاوو ويله کيږي نه په څلورو.

[۴] وگ : پښتانه شعرا، لومړی توک. ۳۶۸ مخ. د پوهاند عبدالحي حبيبي تاليف د کابل چاپ.

# د ۱۸۵۷ ع په جنګو کي د دې کورنۍ برخه

۱۲۷۳ هـ ق (۱۸۵۷ ع) او ۱۲۷۴ هـ ق (۱۸۵۸ ع) کلونه د هندوستان په تاریخ کي زیات اهمیت لري، د انګرېزانو تالي څټو (کاسه لېسانو) د دغو کلو واقعې "غدر" نوملي دي، مګر وطن خواهان یې "د آزادۍ له پاره غزا" بولي او عجبه لا دا ده چي له دغي جملې څخه د ابجد په حساب هم یو زر و دوه سوه درې اویا ۱۲۷۳ جوړېږي. د آزادۍ له پاره د غزا لنډیز داسي دی:-

د "انفلډ رایفل" د غوړو کارتوسو جبري استعمال د ۱۲۷۳ هـ ق کال د ځلرمي خور په ځلرویشتمه (۱۹ فروري ۱۸۵۷ ع) د بهرام پور او دمدمې هندوستاني سپاهیان چي د انګرېزانو په پلټنو کي نوکران وو نافرمانۍ ته اړ ایستل، د دغه کال د روژې په یوولسمه روځ (۵ می ۱۸۵۷) د میرټهـ هندوستانیو سپاهیانو د دغو کارتوسو له اخیستلو څخه نټه وکړله، د انګرېزي منصبدارانو سخت عکس العمل د روژې په شپاړسمه روځ (۱۰ می) دوی بلوا ته وپاروله، چونۍ ته یې اور واچاوه او له خپلو وسلو سره ډهلي ته وخوځېدل. سبا چي د میرټهـ بلوایان او مجاهدین ډهلي ته ورسېدل، هلته هم د مذهبي سابقې په اغېزه د "دین" او "دهرم" نارې شروع سولې او د غاصبو انګرېزانو له منګولو څخه د خپل ملک د آزادولو له پاره د ډهلي وطن پرسته عناصر (که مسلمانان وو که هندوان) ورسره مله سوله.

د هندوستان د تېموري کورنۍ وروستی پاچا بهادرشاه ظفر (۱۲۵۳ ـ ۱۲۷۴ هـ ق) (چي په لال کلا کي د انګرېزانو د یوه تنخواه خور په توګه

ژوند کاوه) هم د دغو مسلحانه اقداماتو طرفدار سو[1].

د کوچني اختر په لومړيو روځو کي د روهيلکهند پښتانه هم پورته سول او په بريلي کي يې د شهيد حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان بړيځي (۱۱۸۸ هـ ق مړ) لمسی د نواب ذوالفقار خان (۱۱٦٦ _ ۱۲۱۲ هـ ق) زوی خان بهادر خان بړيځی خپل سردار وټاکه[2].

د کوچني اختر د مياشتي پر يوولسمه د بنارس، پر دوولسمه د کانپور، او پر ديرلسمه د اله اباد په چونيو کي اړودوړ جوړ سو، د دغي مياشتي پر پنځه ويشتمه د فرخ آباد په فتحګړه کي هندوستاني سپاهيانو بلوا وکړله، مجاهدين يې هم مله سول او د غزا بيرغونه يې پورته کړل، په دغو مجاهدينو کي د امداد صابري په قول د فرخ آباد د نوابانو د کورنۍ زياتره غړي شامل وو[3]. د فتح ګړ مجاهدينو او بلوايانو د غضنفر جنګ نواب محمد خان بنګښ د کورنۍ يو دروند پښتون نواب تفضل حسين خان بنګښ خپل مشر وټاکه[4]، د انقلاب تر ناکامۍ وروسته د دې کورنۍ ډېرو توريالیو ځوانانو د پرنګيانو له لاسه د شهادت جامونه وڅيښل او د وطن د آزادۍ په تاريخ کي يې ابدي افتخار او په آخرت کي جنتونه په نصيب سول.

---

[1] بهادرشاه ظفر د دوهم اکبر شاه (۱۲۲۱ _ ۱۲۵۳ هـ ق) زوی د دوهم شاه عالم (۱۱۷۳ _ ۱۲۲۱ هـ ق) لمسی او د دوهم عالمګير (۱۱٦۷ _ ۱۱۷۳ هـ ق) کړوسی دی د ۱۲۷۴ هـ ق کال د محرمي د مياشتي په وروستيو ورځو کي انګرېزانو ونيوی، رنګون ته يې بندي واستاوه او هلته تر پنځو کلو بند وروسته د ۱۲۷۹ هـ ق کال د دربيمي خور په څورلسمه روځ د ۸۹ کالو په عمر مړ سو.

[2] نواب خان بهادرخان بړيځی دوه کاله له پرنګيانو سره وجنګېد، پای ته په هغه جنګ کي چي د نيپال د غره په لمن کي وسو د انګرېزانو په لاس کنبېووت د ۱۲۷٦ هـ ق کال د برات په مياشت کي د انګرېزانو له خوا په بريلي کي غرغره کړه سو، او د دغه پښتانه شهيد مړی مسلمانانو سپاهيانو د بريلې په ډسترکټ جيل (بنديخانه) کي ښخ کړ.

[3] وګ: ۱۸۵۷ کی مجاهد شعرا، ۲۵۰ مخ د ډهلي چاپ.

[4] وګ: آئينۀ تاريخ نما، دوهم ټوک، ۱۲۴ مخ.

# نواب تجمل حسین خان

نواب تجمل حسین خان د خادم حسین خان شوکت جنګ زوی د امداد حسین خان ناصر جنګ لمسی دی، له ۱۲۳۸ = ۱۸۲۳ څخه تر ۱۲٦۲ = ۱۸۴٦ پورې د فرخ آباد نواب و، ډېر علم دوسته نواب و، د عالمانو، فاضلانو او کمالدارو خلکو ډېر عزت یې کاوه. د اردو ژبې مشهور شاعر اسدالله خان غالب (۱۲۱۲ _ ۱۲۸۵ هـ ق) د ده قدردانی فرخ آباد ته ور وستی، غالب د ده په باب ویلي دي :-

دیاهی خلق کو بهی تا اسی نظر نه لگې
بنائیی عیش تجمل حسین خان کی لئی
بقدر شوق نهیں طرف تنگار غزل
کچھ اور چاهی وسعت میري بیان کیلئی
ایا هی خلک کو ..................
.....................................
زبان پر بار خدایا کس کا نام آیا
که میري نطق نې بوسي میري زبان کی لئی
نصیر دوست و دین اور معین ملت و ملک
بناهی چرخ برین جس کی استان کیلئی
زمانه عهد میں اُس کی هی محو آرائش
بینی گی اور ستارې اب اسمان کیلئی

ورق تمام هـــوا اور مـــــــدح باقی هی
سفیـــــــنه چاهی اس بحر بیـکران کیلئی
ادای خاس هی غالب سـوایی نکــــته سرا
صـــدای عام هی یاران نکــــته دان کیلئی
۱۴ بیته لري

# نواب تفضل حسین خان

نواب تفضل حسین خان د نواب عنایت حسین خان عنایت جنګ زوی د نواب خادم حسین خان شوکت جنګ لمسی او د نواب امداد حسین خان ناصر جنګ کړوسی دی[1]. د عهد بنګښ په ضمیمه کي نواب تفضل حسین خان د نصرت جنګ زوی او د نواب امداد حسین ناصر جنګ لمسی ښوول سوی دی، (۴۳۵ مخ عهد بنګښ).

د مجاهد شعراء په ۳۷۰ مخ کي د ده د زوکړي نېټه د ۱۳۴۳ ه ق کال د دوهمي خور پنځمه ورځ ښوولې سوې ده[2].

د ۱۲٦۲ ه ق کال د میانۍ د میاشتي پر اتلسمه (۹ نومبر ۱۸۴٦ ع) چي نواب تجمل حسین خان ومړ پر ځای یې وراره تفضل حسین خان د انګرېزانو له خوا د نوابۍ په نامه وپېژندل سو، یوولس کاله یې د انګرېزانو (ایسټ انډیا کمپنۍ) تر حکم لاندي د فرخ آباد نوابي وکړله، د انتظام

---

[1] د مجاهد شعرا په ۳۷۰ مخ کي د نواب تفضل حسین خان د ورنیکه نوم حسین خان د هغه د پلار نوم دلیرهمت خان او د نیکه نوم یې احمد خان کنبلی دی او د احمد خان او غضنفر جنګ محمد خان تر منځ امام خان او قایم خان هم لیکلي دي.

[2] د ۱۲۴۳ ه ق کال د ربیع الثاني پنځمه د مجاهد شعرا په ۳۷۰ مخ کي د ۱۸۲۷ ع کال د اکتوبر له یو دېرشمي سره برابره ښوولې سوې ده، خو دا معادله صحیح نه ښکاري ځکه چي د دغه کال د ربیع الثانی لومړۍ ورځ د اکتوبر له دوه ویشتمي سره برابره ده چي د دې حساب له مخي نو د ربیع الثانی پنځمه د اکتوبر له شپږویشتمي سره برابرېږي.

قدرت یې زیات ؤ.

په ۱۲۷۳ هـ ق کال چې د هندوستان د آزادولو له پاره کومه هڅه شروع سوې وه په هغې کې نواب تفضل حسین خان هم د وطن پرستانو ملا وتړله او د انګرېزانو د نوکرۍ پړی یې له غاړې وکیښ.

د مجاهد شعراء په ۳٦٦ مخ کې کښلي دي :- د ۱۲۷۳ هـ ق کال د شوال په پنځه ویشتمه ورځ د سیتاپور د یوڅلوېښتمي پلټني مشر حسین له خپلې پلټني سره په کښتیو کې تر ګنګا پوري ووت، نواب تفضل حسین خان یې مرسته وکړله، دوه سوه تنه سپاهیان، څلېرویشت توپک او څه پیسې یې بلوایانو ته ورکړلې، په دې وخت کې لسمه پلټن هم د بلوایانو ملګرې سوله او د فتح ګړه پر کلا باندې یې د برید سلا سره وکړله، د فتح ګړه په کلا کې چې انګرېزان اوسېدل کلابند سول، بلوایانو د میانۍ د میاشتي په درېیمه ورځ (۲۵ جون) پر کلا حمله وروړله، انګرېزانو څلور ورځې کلابندي تینګه کړله په پنځمه ورځ چې د غازیانو توپو د کلا په دېوال کې درزونه جوړ کړل انګرېزان د تېښتي په فکر کې سول او د میانۍ په یوولسمه شپه په هغه درو کښتیو کې سپاره سول چې په ګنګا کې ولاړې وې او هره کښتۍ یوه یوه کرنیل پخپلو سپاهیانو ډکه کړله.

د کرنیل ګولي ډای کښتۍ "سنګهی رام" نومي ځای ته سلامته ورسېدله، د مېجر رابرټ کښتۍ په ریګو کې ونښتله او د غازیانو دوې کښتۍ پسي وروړسېدلې په لومړۍ حمله کې مېجر رابرټ زخمي سو نورو سپرو ځانونه اوبو ته واچول په لامبو لامبو ځینو کسانو ځانونه پوري ایستل مګر زیاتره یې غازیانو ووژل.

د کرنیل سمته پر کښتۍ هم غازیان پېښ سول او څوک ژوندی ځني خلاص نه سو[۳].

---

[۳] تاریخ عروج سلطنت انګلیشیه هند ۸۳۵ مخ.

د فتح ګړه په جنګ کي نواب تفضل حسين خان د غازيانو د سردار په توګه د خپلي کورني له ډېرو غړو سره ګډون کړی ؤ، او د دغي سوبي په ويار کي يې پوره برخه درلوده.

د فتحګړه تر سوبي وروسته غازيانو د فرخ آباد کلا ته مخه ونيوله د انګرېزانو له هغه پوځه سره يې ( چي په فرخ آباد کي وو) جنګ ونښت له کانپوره څخه د انګرېزانو يوه پلټن هم د غازيانو د ځبلو له پاره وروراسېدله څو ورځي جنګ وسو، پای ته غازيانو د ځينو غدارانو د غداريو له امله ماتي وکړه. د ډهلي ښار تر پنځو مياشتو آزادۍ وروسته د ۱۲۷۴ هـ ق کال د محرمي د مياشتي پر ۲۸ (۱۸ سپتمبر ۱۸۵۷) د انګرېزانو په لاس ورغی، بهادرشاه ظفر د ډهلي وروستی تېموري پاچا يې بندي کړ، د دغه کال د رجب په درېرشمه ورځ (۱٦ مارچ ۱۸۵۸) د لکهنو غازيانو هم د انګرېزانو په مقابل کي ماته ومنله، پيشوا نانهاراو بريلي ته وتښتېد[۴] او په دغه وخت کي نواب غازي تفضل حسين خان هم ځان بريلي ته ورساوه، د حيات ذاکر حسين په ۳۷ مخ کي ليکلي دي : په ۱۸۵۷ ع کال په بغاوت کي چي تفضل حسين خان د فرخ آباد واکمن د ۱۸۵۷ ع کال د دسمبر تر مياشتي يې د فرخ آباد حکومت وکړ د ۱۸۵۸ د جنوري پر ۲ مه چي انګرېزانو فتحګړه ونيوه، دی د شهزاده فيروز سره بريلي ته ولاړ.

---

[۴] نانا راو د هندو پنتهـ د باجي راو وروستي پيشوا زوی نيو (متبنی) ؤ. باجي راو انګرېزانو کانپور ته نژدې په بتهور کي مېشت کړی ؤ، د ۱۲۷۳ کال په دوولسمه چي په کانپور کي سپاهيانو بلوا وکړله ده له بتهور څخه ځان ورته راورساوه او هغو په مشرتوب ومانه. د تاريخ هند په ۳۴۲ مخ کي کښلي دي:

"په ۱۸۱۷ م کال باجي راو پيشوا د نربدا پر غاړه د سرجان مالکم په واسطه له انګرېزانو سره روغه وکړه ۸ لکه روپۍ د کاله تنخواه وروتاکله سوه نظربند يې کړ. کانپور ته يې راوست او دومره ژوندی و چي ۲ نيم لکه روپۍ يې تر مرګه پوري تنخوا سوله". د دغه روپيو موده ۳۱ کاله ده.

نواب سرور الملک اغا مرزا دهلوي (متولد ۱۲٦۴ هـ ق) د خپل اکا عباس بېگ له خولې پخپله سوانح کي کښلي دي :-

"د انقلاب په وختو کي چي د فرخ آباد د نواب اسبابونه او مالونه ضبط سول په هغو کي يوه توره وه، چي د موتي او تيکي بيه يې څو لکه روپۍ وه. دغه توره ورکه سوه او يو انگرېز پر ما تاوانه کړله ..." نقوش آپ بيتي، ٦۴۱ مخ.

هاشمي فريد آبادي د تاريخ هندوستان په ۴۰۵/۳ مخ کي کښلي دي:-

په ۱۸۱۸ ع کال چي انگرېزانو پر مرهټو برى وموند د مرهټو پېشوا يې له پونې راوکوچاوه له کانپوره څخه شپږ ميله ليري يې په بټهپور کي واوساوه او د کاله يې ۸ لکه روپۍ ورکولې، د ده تر مرگ وروسته يې د ده پر متبنّي نانا صاحب دا روپۍ بندي کړلې، د ۱۸۵۷ د جون په مياشت کي دى په غدر کي د کانپور د ياغيانو سرغنه سو، ۱۹ ورځي يې د انگرېزي پوځو سره په کانپور کي جنگ وکړ، انگرېزي پوځو د فرار لار وغوښتله او په کښتيو کي چي کښېنستل ياغيانو گولۍ پر وچلولې ... څوک يې ژوندي پاته نه سول،په جولاۍ کي يې د لکهنو ريزيډېنسي محاصره کړله،جرنيل لارنس په دغه جنگ کي د غازيانو په گولۍ ومړ،د ستمبر په مياشت کي د انگرېزانو سپهسالار ويلاک څان د لکهنو د ريزيډنسۍ په ملگري راورساوه،خو چي په ريزيډنسي ننوت بيا يې د راوتلو لار ونه موندله،تر مارچ ۱۸۵۸ پورې.

جنرل هيولک چي بيا سرهانري هيولک سو په ۱۸٦۵ ع کال ومړ ...

د روژې په يوويشتمه ورځ (۵ مى ۱۸۵۸) چي د ايسټ انډيا کمپنۍ ستر درستيز (کمانډر ان چيف) سرکالن کيمبل (چي وروسته په لارډ کلائډ مشهور سو) له شاهجهانپوره څخه پر بريلي باندي پوځونه وروبهول، درې ورځي دمخه نواب تفضل حسين خان د ۱۲۷۴ هـ ق کال د روژې پراتلسمه =

۱۳ ثور ۱۲۳۷ش = ۹ اپریل ۱۸۵۸ ع له بریلي څخه شاهجهانپور ته تللی ؤ او هلته د انګرېزانو په لاس کښېووت. په ۱۸۵۹ ع کال = ۱۲۳۷ ش = ۱۲۷٦ هـ ق کال د انګرېزانو نظامي محکمې پر نواب غازي تفضل حسین خان باندي د مرګ حکم وکړ مګر د ایسټ انډیا کمپنۍ نوي ګورنر د مرګ حکم په فرارولو تبدیل کړ.

په دغه کال عدن او بیا حجاز ته ولېږه سو، د مجاهد شعراء په ۳۷۱ مخ کي کښلي دي:-

نواب غازي تفضل حسین خان په مکه معظمه کي مېشت سو او هلته په ۱۸۸۲ ع کال مړ سو، د قاموس المشاهیر په قول د مئی په ۲۳ مه بندي بمبی ته بوتلل سو او له هغه ځایه په بحري جهاز کي عدن ته بوتلل سو*. مګر پښتانه مؤرخ زردارخان ناغر د رساله دار محمد امیر خان بنګښ د زوی محمدوزیر خان له خولې لیکلي دي چي په ۱۲۸۸ ه ق کال (۱۸۷۱ ع) په مکه معظمه کي ناجوړه سو، عدن ته ولاړ او هلته مړ سو، صولت افغانی ۵۴۴مخ.

نوموړي پښتانه مؤرخ دا هم زیاته کړې ده چي "زه چي په ۱۲۸۷ ه ق کال حج ته تللی وم، هلته مي په حرم شریف کي نواب تفضل حسین خان ولید، له مالي لحاظه یې حال ډېر خراب ؤ خو د معنی له مخي یې لوی نعمت په نصیب ؤ".

د بهوپال د پښتنې نوابي شاهجهان بېګمي (۱۲۸۵ _ ۱۳۱۹ هـ ق = ۱۹۰۱ ع) مېړه صدیق حسن خان (۱۲۴۸ _ ۱۳۰۷ = ۱۸۸۹ م) چي په (...) ه ق کال حج ته تللی ؤ، هلته یې په مکه معظمه کي غازي نواب تفضل حسین خان لیدلی ؤ، ده کښلي دي چي نواب دنیا پرې ایښې ده او د فقر

---

* د هندوستان د آزادۍ له پاره د هندي ملت د پورته کېدلو په وخت کي لارډ کینګ د ایسټ انډیا کمپنۍ ګورنر جنرل و (۱۸۵٦ _ ۱۸۵۸ ع).

په عالم کي ډوب ؤ.

مشهور مستشرق H.G Raverty (۱۸۲۵ _ ۱۹۰٦ ع) انګریز پخپل یوه کتاب کي (چي Selection from the poetry of the Afghans نومیږي او په ۱۸٦۲ ع کال په لندن کي چاپ سوی دی) کښلي دي :-

ناسک* د بمبی په شاوخوا کي د یوه ځای نوم دی او زه چي هلته یو وخت پوځي منصبدار وم ما د ناسک په کوڅو کي د فرخ آباد آخري نواب (تفضل حسین خان) ولید چي زما د خپلي پلټني د یوې دستې په حفاظت کي د ټول عمر د جلا وطنی او فراري توب له پاره مکې معظمې ته پلی روان کړ سوی ؤ، ځکه چي د هندوستان د تېر سوي بغاوت په وخت کي ده د فرخ آباد په قتل عام کي لاس درلود، په دې جرم کي اول خو د مرګ سزا ورکړه سوې وه، خو بیا د ټول عمر په جلاوطني بدله کړه سوه او تر ملک (هندوستان) دباندي د ده د خوښی په هر ځای کي ده ته د استوګي اجازه ورکړه سوې وه، ده د عربو په ملک کي مکه معظمه خوښه کړله، اورم چي هلته دی تر اوسه پوري په خیرات ګذاره کوي.

ما په ناسک کي د دې بدنصیب سړي سره څو خبري وکړلې او ده وویل :-

"تر ډېرو ورځو وروسته چي زما سره چا په مهرباني خبري وکړې، هغه ته یې".

د فرخ آباد نواب وړکوټی غوندي ښایسته سړی ؤ عمر یې زما په خیال

---

* _ ناسک له بمبی څخه ۱۱۷ میله لیري د ګوداوري متبرک رود پر غاړه ودان ښار دی، له ټپسنه څخه ۵ میله لیري دی، هندوان وایي د ګوداوري د رود او ګنګا سرچینه یوه ده ګنګاسر پر مځکه بهیږي او ګوداوري تر مځکي لاندي راځي او دلته ښکاره کیږي چي د هندوانو اوتار رام چندر دلته ریاضت ګاله، نو ناسک یې ځکه بولي چي لچهمني دلته د سُرنپاک پزه وریږې کړې وه، ناسک د بحر له غاړي ٦۰ میله لیري دی.

دېرشو کالو ته رسېدی، خورا بد حال يې وُ او ډېر غمجمن ښکارېدی.

د اردو ژبي مشهور شاعر اسدالله غالب (۱۲۱۲ _ ۱۲۸۵ هـ ق) په يوه خط کي په ۱۲۷۸ هـ ق کال (۱۸٦۲ ع) د لوهار و نواب علاء الدين خان علايي ته کښلي دي :-

"مجھ کو رشک ھی جزيره نشينوں کی حال پر عموماً اور رئيس فرخ آباد پر خصوصاً که جهاز سی اتر کر سرزمين عرب ميں چھورديا اها ها ها !"

ژباړه :-

"زما د جزيرو په ټولو اسېدونکو په تېره بيا د فرخ آباد په نواب کست کيږي، چي له جهازه يې د عربو پر مځکه خوشي کړ. هی هی هی هی !"

بيت :-

گر پړي بيـــــمار تو کوي نهو بيـــــمار دار
اور اگر مرجائيې تو نوحه خوان کويي نهو[۵]

(وګورئ د اردو مجلې ۴۱۱ مخ)

---

[۵] په اصل کي د دې بيت شروع داسي سوېده : "پړي گر" گر تر پړې، ځکه وړاندي کړ چي دغه بيت په رمل مثمن مخذوف بحر کي ويل سوی دی او گر پړي يې د فاعلاتون پر وزن برابرېږي نه پړې گر او که "پړې گرې" ووايو نو د متفعلن پر وزن برابرېږي.

# نواب سخاوت حسین خان

**نواب سخاوت حسین خان د نواب تفضل حسین خان ورور ؤ، د ۱۲۷۳ ه ق کال په انقلاب کي د لاس لرلو په جرم د انگرېزانو له خوا د ۱۲۸۰ ه ق کال د لومړی خور (ربیع الاول) په نه ویشتمه ورځ (۱۳ سپتمبر ۱۸٦۳ ع) په فتح گړه کي په دار کړه سو، د اردو ژبي شاعر منشي اسماعیل حسین منیر شکوه آبادي د ده په مرثیه کي ویلي دي :-**

ریاض خلق سخاوت حسین خان نواب
نهال باغ کرم، زیب مسند شوکت
جوان قابل و فرزند خاص نصرت جنگ (؟)[1]
غلام آل نبی قمر طلعت
سخاوت اور مروت میں بی نظیر جهان
ریاست اور امارت کیو اسطی زینت
هر ایک دل میں جگه اس کی جان سی بڑهگ کر
هر اک زبان پر اس کا وظیفه و درجت

زمانه اس کی مروت پر اس طرح شیدا
مشام روح هو، جس طرح عاشق نکهت

---

[1] د "منیر" په مرثیه کي نواب سخاوت حسین خان د نصرت جنگ زوی ښوول سوی دی مگر په مجاهد شعراء کي د ده د ورور تفضل حسین خان د پلار خطاب عنایت جنگ ضبط دی.

وه بې گناه هــــوا تیغ مـــــــرگ سی مقتول
عنایت اس کــو کـــیا حــــق نې گلشن جنت
"مــنـیر"[۲] نې یه کـــهی اس کی قـــتل کی تاریخ
هوا شـــهید امیر و اســــیر باهــــمت (؟)

[۲] د مین پورې د شکوه آباد اوسېدونکی شاعر د سیداحمدشاه زوی (۱۲۵۰ هـ ق مړ) سید اسماعیل (۱۲۹۷ هـ ق مړ) چې په منیر شکوه آبادي مشهور دی د نواب تجمل حسین خان په دربار کې څه وخت اوسېدلی دی، ۳۰۵ مخ نقوش آپ بیتی.
منیر شکوه آبادي د اشک "لکهنوي" شاگرد و، ۱۹٦ مخ نقوش آب بیتي. د منیر شکوه آبادي او فرخ آباد په باب د "غدر کي چند علماء" په ٦۱ مخ کې لوی بحث ستهٔ.
د ۱۸۵۸ د اپریل پر شلمه چې انگرېزي پوځو د جنرل وائټ لاک په مشرې مانړه ونیول میرزا ولایت حسین او منیر فرخ آباد ته رارهي سول د فرخ اباد نواب چې ونیول سو، دوی یې هم په لار کې بندیان کړل. ۳۰٦ مخ نقوش آب بیتي.
شکوه آباد په مین پوري کې د یوه ځای نوم دی. ۳۰۳ مخ نقوش آب بیتي.
د منیر پلار احمد حسین و چې په ۱۲۵۰ هـ ق کال په شکوه آباد کې مړ سو، د منیر د دېوان لومړی ټوک منتخب العالم، دوهم تنویرالاشعار، درېیم نظم منیر نومېږي، چې په ۱۲٦۴ هـ ق، ۱۲۷۰ هـ ق، ۱۲۹۰ هـ ق کلو کې ترتیب سوي دي. منیر په ۱۸٦۰ کې له بنده خلاص سو.

فــــرخ اباد اور یاران شفـــــیق
چُهنټ گس سبب گردش تقدیر هی
آیی مـــانده میں مقیدهم کی هم
سبوطرح کی ذلت و تحـــقیر هی

# نواب غضنفر حسین خان

نواب غضنفر حسین خان د نواب شوکت جنگ علي حسین خان بنگښ زوی ؤ. نواب شوکت جنگ د مولوي عبدالحق گوپاموی شاگرد ؤ.

د سیرت فرخ آباد په ۴۰۸ مخ کي کښلي دي :-

"د نواب غضنفر حسین خان خطاب هزبر جنگ ؤ، شاعران یې نازول، پخپله هم شاعر ؤ، "سعید" یې تخلص دی".

د منشي الطاف الرحمن فرخ آبادي د بیاض په ۱۵۱ مخ کي دغه رباعي د ده په نامه کښلې ده :-

نه تړپاودل کو یه مجبور هی
محبت سی تیری یه دل چور هی
"سعید" اپنی مرضی بهلاکب چلی
وه سنتا نهیں میری، مغرور هی

نواب هزبرجنگ غضنفر حسین خان چي د فتح گړهـ په جنگ کي د اشتراک په جرم او د آزادۍ په جنگ کي د انگریزانو په دښمني تور ؤ، د ۱۲۸۰ هـ ق کال د رجب په دوهمه روځ (۱۳ دسمبر ۱۸٦۳ ع) په فرخ آباد کي پرنگیانو په دار کړ، د اردو ژبي شاعر منیر شکوه آبادي د ده د شهیدولو تاریخ داسي کښلی دی :-

"اقبالمندخان" و "غضنفر حسین خان"
دونون دُر محیط عطا آه، آه های

دونون جوان نیک، امیران ذی حشم
مقتول تیغ تیر قضا آه، آه های
تاریخ اس کی قتل کی کافی هی ای "منیر" !
"دونون شهید راه خدا آه، آه های" [1]

۱۲۸۰

نواب غضنفر حسین خان هزبرجنگ خورا زړه ور سړی و، په "۱۸۵۷ کې مجاهد شعراء" کې امداد صابري کښلي دي : د ۱۸۵۷ ع کال په لومړیو روځو کې (چې د انقلاب نخښې لا نه وې ښکاره سوي) یو سهار، د فرخ آباد کلکټر چې "لندسی" نومېدی د نواب غضنفر حسین هزبرجنګ کره ورغی، نواب په عبادت بوخت ؤ، د کلکټر څه پروا یې ونکړه، انګرېز کلکټر ته قهر ورغی او څه ناوړه خبري یې وکړلې.

نواب صاحب چې له عبادته وزګار سو، خپلو نوکرانو ته یې وویل :-

" د دغه لنګور خولی څني وغورځوئ، تر غوږ یې ونیسئ او له کوره یې وباسئ !"

نوکرانو د نواب صاحب حکم پر ځای کړ او هغه انګرېز کلکټر یې (چې د ټولي سیمي حاکم و) تر غوږ نیولی، لڅ سر له کوره وایستی[2].

---

[1] د ۱۸۵۷ کې د مجاهد شعراء په ۲۵۰ مخ کې د نواب غضنفر حسین خان تر عکس لاندې د ده د شهادت کال ۱۸۶۳ ع او په ۳۶۹ مخ کې ۱۸۶۲ ع کښلی دی، مګر د منیر شکوه آبادي قطعه د ۱۸۶۳ ع کال تائید کوي.

[2] وګ : ۱۸۵۷ کی مجاهد شعراء، ۲۵۰ مخ.

# نواب اقبال مند خان

نواب اقبالمند خان هم د فتح ګړه په جنګ کي د اشتراک په جرم او د ۱۸۵۷ کال په انقلاب کي د انګرېزانو په دښمني تور و، ځکه يې نو په ۱۲۸۰ هـ ق کال (۱۸٦۳ ع) په فرخ آباد کي په دار کړ.

د مجاهد شعراء په ۳٦۹ مخ کي کښلي دي: نواب اقبالمند خان چي يې د فرخ آباد په سرکاري مکتب کي په دار ځړاوه، اول يې د ده درست بدن د سُوَر (خوګ) په وازګه ورغوړ کړ بيا يې نو په غاړه کي رسۍ ورواچوله او پورته يې کړ.

د دې شهيد د شهادت تاريخ منير شکوه آبادي په هغه قطعه کي ويلی دی چي د نواب غضنفر حسين خان د شهادت په بيان کي تاسي ولوسته، او "دونون شهيد راه خدا آه، آه هاى = ۱۲۸۰" يې تاريخي ماده ده.

# ناصر خان بنګښ

ناصر خان بنګښ د فرخ آباد اوسېدونکی د قاسم خان زوی او د نـواب قاسم علي خان زوم ؤ، په پارسي ژبه يې شعر وايه، ناصر يې تخلص و د ليلـی او مجنون منظومه قصه يې ډېره مشهوره ده.

ناصر خان د فتح ګړه په جنګ کي د غازيانو د يوې ډلـي مشرتوب پـر غاړه و او په ډېره مړانه وجنګېد.

د فرخ آبـاد پـه جـنګ کـي يـې هـم پـه ډېـر جـوش و خـروش سـره د انګرېزانو مقابله وکړه.

